


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه:

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم : غربي گلونه شرقي لمني

لیکوال :عبدالباري جهاني

خپرندوی : نارنج خپرندویه ټولنه

دچاپ نېټه............ :

تیراژ ۱۰۰۰ ټوکه

کمپوز : نارنج کمپیوتر اداره، کندهار

دخپرولو لړۍ :۹

د غربي گلونه شرقي لمني د کتاب د چاپ ټوله حقوق د خپروونکي او د انلائن حق ئې یوا ځي د بېنوا پاڼي سره محفوظ دي، نوري ویب پاڼي ددې کتاب شعرونه د ماخذ په ښوولو کاپي کولای شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سریزي پر ځای

زیات و کم درې کاله مخکې مې د کوټې په ښار کې د پښتو ژبې د خوږ ژبي شاعر عبیدالله درویش سره قدم واهه، چې د خبرو په ترځ کې یې راته وویل چې که زه د انګلیسي ژبې شعرونه منظوم ترجمه کړم دا به مې لوی کار کړی وي. زه نه پوهېږم چې ښاغلي درویش، چې زه یې له شعرونو او کلام سره خاصه علاقه لرم، ولې دا خبره ماته وکړه. زه یقین لرم چې هغوی پخپله هم دا کار کولای سوای، ځکه چې انګلیسي ژبه یې زده او د پښتو ژبې لوی شاعر دی. په هر صورت ما په دې باره کې نور فکر نه دی کړی، ښایي هغوی به پر ما باندې دا پېرزوینه درلوده او یا به یې ښایي زه ځکه د دې کار اهل بللی یم چې له راډیو څخه یې زما ځیني منظومې ترجمې اورېدلې وې. کله چې بیرته امریکا ته راغلم نو مې دې ترجمو ته مخه کړه.

په لومړي سر کې مې مرحوم حبیب الله تږي ته خپلې یو څو ترجمې وروښوولې او له هغه څخه مې دا پوښتنه وکړه چې دا کار په کولو ارزي او که زه هسې خپله انرژي مصرفوم. تږي صاحب راته وویل چې که ده منظومې ترجمې کولای سوای نو په ژوند کې به یې بل هیڅ کار نه وای کړی او که زه چیري دې ترجمو ته دوام ورکولای سم نو باید چې خپل وس په هیڅ توګه دریغ نه کړم.

زه دې خبرې ته متوجه سوم چې اصلاً د پښتو ادب په ساحه کې هر ډول ترجمه ځکه ګټوره ده چې په دې ژبه کې تر هر څه زیات د ترجمې کمبود دی. دې ټکي ته زموږ لیکوالانو ډېره لږه توجه کړې ده او د دې بې غورۍ څخه د ادبیاتو قلمرو مستثنٌی نه دی پاته سوی. ما د لس هاوو انګلیسي ژبو شاعرانو په سل هاوو شعرونه سره واړول او هر شعر چې مې په نظر په زړه پوري راتلی او زما قضاوت به ویل چې د لوستونکو او اورېدونکو د علاقې وړ به وي، هغه به مې ترجمه کاوه او یوه ورځ متوجه سوم چې دا ترجمې زیاتي سوي او یو کتاب ورڅخه جوړ سوی دی، نو ځکه مې د چاپ تکل وکړ. که دا ترجمې، لکه زما قضاوت چې حکم کوي، په ریشتیا هم د لوستونکو د علاقې وړ وګرځېدلې نو په راتلونکي کې به، که خدای ﷻ کول، نورو ترجمو ته مخه کړم.

یو شی چې په غربي شعرونو او لیکنو کې زما خوښېږي، هغه د شاعرانو او لیکوالانو د موضوعاتو پرېماني ده. که یې عشقي شعرونه دي، که اجتماعي او که حماسي رنګ لري، ټول د موضوعاتو د انتخاب له پلوه دونه غني دي چې ګواکې په میلیونو شعرونو کې یې دوه په یوه رنګ نسته. د بلې خوا د مفاهیمو د افادې دپاره یې کلمات او ترکیبونه زموږ سره ډېر توپیر لري، او که تر دې دواړو خبرو راتېر سو نو د هغو شاعرانو او لیکوالانو دپاره چې یا یې انګلیسي ادبیات له سره کتلي نه دي او یا په انګلیسي ژبه ښخې نه پوهېږي نو د بېګانه ژبې د شاعرانو سره اشنا کېدل او د هغوی د کلام منظومې ترجمې لوستل ډېر بې ګټې کار نه دی.

زما په خپله عقیده، د مثال په توګه، د ویلیم شکسپیر د "خواږه دروغ" په نوم شعر، د ډي ایچ لارنس د "مار" په نوم شعر، د تامس هارډي د "آه ته زما قبر کینې؟" په نوم شعرونه او داسي نور په سل هاوو شعرونه هر یو په څو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو واره لوستلو او اورېدلو ارزي. کله چي د تامس پرينګل د "ليري په دښت کي" په نوم شعر لولو بالکل زموږ خپله کيسه ده، خو په هغو کلماتو او هغي طرحي چي د خپلو شاعرانو او ليکوالانو څخه مو نه ده اورېدلې، او يا د انګليسي ژبي د تر ټولو مشهور شاعر ويليم شکسپېر دا کلام:

ته د دوبي روڼه ورځ يې؟ زه دا څنګه سم منلای

ستا ښکلا تر هغې زياته تا ته نه سي رسېدلای

رژوي يې توند بادونه په ښاخلو کي سره ګلونه

ورپسې د ژمي شپې وي سپيني واوري غرونه

کله کله د لمر سترګه لکه اور داسي لګېږي

د اسمان لمن توده سي سرې لمبې ورنه اورېږي

ښه موسم له ياده وزي په سړي پوري ورځ اور سي

مځکه داسي سره تبې سي چي دي زړه له ګرمۍ تور سي

خو ستا دوبی دايمي دی په هيڅ وخت نه خزانېږي

چي ښکلا ده خدای درکړې نه ورکېږي نه کمېږي

نه پر تا يې کېږي سيوری نه مرګ لاپې سي کولای

د وختونو په کوګل کي ستا جلوه نه سي وژلای

چي تر څو انسان ژوندی وي چي يې سترګي سي ليدلای

دا به ژوند بخښي و تا ته ستا نوم نه سي ورکېدلای

د لارنس ډنبار "درنه ونه" په نوم شعر کي په ډېر قوت د اجتماعي بې عدالتۍ څخه پرده پورته کوي او داسي ښکاري لکه زموږ د وطن کيسه چي راته کوي. همدغه شاعر په "خولګۍ راکه شل کلني" په نوم شعر کي په دومره ساده کلماتو دونه اورنۍ مينه افاده کړې ده چي په بار بار لوستلو ارزي.

په لومړي سر کي مي مي غوښتل چي د انګليسي ژبي صوفيانه شعرونه په جلا توګه ترجمه کړم او ضمناً يې د پښتو او فارسي ژبي له تصوفي کلام سره مقايسه کړم خو وروسته مي فيصله وکړه چي د نورو انګليسي شعرونو سره يې په يوه مجموعه کي چاپ کړم. پرېږده چي د صوفيانه کلام شوقمن کسان خپل د خوښي مضامين پخپله پکښي پيدا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او انتخاب کړي. د الفرېډ لارډ، ت"ګول هغه دی"، په نوم شعر کي وحدت الوجود په دونه ښایسته او ساده کلماتو افاده سوی دی چي سړی یې ښېخي ترجمه ګڼلای نه سي:

دغه ستوري دغه مځکه اسمانونه

دا بې شمېره انسانان او بېل رنګونه

ټولي نښي هسي نه درته ښکارېږي؟

چي له ده یې ته بېل سوی نور ښېلېږي

چي نړۍ ټوله تیاره په مخ کي ستا ده

ته علت یې او دا ټوله ستا خطا ده

دا هم ته یې د هغه اراده نه ده

ځانته ځان وایې او وایې چي دا زما ده

دا په خپله لویي ځومره ډېر خوښېږي

موجود نه یې او په خپل وجود نازېږي

د همدې لویی له لاسه تباه کېږي

بې خبره به تیاره کندي ته لوېږي

دغه راز په "نیروانا"، "برهما"، "جانان زما زه د جانان یم" او نورو شعرونو کي غربي تصوف هغه مفاهیم راوړي چي زموږ غوږونه، کلونه کلونه، یوازي په شرقي ادبیاتو کي ورسره اشنا وه. په هر صورت زه به خپل لوستونکي د غونډ متن لوستلو ته راوبولم او یقین لرم چي له لوستلو به یې ستړي نه سي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راځه مرګيه

ويليم شکسپېر:

راځه مرګيه انتظار دي يمه

راوړه تابوت سترګي پر لار دي يمه

وروستی نفسه ژر مي پرېږده بدن!

ماته نصيب دی راګنډلی کفن

زه يم وژلی يوې ښکلي نجلۍ

يوې ظالمي نازولي نجلۍ

په سپين کفن مي کی دوستانو راځئ

وروستي ديدن ته مي يارانو راځئ

هيڅوك به زما په شاني نه وي تيار

داسي به نه وي د مرګي انتظار

چي تور تابوت ته مي درېږي ياران

هلته جوړ نه کي د ګلونو باران

نه دي سلام وايي څوك زما پر مړي

نه هديرې ته دي را درومي دوستان

پرېږدئ زرګوني اوښکي وسپمېږي

ښه دی چي زما پر قبر نه تويېږي

ما يوه ليري هديره کي ښخ کئ

پټ مي يو کونج کي په تياره کي ښخ کئ

چي د هستۍ مي رېښتنی مينه وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي مي سينه کي اورنۍ مينه وه

چي زما په قبر يې خبره نه کړ

چي ورسره مي پخوانۍ مينه وه

چي مي پر قبر اوښکي نه تويوي

چي نوم د ميني مي بيا نه يادوي

William Shakespeare

Come away, come away, death

Come away, come away, death,

And in sad cypress let me be laid,

Fly away, fly away, breath,

I am slain by a fair cruel maid.

My shroud of white, stuck all with yew,

O prepare it;

My part of death no one so true

Did share it.

Not a flower, not a flower sweet,

On my black coffin let there be strown;

Not a friend, not a friend greet

My poor corpse where my bones shall be thrown:

A thousand thousand sighs to save,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Lay me, O, where

Sad true lover never find my grave,

To weep there.

(twelfth night, 11, 4)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خواږه دروغ

ویلیم شکسپیر:

چي زما ګرانه وايي جوړه له ریشتیا یم

سر پر سر لا راته وخوري سوګندونه

زه پوهېږم چي خبري يې دروغ دي

مګر وايم چي منمه دي قولونه

دا مي ګوري د ساده زلمي په سترګه

بېخبره د دنیا له فسادونو

وایم پرېږده چي مي ګرانه زلمی بولي

خو پوهېږم چي دا پوه ده په رازونو

دا پوهېږي چي پر ما عمر تېر سوی

دا پوهېږي چي زه پوخ یم په کلونو

وایم پرېږده خپل دروغ دي راته وايي

ګوزاره ده چي کوو يې له وختونو

دواړه يو بل پټوو حقیقتونه

د ریشتیا پر سر ایږدو دواړه ګامونه

ولي نه وايي چي دا ده بې انصافه؟

ولي نه وايم چي زه په عمر زوړ یم؟

ظاهري باور د میني شېریني ده

له ریشتیا ریشتیا ویلو په زړه سوړ یم

مینه نه شمېري هیڅ وخت د چا کلونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه چې یو له بله پټ مو دي عمرونه

ځکه زه دې ته دروغ وایم دا ماته

سره پوه یو احوال نه وایو بل چا ته

په دروغو یو له بله سره ستایو

سره ګران یو یو د بل په مینه پایو

William Shakespeare

Sonnet 138

When my love swears that she is made of truth,

I do beleeve her, though I know she lyes,

That she might thinks me some untuterd youth,

Unlearned in the worlds false subtilties.

Thus vainly thinking that she thinks me young,

Although she knows my dayes are past the best,

Simply I credit her false speaking tongue,

On both sides thus is simple truth suppress:

But wherefore sayes she not she is unjust?

And wherefore say not I that I am old?

O loves best habit is in seeming trust,

And age in love, loves not t� have yeares told.

Therefore I lye with her, and she with me,

And in our faults by lyes we flattered be.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چي ته ماتم ونه کړې

Shakespear

که زه مړ سوم چي ماتم ونه کې ګراني

زنګولې به د غم واورې چي شرنګېږي

وايه خلکو ته چي ګران مي تښتېدلی

د وحشي چينجيو غېږه کي اوسېږي

ورته وايه دا د شر جهان يې پرېښود

سر يې ليري پر يو بټي بيابان کښېښود

چي دا کرښي کله لولې ما ياد نه کې

چي پر ما باندي د زړه تر سر يې ګرانه

هسي نه چي در شريك سم په خيالونو

ستا غمګين زړګی مي زړه چوي جانانه

چي دا کرښي کله لولې راته ګراني

زه به مړ يم زما به خاوري وي هډونه

ګوره نوم چي مي په زړه کي ډېر ياد نه کې

خپله مينه دي که پري زما له ژوندونه

هسي نه چي دي هوښياره نړۍ ګوري

په تندي کي د هجران سوي دردونه

زه به نه يم بېدردان به سره خاندي

زموږ په مينه به کړي ټوکي ريشخندونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Shakespear

Sonnet 71

Noe longer mourne for me when I am dead,
Then you shall heare the surly sullen bell
Give warning to the world that I am fled
From this vile world with vildest wormes to dwell:
Nay if you read this line, remember not,
The hand that writ it; for I love you so,
That I in your sweet thoughts would be forgot,
If thinking on me then should make you woe.
O if (I say) you look upon this verse,
When I (perhaps) compounded am with clay,
Do not so much as my poore name reherse,
But let your love even with my life decay.
Least the wise world should looke into your mone,
And mocke you with me after I am gon.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تل ژوندی پاته سه

Shakespeare

ګوره پرې نه ږدې د ظالم ژمي زیږه لاسونه

په پسرلي کې د ځوانۍ دې کړي خزان ګلونه

مخکې له دې چې یې تباه کړې د ښایست خزانه

د دې اصیلو مرغلرو دې کړه جوړ لاړونه

ناروا نه ده داسې ګټه د عالم په کتاب

چې کړي خوشاله د ژوندون د پوروړو زړونه

چې دې له ځانه کړې پیدا ستا په څېر بله ښکلې

چې یو په لسه یې تر تا وي د ښکلا نازونه

چې دې لس چنده وي تر ځان لا زېږولې ښکلې

ووایه څه به دې په ژوند کې وي د مرګ غمونه

چې د مرګي په غېږ کې پټې کړې له ژونده سترګې

او پر هینداره دې پرې اېښې وي ژوندي عکسونه

ښایستې ولې به بېربېږې د مرګي له څپې

چې له ښکلا دې ځلولې وي دا ورانه خونه

ګوره پر خپل ښایست میني سر زوري ونه کړې

چې د مرګي حملو ته پرې نه ږدې د ژوند کلونه

نه چې ښکلا دې د مرګي په جنګ کې و پرزېږي

د ګور چینجیو ته دې تېوله میراث ورسېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Shakespeare

Then let not winter�s ragged hand deface

In thee thy summer, ere thou be distill�d:

Make sweet some vial; treasure thou some place

With beauty�s treasure, ere it be self-kill�d.

That use is not forbidden usury,

Which happies those that pay the willing loan;

That�s for thyself to breed another thee,

Or ten times thyself were happier than thou art,

If ten of thine ten times refigured thee:

Then what could death do, if thou shouldst depart,

Leaving thee living in posterity?

Be not self-will�d, for thou art much too fair

To be death�s conquest and make worms thine heir.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ته او د دوبي ورځ

William Shakespeare

ته د دوبي روښه ورځ يې زه دا څنګه سم منلای؟

ستا ښکلا تر هغې زياته تا ته نه سي رسېدلای

رژوي يې توند بادونه په ښاخلو کي سره ګلونه

ورپسې د ژمي شپې وي سپيني واوري غرونه

کله کله د لمر سترګه لکه اور داسي لګېږي

د آسمان لمن توده سي سرې لمبې ورنه اورېږي

ښه موسم له ياده وزي په سړې پوري ورځ اور سي

مځکه داسي سره تبې سي چي دي زړه له ګرمۍ تور سي

خو ستا دوبی دايمي دی په هيڅ وخت نه خزانېږي

چي ښکلا ده خدای درکړې نه ورکېږي نه کمېږي

نه پر تا يې کېږي سيوری نه مرګ لاپې سي کولای

د وختونو په کوګل کي ستا جلوه نه سي وژلای

چي تر څو انسان ژوندی وي چي يې سترګي سي ليدلای

دا به ژوند بخښي و تا ته ستا نوم نه سي ورکېدلای

William Shakespeare

XVlll.

Shall I compare thee to a summer�s day?

Thou art more lovely and more temperate:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Rough winds do shake the darling buds of May,

And summer�s lease hath all too short a date:

Sometimes too hot the eye of heaven shines,

And often is his gold complexion dimm�d;

And every fair from fair sometime decline,

By chance or nature�s changing course untrimm�d;

But thy eternal summer shall not fade

Nor lose possession of that fair thou owest;

Nor shall death brag thou wander�st in his shade,

When in eternal lines to time thou growest:

So long as men can breath or eyes can see,

So long lives this and this gives life to thee.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اورفیوس*

William Shakespeare

اورفیوس چي شپېلۍ سره کړه او پیدا یې کړلې وني

لویو غرونو ته یې ورکړې ښایستې څوکې واورینې

پر سجده سول ټول سرونه چي نغمه یې ږغوله

کړېدلې ورته وني هم ښایسته تازه ګلونه

وریځو جوړ کړل بارانونه لمر راپورته پر اسمان سو

دایمي سپرلی یې جوړ کړ سره ور یې کړل لاسونه

چي یې ږغ د ده تر غوږ سو په سندرو په نڅا سوه

په څپو د سمندر کي یوه نوې ساه پیدا سوه

د دریاب سینې کړل پورته لوی موجونه لکه غرونه

بیرته کښته سول سینې ته ټول واړه او لوی موجونه

داسي ژوند یې کړ په زړو کي داسي مستي یې نغمې کړې

چي خاموشي یې پر مځکه د مرګي او غم نارې کړې

*اورفیوس د یونان او روم په افسانو کي د لمر، ښایست او میوزیك د خدای اپولو زوی دی.

William Shakespeare 1564-1616

Orpheus

?or John Fletcher

ORPEHEUS with his lute made trees

And the mountain tops that freeze

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Bow themselves when he did sing :
To his music plants and flowers
Ever sprung; as sun and showers
There had made a lasting spring.

Every thing that heard him play,
Even the billows of the sea,
Hung their heads and then lay by.
In sweet music is such art,
Killing care and grief of heart
Fall asleep, or hearing, die.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډاډگيرنه

William Shakespeare

چي خپل قسمت او دا وګړي مي په سپکه ګوري

په زوره ساندي کړم چي ځان داسي پردی وونيم

په سوو چيغو ور کاږه کم د آسمان غوږونه

لعنت پر وايمه چي خپل نصيب ګونګی ووينم

وايمه خدايه کشکي ما هم بنګلې لرلای

ما هم په ژوند کي د دوستانو قافلې لرلای

کشکي دي ما ته هم راکړي وای هنر او هستي

ما هم د عمر مستي ورځي خوږې شپې لرلای

خو لا هنوز يم د نفرت په دي فکرونو کي ډوب

چي يو ځل ته سې را په ياد بيا مي خپل ځان ته ګورم

لکه بلبله د سهار سندري وپاخوم

له خړي مځکي ښخه الوزم آسمان ته ګورم

چي ستا په شان ښکلې لرمه نور جهان څه کوم

چي دا دولت دی راسره تخت د سلطان څه کوم

W. Shakespeare

A Consolation

WHEN in disgrace with fortune and men�s eyes

I all alone beweep my outcast state,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And trouble deaf heaven with my bootless cries,

And look upon myself, and curse my face,

Wishing me like to one more rich in hope,

Featured like him, like him with friends possest,

Desiring this man�s art, and that man�s scope,

With what I most enjoy contented least;

Yet in these thoughts myself almost despising,

Haply I think on thee-and then my state,

Like to the lark at break of day arising

From sullen earth, sings hymns at heaven�s gate;

For thy sweet love remember�d, such wealth brings

That then I scorn to change my state with kings.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آ زما ګراني

O my Beloved

William Shakespeare

زما ګراني چېرته لالهانده ګرځې

لږه دمه سه چي مين دي راځي

هغه پر تا باندي رينښتوني عاشق

هغه د ميني هيله مين دي راځي

درته راځي ستا د ښکلا خريدار

ښايستې ورو ورو قدمونه واخله

هغه دی ستا په نوم سندري وايي

لږ په مداره دي ګامونه واخله

د هر سفر په پای کي دوه مينان

ورانوي کور د بېلتانه او هجران

ګراني پوهېږې مينه څه ته وايي

پرېږده چي هر څه وي هغه ته وايي

راځه دا نن به په خندا تېروو

پرېږده سبا هغه سبا تېروو

څوك په خبر دي سبا څه پېښېږي

نن په خوښي تېرېږي ښه تېرېږي

سبا تر اوسه چا ليدلی نه دی

د انتظار خير يې کتلی نه دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسه په غېږ کي شل کلني نجلۍ

راسه چي مچ دي کمه سپينه خولګۍ

ګراني لنډي دي د ځوانۍ کلونه

راسه چي وباسو له زړو غمونه

W. Shakespeare (1564-1616)

O Mistres Mine Where are you Roming?

O Mistres mine where are you roming?
O stay and heare, your true loues coming,
That can sing both high and low.
Trip no further prettie sweeting.
Iourneys end in louers meeting,
Euery wise mans sonne doth know.
what is loue, tis not heereafter,
present mirth, hath present laughter:
What�s to come, is still vnsure.
In delay there lies no plentie,
then come kisse me sweet and twentie:
Youths a stuffe will not endure.

Notes

1} The clown�s response to Sir Toby�s request for a love song.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## برى تر هر څه خوږ وي

Emily Dickenson

برى هغوى ته تر هر څه خوږ وي
چا ته چي ژوند کي نه ور ورسېږي
هغوى پوهېږي چي عسل څه دي
چي يې له ستوني زهر څڅېږي
چا چي گټلى د جنگ ميدان وي
بيرغ په لاس کي کور ته روان وي
هم يې مات کړي غليم پوځونه
هم يې غوڅ کړي زلمي سرونه
هم يې سوځلي کلي کورونه
هم يې وران کړي پردي ښارونه
سم نه پوهېږي چي برى څه دى
نه يې په ياد دى نه يې په زړه دى
څوک چي مات سوى پر ميدان پروت دى
په زړه خوږمن دى زخمي تن پروت دى
ستونى يې وچ دى نفس يې خېژي
پرهار پرهار يې ټوله بدن دى
نه څوک خواخوږى نه يې څوک ويني
نه څوک حاضر يې پر زکندن دى
هغه پوهېږي چي برى څه دى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته ښکاري چي برى ښه دى

هغه چي اوري ږغ د ډولونو

د پردى فتحي پردي توپونه

د مرگ پر پولو مړ ژواندى پروت وي

ږوږ يې رسېږي تر مړو غوږونو

واك يې پردى وي د زلمي موټو

اور يې سرېږي د سرو رگونو

Emily Dickinson (1830-86)

Success is counted Sweetest

SUCCESS is countes sweetest

By those who ne�er succeed.

To comprehend a nectar

Requires sorest need.

Not one of all the purple host

Who took the flag to-day

Can tell the definition,

So clear, of victory,

As he, defeated, dying,

On whose forbidden ear

The distant strains of triumph

break, agonized and clear.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه مرگ ته تمېدلای نه سوای

Emily Dickinson

ځکه مرگ سو مهربانه ماته تم سو

زه د ده دپاره نه سوای تمېدلای

زه او دی او بقا درې واړه روان سوو

په گاډۍ کي بل څوك نه سو ځايېدلای

په کراره مو گاډۍ کړله روانه

په تلوار تلوار مو نه وهل مزلونه

زه د ده ادب مجبوره کړم چي پرېږدم

هم خوبونه د آرام هم سخت کارونه

ښوونځي د ماشومانو څخه تېر سوو

لا لگيا وه په درسونو کتابونو

له شنو مځکو کروندو څخه راتېر سوو

لمر لا پټ نه وو تر شا د لويو غرونو

موږ د هغه کور له مخي سره تم سوو

لکه مځکه ځای پر ځای وي پړسېدلې

نه يې چت معلومېدی تر خاورو لاندي

نه تصوير نه کټاري يې ښکارېدلې

له هغې ورځي پېړۍ دي تېري سوي

خو تر ورځي لا هم لنډې راته ښکاري

چي سرونه مي ليدلي د آسونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي روان وه د بقا پر اوږدې لارې

Emily Dickinson

Because I Could Not Stop for Death

Because I could not stop for death

He kindly stopped for me

The Carriage held but just Ourselves

And Immortality

We slowly drove � He knew no haste

And I had put away

My labor and my leisure too,

For his Civility

We passed the school, where children strove

At Recess�in the Ring

We passed the fields of Gazing Grain

We passed the setting Sun

Or rather -- He passed us

The Dews drew quivering and chill

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



For only Gossamer, my Gown

My Tipper -- only Tulle

We paused before a House that seemed

A Swelling of the Ground

The Roof was scarcely visible

The Cornice -- in the Ground

Since then -- 'tis Centuries -- and yet

Feels shorter than the Day

I first surmised the Houses' Heads

Were toward Eternity

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپه

William Blake

ژړی لمر چي د مغرب غېږي ته لوېږي

د ماښام ستوري راخېژي او ځلېږي

مرغکۍ سي په ځاليو کي کراري

زما د خپلي آشيانې وخت را رسېږي

سپوږمۍ هم لکه گېډۍ د سپينو گلو

د آسمان پر سينه غوږشکه را څرېږي

لکه ناوې له خاموشي خوښۍ ډکه

په تياره کي را روانه وي مسېږي

خدای مو مل سه له خوښۍ ډکو کښتونو

د پسونو چي رمې پکښي پنډېږي

نازك وري چي په ورو ورو وهي شخوندونه

چي پاپۍ د فرشتو باندي تېرېږي

اوروي برکتونه نعمتونه

نه وجود نه يې اثر چاته ښکارېږي

پر غوټيو شگوفو او پر گلونو

او پر ټولو چي بيده دي په خوبونو

تر نظر يې لاندي کړي ځالگۍ دي

چي تودې پکښي اوښتي مرغکۍ دي

لټوي د حيواناتو پټ غارونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترېنه ګرځوي بلاوي آفتونه

نيمه شپه چي ټول ويده وي په خوبونو

که څوک وينې وي او يا ژاړي له دردونو

دوی ورځغلي د خوږمنو تر کورونو

د سکون پټۍ يې کښېږدي پر زخمونو

چي لېوان پرانګان د ښکار په انګولا سي

دا زړه سواندي په اسمان کي په ژړا سي

چي يې وباسي د ښکار تنده له زړونو

چي يې ليري کړي له ډلو د پسونو

خو چي کله سي وحشي لېوان خروړي

په منګول کي چي مظلوم پسونه مروړي

فرشتې وي په کتار ورته ولاړي

په اسمان کي له يوې تر بلي غاړي

په احتياط يې وړي ځولۍ د ارواحونو

کوز له مځکي پاس تر لوړو اسمانونو

هغه ځای کي زمری سرې سترګي ژړېږي

پر ژړ مخ يې د طلا اوښکي بهېږي

زړه يې سوځي پر نارو د مظلومانو

شاوخوا به پر رمو ګرځي د وريانو

دوی به وايي د خالق له برکته

قهر مات سو له نامه د شفقته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغي يې ده شړلې زموږ له ځانه

روغ به ګرځو په جهان کې تر قيامته

نور به نه کوي فرياد رمې د وريو

او له ښنګه به پرېوزي د زمريو

له زمري سره به غم وي د پسونو

له رمې سره به ګرځي پر دښتونو

ده به ورږ وي پر تندي راپرې ايستلی

په چينه کې د حيات يې وي پرېولی

طلايي ورږ به يې لمر غوندي ځلېږي

له رمې سره په دښت کې به څرېږي

William Black

Night

The sun descending in the west,

The evening stare does shine;

The birds are silent in their nest,

And I must seek for mine.

The moon, like a flower,

In heaven�s high bower,

With silent delight,

Sites and smiles on the night.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Farewell, green fields and happy groves,

Where flocks have took delight,

Where lambs have nibbled, silent moves

The feet of angles bright;

Unseen, they pour blessing,

And joy without ceasing,

On each bud and blossom

And each sleeping bosom.

They look in every thoughtless nest

Where birds are covered warm;

They visit caves of every beast;

To keep them all from harm:

It they see any weeping

That should have been sleeping,

They pour sleep on their head,

And sit down on their bed.

When wolves and tigers howl for prey,

They pitying stand and weep;

Seeking to drive their thirst away,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And keep them from the sheep.

but, if they rush dreadful,

the angles, most headful,

receive each mild spirit,

New worlds to inherit.

And there the lion's ruddy eyes

Shall flow with tears of gold:

And pitying the tender cries,

And walking round the fold:

Saying: 'Warth by His meekness'

And, by his health, sickness,

Is driven away

From our immortal day.

'And now beside thee, bleating lamb,

I can lie down and sleep,

Or think on him who bore thy name,

Graze after thee, and weep.

For, washed in life's river,

My bright name for ever

Shall shine like the gold,

As I guard o'er the fold.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ماشوم سندره

William Blake

وحشي درو کي مي شپېلۍ ږغول

پکښي رواني د مستۍ سندري

پاس مي په وریځ کي یو ماشوم ولیدی

رانه یې غوښتې د خوښۍ سندري

ویل یې واوروه د وري سندره

ماشوم په وېره خوله خندله راته

ما پر شپېلۍ ګوتي راغبرګي کړلې

هغه مي کړل چي ده ویله راته

ما چي سندره په شپېلۍ کي ویل

ماشوم ناري کړې ویل زور ورکه

هغه دا ځل په زوره زوره ژړل

ویل د وري نغمې ته اور ورکه

ماشوم ناري کړې شپېلۍ وغورځوه

زه درنه غواړم د خوښۍ سندري

ما هم په خوله راوړې هغسي نغمې

هغه زما مستي د ځوانۍ سندري

ماشوم له هسك ځخه کتله راته

او په کټ کټ به یې خندله راته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل بينماره يو قلم راواخله

همدا سندره پر کتاب وليکه

داسي يې وليکه چي ټول يې لولي

نغمه نغمه دي پر هر باب وليکه

او دا يې وويل پناه سو ماشوم

په هغه ورېځ کي الونيا سو ماشوم

ما هم له نل څخه قلم جوړ کړ

کتاب ليکلو ته مي چم جوړ کړ

د نل قلم له اوبو رنګ واخيستی

د زړه سندري ته مي زنګ واخيستی

اوس به سندره په مستۍ ولولي

چي هر ماشوم يې په خوښۍ ولولي

## د وري سندره

کوچنی وريه ته چا جوړ کړې

چا ژوندون درکړ چا مړ کړې

اوبوي دي څوك ويالو کي

څوك دي پيايي په دښتو کي

دا جامې دي چا ګنډلي

دا مستی چا در بخښلې

دا پستې جامې وړيني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا روښاني تکي سپيني

دا ستا څه نازك آواز دی

په دښتو کي لکه ساز دی

کوچنی وریه ته چا جوړ کړې

چا ژوندون درکړ چا موړ کړې

کوچنی وریه درته وایم

زه یې تا ته نوم در ښایم

هغه ستا په نوم نومېږي

ځان ته وری وايي پوهېږي

نازولی دی نازك دی

ووړ ماشوم دی ستا وروړك دی

زه ماشوم یمه پوهېږم

وریه ستا په نوم نومېږم

وریه خدای دي نګهبان سه

څه ساتونکی دي سبحان سه

William Blake

A Child Song

Piping down the valley wild

Piping songs of pleasant glee

On a cloud I saw a child.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And he laughing said to me

Pipe a song about a lamb;
So I piped with merry chear,
Piper pipe that song again
So I piped, he wept to hear

Drop thy pipe thy happy pipe
Sing thy songs of happy chear,
So I sung the same again
While he wept with joy to hear

Piper sit thee down and write
In a book that all may read
So he vanish'd from my sight
And pluck'd a hollow reed.
And I made a rural pen,
And I stain'd the water clear,
And I wrote my happy songs
Every child may joy to hear

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



The Lamb

Little lamb who made thee

Dost thou know who made thee

Gave thee life & bid thee feed.

By the stream & o'er the mead;

Gave thee clothing of delight,

Softest clothing wooly bright;

Gave thee such a tender voice,

Making all the vales rejoice!

Little lamb who made thee

Dost thou know who made thee

Little lamb I'll tell thee,

Little lamb I'll tell thee!

He is called by thy name,

For he calls himself a lamb:

He is meek & he is mild,

He became a little child:

I a child & thou a lamb,

We are called by his name.

Little lamb God bless thee.

Little lamb God bless thee.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پړانګ

William Blake

وایه پړانګه چي دوې سترګي دي ځلېږي
د ځنګله په تورو شپو کي چي ښکارېږي
بې زوالو کومو سترګو او لاسونو
در جوړ کړی تناسب د اندامونو
دا کوم ستوري وه له کوم لیري اسمانه
ستا د سترګو چي سوځل پکښې اورونه
کوم وزر دي وه راوړي الهامونه
ستا غوسې دي ازمېیلي کوم لاسونه
څه اوږې وې څه لاسونه څه هنر وو
جوړول چي ستا د زړه یې ټینګ رګونه
په سینه کي چي دي زړه په غورځېدو سو
څه غښتلي دي وې پښې څه مړوندونه
ستا ماغزه کومه کُره کي دي جوړ سوي
څه ځنځیر و څه سوټك څه سامانونه
څه سندان و څه سامان وو چي یې جوړ کړل
ستا منګولي ستا سینه تېره غاښونه
چي نېزې ستورو له لاسه غورځولې
چي له عرشه څخه اوښکي تویېدلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خدای خپلو کارو ته موسکی نه سو

له پسه سره چي ته يې جوړولې

وايه پړانګه چي دوې سترګي دي ځلېږي

د ځنګله په تورو شپو کي چي ښکارېږي

بې زوالو کومو سترګو او لاسونو

در جوړ کړی تناسب د اندامونو

The Tiger

By William Blake

1757-1827

TIGER, tiger, burning bright

In the forests of the night,

What immortal hand or eye

Could frame thy fearful symmetry?

In what distant deeps or skies

Burnt the fire of thine eyes?

On what wings dare he aspire?

What the hand dare seize the fire?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And what shoulder and what arm
Could twist the sinews of thy heart?
And when thy heart began to beat,
What dread hand and what dread feet?

What the hummer? What the chain?
In what furnace was thy brain?
What the anvil? What dread grasp?
Dare its deadly terrors clasp?

When the stars threw down their spears,
And water'd heaven with their tears,
Did He smile his work to see?
Did He who made the lamb make thee?

Tiger, tiger, burning bright
In the forests of the night,
What immortal hand or eye
Dare frame thy fearful symmetry?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنځور گلاب

William Blake

زه دي وينم چي رنځور يې سور گلابه!

ژر به ولوېږي د ژوند له آب و تابه

يو چينجی دی چي په سترگو نه ښکارېږي

نه په شپه کي نه په ورځ کي معلومېږي

خپروي په نيمه شپه کي وزرونه

په توپان کي يې په برخه دي مزلونه

ستا بستر دی دي ظالم چينجي ليدلی

تر غونچې پوري څو ځله درغلی

ستا پر سرو نازکو پاڼو باندي پرېوزي

ستا د زړه ستا د سينې په اوبو کښېوزي

له ښکلا سره دي کړي نامرده مينه

وچوي دي د سينې رنگينه وينه

William Blake

The Sick Rose

O Rose, thou art sick !

The invisible worm

That flies in the night,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



In the howling storm,

Has found out thy bed

Of crimson joy,

And his dark secret love

Does thy life destroy

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زهرو ونه

William Blake

له خپل دوست سره خپه ومه په زړه کي

قهر ختم سو غضب چي مي بيان کړ

خپل دښمن ته چي مي زړه له غصې ډك و

په سل چنده سو لا ډېر چي مي پنهان کړ

د غضب ونه مي وروزل په وېره

ورځ او شپه به مي په اوښکو اوبوله

د دروغو په خندا مي لويوله

په چمونو فرېبونو مي روزله

شپه او ورځ د غضب ونه لويېدله

يوه سره منه يې وکړه معلومداره

ښه پخه سوه ښه تر مراده رسېدلې

د ډېوې په څېر روښانه وه تياره

زما دښمن وربانديي راغی غلی غلی

پوهېدی چي زما منې ته دی راغلی

زما له باغه يې په نيمه شپه کي غلا کړه

و خپل ځان ته يې پردۍ مېوه روا کړه

چي سهار سو زه خوشال سوم ليري غم سو

د دښمن پر کور مي جوړ وير او ماتم سو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه نل هسي و پروت ژړ او زېړبنلی

د منې تر ونې لاندې غځېدلی

William Blake

A Poison Tree

I was angry with my friend:

I told my wrath, my wrath did end.

I was angry with my foe:

I told it not, my wrath did grow.

And I watered it in fears,

Night and morning with my tears;

And I sunned it with smiles,

And with soft deceitful wiles.

And it grew both day and night,

Till it bore an apple bright.

And my foe beheld it shine.

And he knew that it was mine,

And into my garden stole

When the night had veiled the pole;

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



In the morning glad I see

My foe outstretched beneath the tree.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د میني باغ

William Blake

یوه ورځ د میني باغ ته ومه تللی
په کلو چي هلته نه وم ورغلی
داسي څه مي هلته ولیدل یارانو
چي لیدلي مي په ژوند نه وه چشمانو
هغه باغ کي جوړه سوې کلیسا وه
چي به زمور پکښي د میني مشغولا وه
دروازې د کلیسا یې وې تړلي
آیتونه د کتاب باندي لیکلي
بیرته ستون سومه د میني باغ ته ولاړم
ما وې زړه ته به مي هلته سکون غواړم
هغه باغ چي تل به ډك وو له ګلونو
زنګېدی به د زلمیو له ټالونو
په هغه باغ کي مي ولیدل قبرونه
څنګ پر څنګ پکښي جوړ سوي لحدونه
زنګېدې چي پکښي څانګي د ګلونو
باندي شناختي وې ولاړي د قبرونو
ګرځېدل پکښي پادریان چپني توري
په نوبت به راوتل له هره لوري
په اغزیو یې پوښلي کټارې وې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د میني پکښي ښخي چي کیسې وې

William Blake (1757-1827)

The Garden of Love

I went the garden of love,
And saw what I never had seen:
A Chapel was made in the midst,
Where I used to play on the green.

And the gates of this chapel were shut,
And thou shalt not writ over the door;
So I turn'd to the garden of love,
That so many sweet flowers bore,

And I saw it was filled with graves,
And tomb-stones where flower should be:
And Priests in black gowns were walking their rounds,
And binding with briars my joys and desires.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپه تیاره ده

Emily Bronte

د سړې شپې تیارې نیولې یمه

راته را الوزي وحشي بادونه

خو زه ظالم جادو تړلې یمه

زما په اختیار کې نه دي خپل ګامونه

راته کړېږي لویي لویي ونې

په واورو پټ یې دي خالي ښاخونه

توپان په بېړه را روان دی راته

زما په اختیار کې نه دي خپل ګامونه

پر سر مې توري خړې وریځې ګرځي

لاندې بېدیا ده بې پناه دښتونه

له هیڅ خطره خوځېدلای نه سم

زما په اختیار کې نه دي خپل ګامونه

Emily Jane Bronte (1818-1848)

The night is darkening round me,

The night is darkening round me,

The wild winds coldly blow;

But a tyrant spell has bound me,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And I cannot, cannot go.

The giant trees are bending
Their bare boughs weighed with snow;
The storm is fast descending,
And yet I cannot go.

Clouds beyond clouds above me,
Wastes beyond wastes below;
But nothing drear can move me:
I will not, cannot go.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما جواب وکه

Emily Jane Bronte

1822-1848

له ښایستو ځلاندو سترګو دي جواب غواړم جانانه

ته ما ولي انتخاب کړې له دې مځکې تر آسمانه

چې مي عقل مرور سي او په سپکه راته ګوري

او لا خاندي چې محروم سم له ښېګنو د جهانه

تر خوږه ژبه دي جار سم جواب ورکه د سیالانو

ته ما ولي انتخاب کړې له دې مځکې تر آسمانه

چې په ځان مغروره عقل کوي خپل قضاوتونه

او راوړي يې ميدان ته تېره ژبه تېز فکرونه

زما وکیله ستا به ژبه هلته ځنګه ګونګۍ کېږي

نوراني فرشتې ورکه زما د عقل جوابونه

چې مي ولي ستا دپاره ترك وهلی ټول جهان دی

که مي مال دی که مي سر دی هغه ټول تر تا قربان دی

ولي ما د نورو خلکو له سفره ځان ژغورلی

ما جلا لاره اخيستې بېل هدف مي دی ټاکلی

نه په فکر کي د مال يم نه قدرت زړه کي راګرځي

نه عیشونه سره ګلونه، نه جنت مي لټولی

چې یو وخت خلکو بلله د ولیانو زیارتونه

يا يې کله اورېدله زما خواستونه فریادونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي يې وليده دربار کي نذرانه چي ما ور وړې

سپك نظر يې ورته وکړ کم بها وه خيراتونه

د وليانو زيارتونو خدا زده څه راځخه غوښته

زه درويش وم ورغلی زما تحفه وه شنه برګونه

ما په زړه کي سوګند ياد کړ چي په ژوند به بيا را نه سم

نه جنډۍ راننګومه نه د کاڼو جوړ قبرونه

نور مي روح تا ته سپارلی نور به ستا ستاينه کړمه

چي هر ځای مي يې ملګری لکه سيوری پلونه پلونه

هم غلام يې هم ملګری هم پاچا يې ما منلی

زما جانانه درته ښايي دا درې واړه صفتونه

ته غلام زما د قدرت يې اراده لرمه ټينګه

زه دي زور ته ورکومه د نېکۍ بدۍ رنګونه

ته ملګری زما د لارو هم په ورځو هم په شپو کي

زما له تا سره شريك دي د خوښيو ټول رازونه

زما له اوښکو څخه کش کړې د خوښۍ او دعا چيغي

هم مي درد يې هم مي زخم هم کرار کې پرهارونه

خو بيا هم زما د سر تاج يې ته پاچا زړه مي رعيت دی

خو ازل و دې رعيتو ته ښودلی بغاوت دی

نو دا زه يم پر غلطه چي کوم عبادتونه؟

هغه ځای کي چي ايمان ته پاته نه وي ګومانونه

نه اميد له زړونو تښتي او نه هيلي خاوري کېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپل روح مي راته راکړي د غوښتنو جوابونه

د خیالونو خدایه وایه جواب تا ته دی اسانه

ته ما ولي انتخاب کړې له دې مځکي تر اسمانه

Emily Jane Bronte (1818-1848)

Plead for me

OH, thy bright eyes must answer now,
When reason with a scornful brow,
Is mocking at my overthrow!
oh, thy sweet tongue must plead for me
And tell why I have chosen thee !

Stern Reason is to judgment come,
Arrayed in all her forms of gloom:
Wilt thou, my advocate, be dumb?
No, radiant angel, speak and say
Why I did cast the world away

Why I have persevered to shun
The common paths that others run;
And on a strange road journeyed on,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



heedless, alike of wealth and power
Of glory's wreath and pleasure's flower.

These, once, indeed, seemed being Divine;
And they, perchance heard vows of mine
And saw my offering on their shrine;
But careless gifts are seldom prized,
And mine were worthily despised.

So, with ready hearth, I swore
To seek their altar-stone no more;
And gave my spirit to adore
thee, ever-present, phantom thing
my slave, my comrade, and my king.

A slave, because I rule thee still;
Incline thee to my changeful will,
And make the influence good or ill:
A comrade, for by day and night
Thou art my intimate delight

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



My darling pain that wounds and sears

And wrings a blessing out from tears

By deadening me to earthly cares;

And yet, a king, though Prudence well

Have taught thy subject to rebel.

And am I wrong to worship where

Faith cannot doubt, nor hope despair,

Since my own soul can grant my prayer?

Speak, God of visions, plead for me,

And tell why I have chosen thee !

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بندي

Emile Bronte

پرېږده پوه په حقیقت بندېوانان سي

چي زه نه یم سترړی سوی له بندونو

زما د هیلو نیلي نه دي سوځولي

د کلونو زولنو او ځنځیرونو

هره شپه راته د هیلو قاصد راسي

راته راوړي نوي نوي پیغامونه

د لنډي ژوند په بدل کي راته ښیي

تر قیامته آزادي خلاص وزرونه

ورسره وي د سهار د نسیم زېری

ورسره وي د ماښام نازك بادونه

راته ښیي د روښان آسمان په غېږ کي

راڼه ستوري کاروانونه درمندونه

په قدم قدم تازه نسیم روان وي

په اسمان کي وي د ستورو ځراغونه

زما خیالونه پورته کیږي بلوي مي

په زړګي کي د آرزو سوي اورونه

آرزوګاني چي مي نه وي پېژندلي

د پاخه عمر وختونه او کلونه

چي خوښي مي لېونۍ سوه له هیبته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شمېرلو مي د اوښکو د لاړونو

هغه وخت چي مي د روح آسمان را ډك سو

له تودو زرينو وړانګو له موجونو

زه پوه نه سوم چي له کومي لوري راغلل

دا له لمره دي که پاس له توپانونو

خو لومړی يو ځل کراره کراري سي

بې آوازه خاموشي راکښته کيږي

نهيلي لکه تيارې سي داسي پورته

او شېبې د بې صبريو مي ختميږي

يو خاموش ساز مي سينې ته قرار ورکړي

پر زړګي مي د سکون پرده غوړيږي

يو سکون چي ما په خوب نه سو ليدلای

تر څو مځکه مي له سترګو نهامېږي

په تياره کي نا پيدا راڅرګنديږي

ناليدلی حقيقت يې ښکاره کيږي

په بهر کي سم له ځان څخه بېځايه

په سينه کي مي د زړه سترګي رپيږي

زما د روح وزر سي خلاص په الواته سي

خپلي کرښي خپل بندر ته روانېږي

له آسمانه سمندر ته راغوپه سي

د وروستي منزل پرواز لره سمېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په لار کي خطرناك يې دي خنډونه

يو تر بل وربانديې سخت راځي غمونه

چي غوړونه وکي پيل په اورېدلو

او چي سترګو ته څرګند سي واټنونه

چي رګونه مي ورو ورو په خوځېدو سي

چي ماغزو ته مي بيا لاري د فکرو سي

چي مي روح لره احساس وسي د غوښو

چي مي غوښو ته احساس د زولنو سي

نه په زړه کي به مي وېره له لشو وي

نه آرزو به د شکنجو د ختمېدو وي

چي هر څومره پيمانې د درد زياتېږي

نېکمرغي به هومره ژر په رسېدو وي

که په اور د دوږخونو کي وريتېږم

که باغونو د جنت کي هوسېږم

خو چي زېری د مرګي مي ورسره وي

هغه خوب له خدايه بولم په خوښېږم

Emily Bronte

The prisoner

STILL let my tyrants know, I am not doom to wear

Year after year in gloom and desolate despair;

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



A messenger of Hope comes every night to me

And offers for short life, eternal liberty.

He comes with western winds, with evening wandering airs,

With that clear dusk of haven that brings the thickest stars,

Winds take a pensive tone, and stars a tender fire,

And vision rise, and change that kill me with desire.

Desire for nothing known in my maturer years

When joy grew mad with awe, at counting future tears:

when, if my spirit's sky was full of flashes warm,

I knew not whence they came, from sun or thunder-storm.

But first, a hush of peace�a soundless calm descends;

The struggle of distress and fierce impatience ends,

Mute music soothes my breast�unutter'd harmony

That I could never dream, till Earth was lost to me.

Then dawns the invisible; the Unseen its truth reveals;

My outward sense is gone, my inward essence feels;

Its wings are almost free�its home its harbour found,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Measuring the gulf, it stoops, and dares the final found.

O dreadful is the check�intense the agony
When the ear begins to hear, and the eye begins to see
When the puise begins to throb�the brain to think again
The soul to feel the flesh, and the flesh to feel the chain

Yet I would lose no sting, would wish no torture less;
The more that anguish racks, the earlier it will bless;
And robed in fires of hell, or bright with heavenly shine
If it but herald Death, the vision is divine.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مينې ياد

Emily Bronte

په سړه مځکه کې پروت یې تر بړستن د واورو لاندې

لیرې لیرې په سړه شان وېرونکې هدیره کې

رانه هېر مې سولې ګرانه چې مینه وم درباندې

ما شلولي پیوندونه د زمان سړه څپه کې

اوس چې پاته یم یوازې زه پرې اینبې یم یادونو

نه مې خیال پر ساحل ګرځي نه پر لیرې جګو غرونو

د اغزو پر زیړو پاڼو خپروي خپل وزرونه

هغو پاڼو چې یې پټ کړل د همېش دپاره زړونه

په سړه مځکه کې پروت یې دا پنځه لس ژمي تېر سول

واورې ویلې سوې پر څوکو پسرلي درنه چاپېر سول

هغه زړونه وفادار دي چې لا هم ساتي یادونه

د کلونو کړاو تېر سي ور په زړه یې وي خیالونه

که مې هېر کړې ما معاف کړه زما شېرین د ځوانۍ یاره

د زمان موجونه اوړي بدلوي د ژوندون لاره

زه په غېږ کې یم اخیستې نورو هیلو امیدونو

تا ته زخم نه رسېږي زما د ورکو سفرونو

نه مې وړانګې ځلېدلي بیا د مینې په اسمان کې

نه سهار مې بیا لیدلی چې د ژوند کور مې روښان کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د ټول ژوند برکت دی ستا له ژوند څخه راغلی

اوس د ټول ژوند برکت مي ستا لحد ته دی سپارلی

مګر کله چي هلاك سول طلايي رنګين خوبونه

نهيليو تباه نه کړل زما د ژوند لوی اميدونه

نو مي زده کړله چي څنګه زما وجود پاته کېدای سي

بې وصاله بې خوښيه هم غښتلی مړېدای سي

نو مي اوښکو ته ور پام سو له بېځايه کړېدلو

ځوان زړګی مي کړ را صبر ستا په ياد له نولېدلو

پکښې مړه مي کړل اورونه ستا و څنګ ته د ورتللو

ستا په قبر په لحد کي د يو ځای د پرېوتلو

لا مي نور کړ زړه راپورته نور مي هم کړ زړه غښتلی

ستا د ميني له يادونو چي نور نه وي دردېدلی

چي چښلي مي شراب دي د خالق په پيمانه کي

بيا به څنګه ری وهمه په دې تشه زمانه کي

Emily Bronte

Remembrance

Cold in the earth � and the deep snow piled above thee

Far, far removed, cold in the dreary grave!

Have I forgot, my only love, to love thee,

Severed at last by Time's all-severing wave?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Now, when alone, do my thoughts no longer hover
Over the mountains, on that northern shore,
Resting their wings where health and fern leaves cover
Thy noble heart forever, ever more?

Cold in the earth -- and fifteen wild Decembers,
From those brown hills, have melted into spring,
Faithful, indeed, is the spirit that remembers
After such years of change and suffering!

Sweet love of youth, forgive, if I forgot thee,
While the world's tide is bearing me along;
Other desires and other hopes beset me,
Hopes which obscure, but cannot do thee wrong!

No later light has lightened up my heaven,
No second morn has ever shone for me,
All my life's bliss from thy dear life was given,
All my life's bliss is in the grave with thee.

But, when the days of golden dreams had perished,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And even Despair was powerless to destroy,

Then did I learn how existence could be cherished,

strengthened, and fed without the aid of joy.

Then did I check the tears of useless passion

Weaned my young soul from yearning after thine;

Sternly denied its burning wish to hasten

Down to that tomb already more than mine.

And, even yet, I dare not let it languish

Dare not indulge in memory�s rapturous pain;

Once drinking deep of that divinest anguish,

How could I seek the empty world again?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما په روح کي وېره نسته

Emily Bronte

روح زړه ور لرم خالقه د جهانه

نه بېربېږم په نړۍ کي له طوفانه

زه د عرش او د ایمان عظمت وینم

ما ساتي له هري وېري نه سبحانه

تل باقي مي په سينه کي يې قادره

ابدي ژوند مي له تا بولم سلطانه

دا زرګوني عقيدې ولي راغلي

ستا له لاري کړوي زړونه يزدانه

بې ارزښته لکه وچ هرزه ګياه دي

پوچ بې مغزه بې هدفه بې نښانه

غواړي وپاخوي شك په هغو زړو کي

چي منلی يې ازل وي بې ګومانه

چي يې ستا د ابدي ژوندون پر ګاره

په يقين کښتۍ تړلي ده جانانه

زړه او روح چي ستا په مينه ژوندي پايي

وي بې نيازه له وختونو له زمانه

که تغير دی که هستۍ دي که نېستۍ دي

د مخلوق سرنوشت بولي له اسمانه

که دا مځکه که دا لمر که کاينات دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول به ولاړ سي بل به نه وي بې له تانه

هر وجود به وي موجود ستا په وجود کي

نه مرګی سته نه به شی سي بې نښانه

هيڅ ذره د کايناتو نه ورکېږي

په ذرو کي ستا نفس دی لوی مېزبانه

او چي ستا په نفس پايي زموږ خالقه

تر ابده نېستي ووته له ميانه

Emily Bronte

No Coward Soul Is Mine

No coward soul is mine,

No trembler in the world's storm-troubled sphere:

I see heaven�s glories shine,

And faith shines equal, arming me from fear.

O God within my breast,

Almighty ever present Deity!

Life that in has rest,

As I � undying life -- have power in thee!

Vain are the thousand creeds

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



That move men�s hearts: unutterably vain;
Worthless as withered weeds,
Or idlest froth amid the boundless main.

To waken doubt in one
Holding so fast by thine infinity:
So surely anchored on
The steadfast rock of immortality.

With wide-embracing love
Thy spirit animates eternal years,
Pervades and broods above,
changes, sustains, dissolves, creates and rears.

Though earth and man were gone,
And suns and universes ceased to be,
And thou wert left alone
Every existence would exist in thee.

There is not room for death
Nor atom that his might could render void:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Thou -- thou art being and breath,

And what thou art may never be destroyed.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژوند سرود

Henry Wadsworth Lonfellow

راته مه وایه دساندو په سندرو

چي ژوندون یو هسي خوب دی پوچ خیالونه

هغه روح ته ټول جهان بې روحه ښکاري

زنګوي چي یې د مرګ درانه خوبونه

ژوند رېښتونی، ژوند تلاښ دی خوځېدل دي

نه مرګی دی نه د قبر یادول دي

پیدا سوي یو له خاورو خاوري کېږو

خو د روح برخه د ژوند په قدم تلل دي

ژوند یوازي نه د غم نه د ښادۍ دی

نه یې برخي رسېدلي په ازل دي

چي عمل کړو چي قدم اخلو په وړاندي

د سبا هدف تر نن بهترېدل دي

آرزوګاني لرو ډیري عمر لنډ دی

په سینو کي به لرو غښتلي زړونه

خو د ډول په څېر به هر ګړی غربېږي

هدیرو ته روان کړي یې مارشونه

د نړۍ په دې اوږده پراخه جګړه کي

د ژوندون د توپانونو په میدان کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مېړه او پهلوان په څېر جنګېږه

نه چي څوك دي د څاروي په څېر روان کي

اعتماد په آينده ژوندون ونه کړې

پرېږده ښخ سي لکه مړي تېر وختونه

زړه غښتلی خدای حاضر توکل بويه

د حاضر عمل په کار دي حسابونه

کارنامې راته د سترو خلکو وايي

چي موږ هم سو حادثې مهارولای

زموږ پر پلونو به هم نور خلك روان وي

زموږ نومونه هم کيسو ته سي لوېدلای

موږ هم ښايي لار کي پرېږدو داسي پلونه

چي روښان کي رباتونه منزلونه

او ترې واخلي اسکېرلي وزر ماتي

د تيارو لارو دپاره مشالونه

ځئ په دغه نيت روان سو سرمنزل ته

په پوره زړونو روان د ژوند پر لار سو

له يوه رباته بل ته سو ور وړاندي

په بري پسي بري ته انتظار سو

A Psalm of Life

Tell me not in mournful numbers,

Life is but an empty dream!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



For the soul is dead that slumbers,

And things are not what they seem.

Life is real! Lift is earnest!

And the grave is not its goal;

Dust thou are, to dust thou returnest,

Was not spoken of the soul.

Not enjoyment, and not sorrow,

Is our destined end or way;

But act, that each tomorrow

Find us farther than today.

Art is long, and time is fleeting,

And our hearts, though stout and brave,

Still, like muffled drums, are beating

Funeral marches to the grave.

In the world's board field of battle,

In the bivouac of life,

Be not like dumb, driven cattle!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Be a hero in the strife!

Trust no future, howe're pleasant!

Let the dead Past bury its dead!

Act,-act in the living Present!

Heart within, and God o'erhead!

Lives of great men all remind us

We can make our lives sublime,

and, departing, leave behind us

footprints on the sand of time;

footprints, that perhaps onother,

sailing o'er life's solemn main

A forlorn and shipwreked brother

Seeing, shall take heart again.

Lets us then be up and doing

With a heart for any fate;

Still achieving, still pursuing,

Learn to labor and to wait.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بدل سوی (بېگانه)

Henry Wadsworth Londfellow

زه له ښار څخه دباندي په ګوښه کي درېدلی

د هغې ډېري ځنګ ته چي پرې نوم د ښار لیکلی

اوس له لوړي ورته ګورم بېګانه یمه راغلی

هغه ښار په سترګو وینم چي کلونه مي لیدلی

تور ځنګل راته ښکارېږي لکه کلی د دېوانو

لکه سیمه د لېوانو لکه ښار د پېریانانو

یا خو هر څه بدل سوي او یا زه ورته بدل یم

هغه شین تازه ځنګل دی زه پردی یمه زه بل یم

څه یاران مي د خالپوخو څه ملګري څه دوستان مي

څه د عمر اشنایان مي څه خواږه خپلوان مي

اوس یې پړغ په ښار کي نسته رانه ورې دي کلونو

لکه پاڼي رژولي د خزان وحشي بادونو

چي د سیند اوبو ته ګورم مرغلري دي بهېږي

یو پر بل خپې سپرې دي تر ساحل پوري رسېږي

له اسمانه د لمر وړانګي د پخوا په شان ځلېږي

خو افسوس چي ورته ګورم بېګانه راته ښکارېږي

نه د لمر هغه شغلې دي چي هر وخت به ځلېدلې

نه د سیند هغه څپې دي سر پر سر چي به راتللې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Henry Wadsworth Londfellow

Changed

From the outskirts of the town

Where of old the mile-stone stood.

Now a stranger, looking down

I behold the shadowy crown

Of the dark and haunted wood.

Is it changed, or am I changed?

Ah! the oaks are fresh and green,

But the friends with whom h ranged

Through their thickets are estranged

By the years that intervene

Bright as ever flows the sea!

Bright as ever shine the sun

But alas! They seem to me

Not the sun that used to be,

Not the tides that used to run.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خيالونو معمار

Henry Wadsworth Londfellow

د ابا غېږ کي ماشوم هلك لګيا دی

پر تندي يې راخپاره ورېښمين وېښته دي

دوې ښايستې نصواري سترګي يې مشغولي

چي په سر کي څه ور ګرځي زړه کي څه دي

جوړوي هسکه قلا د خيال په خښتو

او په منځ کي د لرګيو دېوالونه

هم قلا هم يې خيالي دي اسمانونه

تر اسمانه يې رسېږي لوړ برجونه

د خپل پلار پر زنګانه باندي زنګېږي

پهلوان پر نيلي سپور په زړه غښتلی

د جهان له حوادثو بېخبره

پر اوږدو خوړو کيسو يې غوږ نيولی

له نېزو له تورو سرې ويني را اوري

پر دښتونو دي خپاره د لښکر سيوري

سر پر سر قهرمانان دي چي يادېږي

د ابا له خولې را وزي کسې نوري

ته به نوري هم کړې جوړي قلاګاني

لا به نور هم پکښي جوړ کړې جګ برجونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا به نور هم پر جنګي آسونو سپور سې

در خالي به وي د تاختي ميدانونه

لا په ژوند کي درته پاته افسانې دي

لا پخوا د ميدانونو دي کيسې دي

لا تر دې به هم زړه ور نکلونه اورې

لا پخوا دي د خيالونو اوږدې شپې دي

جوړوه هسکي قلاوي لوړ برجونه

چې رسېږي پاس تر هسکو اسمانونو

چې تر هسکه پوري ورسېږې ولاړ سې

هلته واوره آوازونه په غوږونو

خطا نه کې قافله دي د افکارو

عقيده چې سسته نه کې پر اسراو

Henry Wadsworth Londfellow

The Castle-Builder

A gentle boy, with soft and silken locks
A dream boy, with brown and tender eyes,
A castle-builder, with his wooden blocks,
And towers that touch imaginary skies.

A fearless rider on his father's knee
An eager listener unto stories told

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



At the round Table of the nursery

Of heroes and adventures manifold.

There will be other towers for thee to build;

Where will be other steeds for thee to ride;

There will be other legends, and all filled,

With greater marvels and more glorified.

Build on, and make thy castles high and fair,

Rising and reaching upwards to the skies;

Listen to voices in the upper air,

Nor lose thy simple faith in mysteries.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګټه او تاوان

Henry Wadsworth Londfellow

چې پوازي مې يو ځان يو مې ګرېوان وي

راسره فکر د ګټې او تاوان وي

وايم څه شي مې بايللي څه ګټلي

لږ به پاته ځای د فخر پر میدان وي

زه پوهېږم څومره ورځې مې کړې تېرې

په بېځايه پاڅېدلو ګرځېدلو

لکه غشي چې په ښه نيت وي وار سوي

خطا سوي پر هدف له لګېدلو

مګر څوك به دومره زړه وکي چې تول کي

د ژوندون د لارې ګټې تاوانونه

څوك خبر دی برې کوم دی ماته کومه

تل په جزر پسې راسي لوی موجونه

Henry Wadsworth Londfellow

Loss and Gain

WHEN I compare

What I have lost with what I have gained,

What I have missed with what I attained,

Little room do I find for pride.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I am aware

How many days have been idly spent,

How like an arrow the good intent

Has fallen short or been turned aside.

But who shall dare

To measure loss and gain in this wise?

Defeat may be victory in disguise;

The lowest ebb is the turn of the tide.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لمرينه ورځ

Henry Wadsworth Londfellow

خدايه ځومره ښايسته ورځ ده چي نه كار واى نه خواري واى

لاس تر غاړه له همزولو بې خبره بد مستي واى

چي پر مځكه گرځېدلاى بې پروا له هره غمه

نن مي كار د هستۍ نه كړاى خو په برخه مي مستى واى

د ښكلا مستي نغمې دي په مغزو كي مي ږغېږي

ويني مستي د رگونو پسرلي پكښي بهېږي

هر وېښته هره ذره مي د ژوندون له مستۍ ناخي

د ژوندون د نغمې سور دى د احساس په تال شرنگېږي

زه يې اورم چي تېرېږي باد په منځ كي د ځنگلونو

ږغوي په شنو ښاخلو كي ترانې د اسمانونو

زه يې وينم چي كږې دي د گلونو ډكي څانگي

لكه چا وي چي اوډلي غوږ پردې د ربابونو

پاس پر سر مي غوړېدلى بې پايانه بل جهان دى

هغه ډك له ښكلي برمه هغه نوم چي يې اسمان دى

د لاجوردو په درياب كي چي يې لمر هسي ښكارېږي

لكه سپور چي د سرو زرو په كښتۍ كي جاله وان دى

هلته ليري په مغرب كي سپيني وريځي راښكارېږي

هغو ليري تبركو جزيرو ته نيژدې كېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي يې ښکاري هسکي څوکي د اسمان په کنگرو کي

توري تيږي يې له سپينو پاغوندو سره لوبېږي

د سهار نسيم چلېږي هم پر غرونو هم دښتونو

اوروي له ښکليو ونو بارانونه د گلونو

شگوفو د شفتالو دي سرې غورځکي پورته کړي

رارسېږي يې ښاخونه تر گرېوانه تر لاسونو

واوره ژونده واوره ميني خوښ کارونه د فکرونو

چي دي ږغ يوازي وزي له سندرو غزلونو

اې زړگيه د انسانه ته هم نه سې داسي کړلاى

هم تازه لکه هوا واى هم آزاد له ځنځيرونو

Henry Wadsworth Londfellow

A Day of Sunshine

O gift of God! O perfect day:

Whereon shall no man work, but play;

Whereon it is enough for me

Not to be doing, but to be!

Through every fibre of my brain,

Through every nerve, through every vein,

I feel the electric trill, the touch

Of life, that seems almost too much.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I hear the wind among the trees
Playing celestial symphonies;
I see the branches downward bent,
Like keys of some great instrument.

And over me unrolls on high
The splendid scenery of the sky
Where though a sapphire sea the sun
Sails like a golden galleon,

Towards yonder cloud-land in the West.
Towards yonder islands of the Blest,
Whose steep sierra fat uplifts
Its craggy summits white with drifts.

Blow, winds! And waft through all the rooms
The slow-flakes of the cherry-blooms!
Blow, winds! And bend within my reach
The fiery blossoms of the peach!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



O life and love! O happy throng

Of thoughts, whose only speech is song!

O heart of man! canst thou not be

Blithe as the air is, and as free?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ورځ تېره ده

Henry Wadsworth Longfellow

ورځ سوه تېره د تيارې اثر ښکاره سو
تاريکي اوري د شپې له وزرونو
د بڼکي په څېر لاندي سوه روانه
لکه پرېوزي د ګوربت له پروازونو
زه يې ګورم چي د کلي څراغونه
په غبار او په دمه کي راښکارېږي
توان راپاتې نه دی روح ته مي د وړلو
د غم پېتی مي پر زړه باندي درنېږي
خواشيني مي سي پر زړه باندي غالبه
نه په څېر ده د دردونو نه زخمونو
خواشيني مي تنها غم ته پاتې کېږي
لکه لړي وي په څېر د بارانونو
راته ووايه يو نظم له کتابه
څو ساده د زړه له کومي آوازونه
چي فکرونه کړي د ورځې رانه ليري
په سينه کي مي آرام وکړي دردونه
ما ته مه وايه شعرونه د شاهانو
راته مه کوه کيسې د جنرالانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي آواز يې د محکمو قدمدنو

لا هنوز ګرځي کوڅو کي د وختونو

راته نظم د سپېڅلي شاعر وايه

چي سندري يې له زړه وي راوتلي

لکه اوړي کي باران له تورو وريځو

او يا اوښکي له بڼو وي څڅېدلي

چي په ورځ کي يې آرام نه وي ليدلی

د اغزيو پر بستر کوي خوبونه

لا يې هم له هره نظمه آهنګ پاځي

لا يې ګډ وي په بيتونو کي سازونه

دا سندري لري زور د بيدولو

له توپانه تر ساحل پوري د وړلو

داسي روح کراروي لکه څوك واوري

تر لمانځه وروسته دعا د قبلېدلو

نو راواخله د نظمونو خزانه دي

راته ولوله شعرونه د لوستلو

او له شعر سره آهنګ دي کړه ملګری

ښايست ورکه د سندري د ويلو

چي دا شپه مي سي د ساز له جوشه ډکه

رانه هېر مي کړي د ورځي ټول غمونه

هسي ټولي کي کيږدی راځخه ولاړ سي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه وترې عرب کډې باړونه

Henry Wadsworth Longfellow

The Day is Done

THE day is done, and the darkness,

Falls from the wings of Night,

As a feather is wafted downward

From an eagle in his flight.

I see the lights of the village

Gleam through the rain and the mist,

And a feeling of sadness comes o'er me

That my soul cannot resist.

A feeling of sadness and longing,

That is not akin pain;

And resemble sorrow only

As the mist resembles the rain

Come, read to me some poem,

Some simple and heartfelt lay,

That shall soothe this restless feeling,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And banish the thoughts of day.

Not from the grand old masters,

Not from the brads sublimes

Whose distant footsteps echo

Through the corridors of Time,

For, like strains of martial music,

Their mighty thoughts suggest

Life's endless toil and endeavor;

And tonight I long for rest.

Read from some humbler poet,

Whose songs gushed from his heart,

As showers from the clouds of summer,

Or tears from the eyelids start.

Who, through long days of labor,

And nights devoid of ease,

Still heard in his soul the music

Of wonderful melodies.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Such songs have a power to quiet
The restless pulse of care
And comes like the benediction
That follow after prayer

Then read from the treasured volume
The poem of the choice
And lend to the rhyme of the poet
The beauty of thy voice.

And the night shall be filled with music
And the cares, that infest the day,
Shall fold their tents, like the Arabs,
And as silently steal away.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درنه ونه

Paul Laurence Dunbar 1872 �1906

زړې وني د ځېړې حال راته وايه
پر لوی ښاخ دي پاڼې ولي نه شنې کېږي
او چې کله دي تر سيوري لاندي تېر سم
په سينه کي مي دا زړه ولي دربېږي؟

پاڼې شنې وې همېشه زما د ښاخونو
تل به مسته وه شيره زما د رګونو
د سپوږمۍ شپه مي را ياده سي زوربېږم
کړېدی معصوم انسان چي له دردونو
بې ګناه يې په ناحقه تور نيولی
د زندان تورو تيارو ته يې بېولی
نه يې چا د حقيقت پوښتنه وکړه
نه فرياد يې د چا غوږ ته رسېدلی
که هر څو يې وه خوړلي سوګندونه
په فرياد که يې کاڼه کړل اسمانونه
لا يې وخوړې پر مخ باندي څپېړي
اوربېدل يې لا پر خوله باندي سوکونه
او په شپه کي ور روان وه څو اسونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپوږمۍ وړانګو سپین کړي وه دښتونه

د مقصد پر لور روان یو څو سپاره وه

په هیبت یې پې کول تیاره مزلونه

لوی ځنځیر یې د زندان وو شرنګولی

بندیوان یې و له خوبه پاڅولی

مورږ دوستان یو د بندي دلته راغلي

چي په کونج کي د خطر دی تا ساتلی

غواړو خپل بندي ګوښه کړو له دې ځایه

چي لا نه وي د ناولو لاس راغلی

دې بندي لره بېحده دښمنان دي

ډېر د ده د وینو تږي غلیمان دي

هغوی نه ګوري د ده بېګناهۍ ته

د وژلو په تکل یې ظالمان دي

پیره دار یې په لباس و غولېدلی

د دروغو په وعدو یې تېر ایستلی

ور پرانیستې دروازه یې د زندان وه

په هغه شپه یې بندي و ور سپارلی

را بهر چي بېګناه یې له زندان کړ

په هغه شپه یې د مرګ پر لور روان کړ

لاس تړلی یې تر ما و راوستلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما تر ښاخ لاندي مظلوم يې درولی

قاضي تور کالي اغوستي هغه شپه وه

د ډاکټر په څان ښايسته سپينه جامه وه

هم ملا او هم يې مشر زوی راغلي

په فېشن کي دواړه يو تر بل ښاغلي

بې ګناه ته يې پستې کړلې خبري

لکه د مکر د شيطان ترخې شکري

چي جاهله په سرو سترګو ولي ژاړې

دې وروستي ساعت کي څه له خدايه غواړې

څو شېبې دي وروسته هر څه آسانېږي

مرګ او ژوند دي په يوه لحظه هېرېږي

پر خپل ښاخ باندي رسۍ راته يادېږي

په تنه مي بېګناه مړی ځړېږي

زه يې وينمه د دار پر سر ټوپونه

زه يې اورم بې فرياده آوازونه

زه يې وينم چي يې غورځي اندامونه

زه پوهېږم تېرول به يې دردونه

څنګه زما پر ښاخ به پاڼي زرغونېږي؟

د مظلوم هغه تنه چي يې يادېږي

زه ښرا يم د هغه مظلوم وهلې

چي تنه يې زما پر ښاخ وه ځړېدلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي قاضي وينم پر آس چي سپور تېرېږي

او په ښکار چي د هوسيو روانېږي

د مظلوم روح يې زه وينم په اوږو کي

او تر مرګه به يې روح ورنه بېرېږي

زما پر تن باندي هم سپور دی هغه مړی

بېګناه چي دلته قتل سو زوی مړی

يوه شپه مي له وجوده نه بېلېږي

هره شپه مي په وچ سوي ښاخ ځړېږي

زما پر تن باندي ښراوي يې اورېږي

ځکه زما له تني هم خلك ډارېږي

د مظلوم اه را سوځلی زما بدن دی

پاڼي نه سم شني کولای وچ مي تن دی

Paul Laurence Dunbar (1872 � 1906)

The haunted Oak

Pray why are so bare, so bare,

Oh, bough of the old oak-tree,

And why, when I go through the shade you throw,

Runs a shudder over me?

My leaves were green as the best, I trow

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And sap ran free in my veins,

But I say in the moonlight dim and weird

A guiltless victim's pains.

They'd charged him with the old, old crime,

And set him fast in jail:

Oh, why does the dog howl all night long,

And why does the night wind wail?

He prayed his prayer and he swore his oath,

And he raised his hand to the sky;

But the beat of hoofs smote on his ear,

And the steady tread drew night.

Who is it rides by night, by night,

Over the moonlit road?

And what is the spur that keeps the pace,

What is the galling goad?

And now they beat at the prison door,

�Ho, keeper, do not stay!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



We are friends of him whom you hold within,

And we fain would take him away

�From those who ride fast on our heels

With mind to do him wrong,

They have no care for his innocence

And the rope they bear is long�

They have fooled the jailer with lying words,

They have fooled the man with lies,

The bolts unbar, the locker are drawn,

And the great door open flies.

Now they have taken him from the jail,

And hard and fast they ride,

And the leader laughs low down no his throat,

As they halt my trunk beside.

Oh, the judge he wore a mask of black,

And the doctor one of white,

And the minister, with his oldest son,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Was curiously bedight.

Oh, foolish man, why weep you now?

�Tis but a little space,

And the time will come when these shall dread

The mem'ry of your face.

I feel the rope against my bark,

And the weight of him in my grain,

I feel in the throe of his final woe

The touch of my own last pain.

And never more shall leaves come forth

On the bough that bears the ban;

I am burned with dread, I an dried and dead,

From the curse of a guiltless man.

And ever the judge rides by, rides by,

And goes to hunt the deer,

And ever another rides his soul

In the guise of a mortal fear.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And ever the man he rides me hard,

And never a night stays he;

For I feel his curse as a haunted bough,

On the trunk of a haunted tree.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه کښتۍ چي په شپه کي تېرېږي

Paul Laurence Dunbar 1872 - 1906

لیري لیري د اسمان افق ښکارېږي

توري وريځي يې لمنه کي غونډېږي

پکښي وینم حامله د توپانونو

چي په غېږه کي د شپې راپورته کېږي

د توپونو غړومبهار له لیري اورم

وړانګه وینم په تیاره کي چي ورکېږي

راته وايي د بېړۍ چي په تلاښ یم

له ساحله څخه لیري ده تېرېږي

روح زخمي دی سترګي ډکي دي له اوښکو

تر باڼو کاسې راډکي دي ځلېږي

ما په تمه د بېړۍ غېږه پرانیستې

په کوګل کي بې اختیاره چیغي زېږي

خدايه چیغي مي څوك نه سي اورېدلای

لکه ږغ چي مي د شونډو مخ ته لوېږي

د کالبد په شان آواز پر څپو سپور سي

او تش سیوری يې بېړۍ ته ور رسېګري

واورئ مځکي او آسمانه سمندره!

او زما زړه چي له تیارې دي ځان رپېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا را پاته څه امید او څه آرزو ده

داسي لار داسي امکان در معلومېږي؟

چي يو وخت به هغه تېزه کښتۍ وينم

چي له ما په توپانونو کي پټېږي

داسي ورځ به خدای را وستي وي کنه وي؟

چي مي سترگي د بېړۍ په دید مړېږي

Paul Laurence Dunbar (1872-1906)

Ships that Pass in the Night

Out in the sky the great dark clouds art massing;

I look far out into the pregnant night,

Where I can hear the solemn booming gun

And catch the gleaming of random light,

That tells me that the ship I seek is passing, passing.

My tearful eyes my soul's deep hurt are glassing;

For I would hail and check that ship of ships,

I stretch my hands imploring, cry aloud,

My voice falls dead a foot from mine own lips,

And but its ghost doth reach that vessel, passing, passing.

O Earth, O Sky, O Ocean, both surpassing,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



O heart of mine, O soul that dreads the dark!

Is there no hope for me? Is there no way

That I may sight and check that speeding bark

Which out of sight and sound is passing, passing?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خولګۍ راکه شل کلني

Paul Laurence Dunbar

د بهار موسم راغلی د سپرلي وږمه چلېږي
پر نازك بدن دي ګراني شګوفې د سېب تويېږي
د لېندۍ په شاني غبرګي په ګلونو دي پوښلي
د ګلونو مېلمنه يې ښاخلې ستا پر لور کږېږي
آوازونه د بلبلو هر ګلبوټي ترانه ده
د ګلونو پر ښاخونو مرغکۍ دي چي زنګېږي
دا څه سوز يې دی اواز کي څه شرنګی يې دی په ساز کي
چي خوله پوري په نغمه کي زما زړه هم ورته ګډېږي
راسه راسه شل کلني خوله پر خوله باندي راکښېږده
چي د ګلو په موسم کي اور د مينې هم توندېږي
در نيژدې مي که په مينه بې سببه بې پوښتني
خولګۍ راکه شل کلني پسرلی رانه تېرېږي
سپين باړخو دي لکه ګل دی سر تر پايه د ګل څانګه
هر نفس دي لکه عطر د سره ګل په شان لګېږي
تر چارچوبه دي راغلې لېونۍ د ځوانۍ مينه
که مي غوږ پر نغمه کښېږدې ټوله ژوند پسرلی کېږي
چي دا مځکه دا آسمان وي زما د مينې به داستان وي
نور به هر څه خاوري کېږي خو زما مينه به پاتېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د میني شور به تل وي زما د میني اور به بل وي

زما سندره تر قیامته له جهان سره پايېږي

راسه راسه شل کلني خوله پر خوله باندي راکښېږده

چي د ګلو په موسم کي اور د میني هم توندېږي

در نيژدي مي که په مينه بې سببه بګې پوښتني

خولګۍ راکه شل کلني پسرلی رانه تېرېږي

Paul Laurence Dunbar

Come and Kiss me Sweet and Twenty

APPLE blossoms falling o'er thee,

And the month is May

Laden bows bend low before thee,

With their gentle sway;

Look you where the thrush is swinging

How his melody is ringing

As he sings my heart is singing

Come and kiss me sweet and twenty

Love blooms out with flowers a�plenty

Love me, love me without reason

Kiss me, now's the kissing season,

White your cheek is as the blooms are,

Sweet your breath as perfumes are,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Is this dolce far niente

Come and kiss me sweet and twenty

Love is at thy window suing,

All the � long day,

Stay and listen to my wooing,

Life shall all be May.

Love like mine can falter never

Naught from thee my heart can sever

And my song shall be forever

Come and kiss me sweet and twenty,

Love blooms out with flowers a - plenty,

Love me, love me without reason,

Kiss me, now's the kissing season,

White your check is as the blooms are,

Sweet your breath as perfumes are,

Is this dolce far niente,

Come and kiss me sweet and twenty.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کتیبه د مړي پر سر

Amy levy

د ژوندون وروستي پړاو ته رسېدلی
سترګي ډکي له چنجو ستونی له خاورو
نور يې توان د حرکت په ځان کي نسته
پرې لوېدلي خړې خاورې دي د لارو
نور به نه ونيسي رونې په تيارو کي
تر سبا بې اوښکي سترګي په کاسو کي
بيا به نه کي موسکي شونډې د چا خواته
چي له زړه به يې څك څك ويني بهېږي
په نېستي کي به اوږده نه کي لاسونه
نه ناحقه به تياره کي ټپرېږي
نه له چا به د ډوډۍ غوښتنه وکړي
نه پر ځای به د ډوډۍ کاڼي څوك ورکي
نه قبول به د ډوډۍ په نوم کي تيږې
نه زخمونه به يې څوك ورکي په سر کي
نه په منځ کي د ريشتيا او د دروغو
تېروي به د ژوندون مياشتي کلونه
نه به بار د ژوندانه پر اوږو يوسي
نه به شمېرې اوږده سترې ساعتونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه زيندی به کي دردونو کي آهونه

نه له درده به يې وچوي زخمونه

د ژوندون وروستي پړاو ته دی راغلی

مرگ يې ځنگ ته په بستر کي غځېدلی

Amy levy (1861 � 1889)

Epitaph (on a commonplace Person Who Died in Bed)

This is the end of him, here he lies,

The dust is his throat, the worm is his eyes,

The mould in his mouth, the turf on his breast;

This is the end of him, this is best

He will never lie on his couch away,

Wide-eyed, tearless, till dim daybreak,

Never again will he smile and smile

When his heart is breaking all the while

He will never stretch out his hands in vain

Groping and groping � never again

Never ask for bread, get a stone instead

Never pretend that the stone is bread

Never sway and sway 'twixt the false and true,

Weighing and noting the long hours through

Never ache and ache with chok'd-up sighs;

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



This is the end of him, here he lies.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مار

David Herbert Lawrance 1885-1930

د اهار په سره غرمه کي زما له کور څخه دباندي

د اوبو ډنډ ته راغلی يو لوی مار له ما د وړاندي

لوی منګی مي پر اوږه و چي اوبه مي کور ته يوسم

په قدم قدم راتلمه تر ساېي د وني لاندي

خو بايد تر سيوري لاندي يو ګړی واى درېدلی

مار چنېلو د اوبو ته له ما مخکي و راغلی

له ختېين دېواله لاندي له تياره غاره وتلی

ژړ ځيګر يې و پر کاڼو په ارامه غوړولی

ستونی اينښی پر ډېره چي اوبه تري څڅېدلې

د اوږده بدن پر خوا يې اوبه ورو ورو تېرولې

له ما مخکي رسېدلی ډېرين حوض ته مار و

منتظر سومه نوبت ته زما په برخه انتظار و

د څاروي په څېر يې سر کړ له اوبو څخه را پورته

په حيرت يې راکتله د څاروي په څېر زما لور ته

له دوو شونډو يې بهر کړه توره ژبه رېږدېدلې

سر يې بيرته پر اوبو کړ لا يې نوري هم چښلې

د اهاړ په سره غرمه کي مي د مار پر لور کتله

نصواري زرينه ملا مي تر نظره تېروله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقل سمدستي را ږغ کړه چي يې وژنه دا دي وار دی

دا څه تور بې زهرو نه دی نصواري وژونکی مار دی

ما وې ژر لرګی راواخلم انتظار دلته د چا يم

ځای پر ځای باندي يې مړ کم نارينه که په ريښتيا يم

خو په زړه کي مي ناڅاپه دا خبره سوه راتېره

چي مېلمه څرنګه مړ کم مېلمستيا کم څنګه هېره

ما وې پرېږده چي اوبه سي بيرته خپل کور ته روان سي

نه نېکي مي ور په زړه سي نه مي لاندي تر احسان سي

دا بې زړه وم بې غيرته چي قاتل مي ژوندی پرېښود

يا فاسد عقل مي غوښتل چي له مار سره ګويان سي

يا مي غوره تواضع کړه د مغرور احساس په زړه کي

خو کېدل مي دا ږغونه په رګو کي په سينه کي

که بې زړه نه وای نامرده تا به ځای پر ځای وژلای

خپل قاتل ته به دي څنګه په آرام آرام کتلای

پوهېدمه چي بېرېګړم خو بيا هم غره په ځان وم

د غرور احساس په زړه کي دی مېلمه زه يې مېزبان وم

پرېږده راسي مېلمستيا ته له ګوښه له تياره غاره

پرېږده زما پر کور اوبه سي بيرته واخلي خپله لاره

مار اوبه کړلې تر ستوني سر يې پورته کړ اوبه سو

لکه وړی وي خوبونو او يا مست غوندي نشه سو

بيا يې ژبه را بهر کړه له شونډانو تکه توره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاچا په خبر مغروره او خبر له خپله زوره

د خپل غار پر لور رهي سو لکه ډوب وي په خوبونو

اوږد بدن ارام روان سو په کږو وږو گامونو

سر يې غار ته کړ دننه نور هم وړاندي په ورو ورو سو

چي تور غار ته مي ور پام سو زړه مي سم په دربېدو سو

چي مي څنگه ارام پرېښود چي دښمن ولاړ سي تر کوره

دا وحشي دا ډك له زهرو زما په ځان دا بلا توره

له اوږو مي منگی کښته يو لرگی مي پسي وار کړ

هغه ولوېدی اوبو کي او خطا مي وحشي مار کړ

مار خبر سو زما له واري ځان يې کوږ ووږ په تلوار کړ

دی دننه سو خپل کور ته ما خطا وروستی گوزار کړ

د اهاړ په سره غرمه کي د برېښنا په دود روان سو

په يوه گړي کي ورك سو زما پر زړه پاته ارمان سو

زه حيران پاته دباندي کاشکي کاشکي مي په زړه کي

زه پر خپلو کړو پښېمان وم د افسوس ناري په خوله کي

څومره ټيټ څومره ذليل وم څه کانه راباندي وسوه

پر خپل ځان مي لعنت ووې له تعليمه مي توبه سوه

ما وې خدايه کشکي راسي هغه مار بيرته اوبو ته

د عنقا په څېر وتلی زما له لاسه اسمانو ته

پوهېدمه چي دښمن مي بيا مغرور لکه سلطان دی

زما له لاسه دی وتلی اوس مي بيا بلا د ځان دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تبعید کې چې یې تاج و ککرۍ څخه لوېدلی

نن به بیرته تاج پر سر کې په خپل کور کې دی ښاغلی

زما تر لاسه خدای دښمن و څه اسانه راوستلی

څه وړیا راغلی ولاړی څه نیژدې راته راغلی

اوس راپاته پښېماني ده سره موړمه لاسونه

څه فرصت له لاسه ولاړی ستنېدای نه سي وختونه

David Herbert Lawrence (1885-1930)

Snake

A snake came to my water-trough

On a hot, hot day, and I in pyjamas for the heat

To drink there.

In the deep, strange-scented shade of the great dark

I came down the steps with my pitcher

And must wait, must stand and wait, for there he was at the trough before me.

He reached down from a fissure in the earth-wall in the gloom

And trailed his yellow-brown slackness soft-bellied down, over the edge of the stone trough

And rested his throat upon the stone bottom

And where the water had dripped from the tap, in a small clearness,

Silently.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Someone was before me at my water-trough,

And I, like a second comer, waiting

He lifted his head from his drinking as cattle do,

And looked at me vaguely, as drinking cattle do,

And flickered his two-forked tongue from his lips, and mused a moment.

And stooped and drunk an little more,

Being earth-brown, earth-golden from the burning bowels of the earth

On the day of Sicilian July, with Etna smoking.

The voice of my education said to me

He must be killed,

For in Sicily the black, black snakes are innocent, the gold are venomous.

And voices in me said, if you were a man

You would take a stick and break him now, and finish him off.

But must I confess how I liked him,

How glad I was he had come like a guest in quiet, to drink at my water-trough

And depart peaceful, pacified and thankless,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Into the burning bowels of this eargh?

Was it cowardice, that I dared not kill him?

Was it perversity, that I longed to talk to him?

Was it humility, to feel so honoured?

I felt so honoured.

And yet those voices:

If you were not afraid you would kill him!

And truly I was afraid, I was most afraid,

But even so, honoured still more

That he should seek my hospitality

From out the dark door of the secret earth

He drank enough

And lifted his head, dreamily, dreamily, as one who has drunken,

And flickered his tongue like a forked night the air, so black,

Seeming to lick his lips

And looked around like a god, unseeing, into the air,

And slowly turned his head,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And slowly very slowly as if thrice adream,
Proceeded to draw his slow length curving round
And climb again the broken bank of my wall-face.

And as he put his head into that dreadful hole
And as he slowly drew up, snake-easing his shoulders, and entered farther,
A sort of horror, a sort of protest his withdrawing into that horrid black hole,
Deliberately going into the blackness, and slowly drawing himself after,
Overcame me now his back was turned.

L look round, I put down my pitcher,
I picked up a clumsy log
And threw it at the water-trough with a clatter.

I think it did not hit him,
But suddenly that part of him that was left behind convulsed in undignified haste,
Writhed like lightning, and was gone
Into the black hole, the earth-lipped fissure in the wall-front,
At which in the intense still noon, I stared with fascination.

And immediately I regretted it.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I thought how paltry, how vulgar, what a mean act!

I despised myself and the voices of my accused human education.

And I thought of the albatross

And I wished he would come back, my snake.

For he seemed to me again like a king,

Like a king in exile, uncrowned in the underworld,

Now due to be crowed again.

And so, I missed my chance my chance with one the lords Of life

And I have something to expiate; A pettiness.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شاتو مچۍ ته

Philip Freneau

مچمچۍ زما تر پيالې څنګه راغلې

اوس به ډنډونو يا چينو ته تللاى

يا به دي سپيني مرغلري اوبه

په شنو وښو کي د ويالو چنبلاى

څنګه دي مخ دى پر دې خوا نيولى

څرنګه دلته وزرونه وهې

ته وا باکوس يې زما پر خوا راوړې

چي پر پياله باندي شخوندونه وهې

درته هغه دا لاره وښودله

درته تياره پيمانه يې کړله

چي دي شريکه په سرو ميو کړمه

درته په ګوته اشيانه يې کړله

دلته سوې پټه له دښمنه څخه

که توپانونو وېرولې راغلې

يا سرو غالبوزو ناکراره کړلې

يا له مرغانو ډارېدلې راغلې

يا له جنګونو څخه ستړې سولې

يا دي کارونو دى زړګى شين کړى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا دي د کور لاره غلطه کړله

پر ورکو لارو دي وزر وهلی

د ناستي ځای درته بل نه سو څرګند

چي دي دا ډنډ درته پيدا کړ د خوند

ښه راغلې راسه زما پيالې ته راځه

راځه دې خپلې اشيانې ته راځه

دلته دي هېر که کړاوونه د ژوند

دلته دي هېري کړه غمګيني شپېږ

دلته ارام ته وزرونه ورکه

يو ځلي شا ته که ويرجني شپېږ

د دې پيالې مزه چي وڅکي څوك

له زړه يې کوچ وکړي د ژوند غمونه

لښکر د غم وربانديي نه سي راتلای

نه د مچۍ نه د انسان پر خونه

له کومه زوره يې راغلې دلته

په دې خبره هيڅوك نه پوهېږي

او که له تا سره خواله وکمه

مچمچۍ ستا هم فکر نه رسېږي

خو چي له دې ځايه روانه سولې

زړه به دي ډك وي له خوښيو څخه

په خوشحالي به مخه ښه ووايو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمنه ډکه له ښاديو څخه

سپك وزرونه به دي وغوړېږي

د کور پر لور په پروازونه کوې

نېښ به دي تېز لکه نېزه وي مچۍ

پر غليمانو به وارونه کوې

خو چي په څاڅکو ځان نشه کې ډېر

چي په پياله کي ځان غوټه نه کې ډېر

هسي نه مرگ دي سمندر کي يوسي

ځان دي سيالانو ته جوټه نه کې ډېر

دلته لا لويي مچمچۍ غرقېږي

او په قد جگي مچمچۍ ډوبېږي

ته به هم ډوبه سې فرعون غوندي

پر وطنو به دي خبري کېږي

ته به هم شومه سې د سره سمندر

بيا به دي قبر چا ته نه يادېږي

اوس چي دي زړه غواړي هغسي کوه

چي خوښه ستا وي هغه خوښه ده زما

څه نوشوه يې له چا مه بېرېږه

پروا ونه ساتې په ژوند کي د چا

په دې پياله کي هديره جوړه که

ځان ته دي قبر ميخانه جوړه که

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي کله ولاړې د مرګي غېږې ته

درته له اوښکي کتیبه جوړه که

څه د مرګي سره ښېرې کي کښېنه

ور ووزه غېږي ته د مستو څپو

موږ به دي ورکو شېرګیني ته احوال

مړی دي ګرځېدی پر سر د اوبو

Philip Freneau

To a Honey Bee

THOU, born to sip the lake or spring,

Or quaff the waters of the stream,

Why hither come, on vagrant wing?

Does Bacchus tempting seem--

Did he for you this glass prepare?

Will I admit you to share?

Did storms harass or foes perplex,

Did wasps or king-birds bring dismay

Did wars distress, or labors vex,

Or did you miss your way?

A better seat you could not take.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Welcome ! I hail you to my glass:

All welcome here you find

Here let the cloud of trouble pass

Here be all care resigned

This fluid never fails to please

And drown the griefs of men or bees

What force you her we cannot know,

And you will scarcely tell,

But cheery we would have you go

And bid a glad farewell:

On lighter wings we bid fly,

Your dart will now all foes defy

Yet take not, oh! To deep a drink

And in this ocean die;

Here bigger bees than you might sink

Even bees full six feet high

Like Pharaoh, then, you would be said

To perish in a sea of red.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Do as you please, your will is mine

Enjoy it without fear,

And your grave will be this glass of wine,

Your epitaph-a tear,

Go, take your seat in Charon�s boat

We �ll tell the hive, you died afloat.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مرگ

John Donne

اې مرګيه چې په ځان مغروره نه سې

که دي هر څه انسانان زورور بولي

دومره نه يې لا غښتلی هيبتناکه

که وګړي دي زمری او زړه ور بولي

بېچاره مرګيه ځانته غره نه سې

تا له برمه هيڅوک نه دي پرې ايستلي

نه به ستا له لاسه زه مړ سم نه بل څوک

نه زرګونه عالمونه تا وژلي

ستا تصوير دی که آرام دی که خوبونه

دې تصوير کي کراري ده چې ښکارېږي

او که ستا منګولي زموږ تر مری راسي

لا به نوري ښادۍ هم ورنه اورېږي

ژر به زموږ پهلوانان ښکلي مېړونه

ستا پر لار درسره پيل کړي سفرونه

ته خوښېږه ستا به غېږه کي در ډکه

در سپاري به ارواحونه او هډونه

ته پخپله يو غلام د سرنوشت يې

که خانان که پاچهان که غريبان وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په لاس د مرګي زېرى ور رسېږي

چا ته زهر، چا ته جنګ، ځوك ناروغان وي

كه ترياك دي كه ښكلاوي نعمتونه

په خوږو خوبو موږ نه سي بيدولاى

ته پر څه يې په خپل زور دونه مغروره

كه ترياك مو سي تر تا كراروﻻى

يو لنډى خوب تېروو بيا به راپاڅو

تر ابده به خوب نه وي چي ويښېږو

مرګ به نه وي ژوند به تل خوښي به تل وي

ځه مرګيه ته به مرې موږ به هستېږو

John Donne (1573-1631)

Death

DEATH, be not proud, though some have called thee

Mighty and dreadful, for thou are not so

For those whom thou think'st thou dost overthrow

Die not, poor Death, nor yet canst thou kill me.

From rest and sleep, which but the picture be

Much pleasure than from thee much more most flow;

And soonest our best men with thee do go

Rest of their bones and soul's delivery!

Thou'rt slave to fate, chance, kings, and desperate men;

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And dost with poison, war, and sickness dwell

And poppy or charms can make us sleep as well

And better than the stroke, why swell'st thou then?

One short sleep past, we wake eternally,

And Death shall be no more: Death thou shalt die!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لمر وړانګې

John Donne

ګراني له ځایه څخه پورته نه سې

چې لا د ورځې وړانګې نه ښکارېږي

چې يې شغلې د ورځې و نه ګڼې

ستا له روښانو سترګو نور ځلېږي

چې بېلوي دي زما له غېږي ګراني

هغه ورځ نه ده دا زما زړه ماتېږي

پاته سه ګراني کنه ټولي خوښۍ

د مرګ په غېږي کي وار په وار ښخېږي

ماشومي هيلي به مي وخوري سلګۍ

زلميو شپو ته به ونه رسېږي

John Donne (1573-1631)

Daybreak

STAY, O sweet and do not rise!

The light that shines comes from thine eyes;

The day breaks not: it is my heart,

Because you and I must part.

Stay! Or else my joys will die

And perish in their infancy.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مرگ په ځواني کي

Hartley Coleridge

لکه پرخه د سهار هسي پناه سوه

چي لا لمر پر اسمان نه و راختلی

دونه لنډه يې د ژوند برخه راوړې

چي يو آه يې تر خوله نه و را ايستلی

لکه ګرځي پر ګلاب د عطرو وږم

خوږه مينه تر دې هسي تاوېدله

په همزولو کي سرداره وه روانه

لکه ځانګه د سرو ګلو ګرځېدله

نابېره مرګي ورکړله څپېړه

د ښکلا چي ملکه خلکو بلله

خپاره کړي باندي ميني وزرونه

فرشتې غوندي له مرګه يې ساتله

خو چي غشی د نصيب له ګوتو وار سو

همدا مينه وه چي مرګ ته يې سپارله

که هر څو مينه خوږه ده روانېږو

له منګولو د مرګي ولي بېرېږو

Hartley Coleridge (1796 -1849)

Early Death

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



SHE pass'd away like morning dew
Before the sun was high
So brief her time, she scarcely knew
The meaning of a sigh

As round the rose is soft perfume
Sweet love around her floated
Admired she grew-while mortal doom
Crept on, unfear'd, unnoted

Love was her guardian Angel here;
But love to death resign'd her;
Tho'Love was kind, why should we fear
But holy Death is kinder?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوب

John Fletcher 1579 � 1625

خوبه راسه غولوه مي په خوږو خوږو خيالونو

ما يوه شېبه ايسار کړه د خوښيو په جالونو

چي يو څه خواږه خيالونه مي پر سترګو مېلمانه سي

او اوږده لړۍ مي پيل سي د رنګينو ارمانونو

پر بند بند به مي خپرېږي ستا منګولي جادوګري

او زګېروی به پورته کېږي له واکمنو اندامونو

که هر څه په چم د سيوري او يوه شېبه مېلمه سي

دا يوه لحظه مي پرېږده په بهير کي د خوندونو

په يوه شېبه هم خوښ يم په دا لږ ګړي راضي يو

چي ټول ژوند مو چلولي دي بارونه د غمونو

پرېږده موږ هم مېلمانه سو د خيالي ګلونو باغ کي

يو ګړی دی تېروو يې د خوښيو پر ټالونو

John Fletcher 1579 � 1625

Sleep

COME, Sleep, and with the sweet deceiving

Lock me in delight awhile

Let some pleasing dreams beguile

All my fancies; than from thence

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I may feel an influence

All my powers of care bereaving!

Though but a shadow, but a sliding

Let me know some little joy!

We that suffer long annoy

Are contented with thought

Through an idle fancy wrought:

O let my joys have some abiding!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه ورځ مي د هغې نوم ولیکی

Edmond Spenser

یوه ورځ مي و د ګراني نوم لیکلی
د ساحل پر لندو شګو پر رېګونو
نابېره سوې څپې باندي راپورته
راته ورانه یې نړی کړه د خیالونو
بیا مي ولیکی په لاس پر هغو رېګو
نوم د خپلي ناوکۍ د خپلي ښکلي
بیرته ښکار سوله خواري مي د موجونو
سمندر مي یووړ نوم د نازولي
په خندا یې راته وویله ګرانه
ځان دي ولي ستړی کړی سرګردانه
ټول رنګونه ټول نومونه خاوري کېږي
هیڅ فاني لره بقا نسته جانانه
یوه ورځ به زه هم خاوري یم د خاورو
لکه نوم هسي وجود مي خاوري کېږي
د نېستۍ څپه به ما هم درنه یوسي
چي ژوندي پر مځکه ګرځي نه پاتېږي
ما وې ګراني ته د نورو په څېر نه یې
چي راغلي دي هغوی به روانېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا منم چي ته به خاوري سپ د خاورو

خو ستا نوم به تر قيامت پوري پايېږي

له خپل نظمه به هستي ابدي درکړم

چي څه ښکلي دي په نوم به دي نازېږي

د اسمان تر کنگرو به دي نوم يوسم

جنتونو کي به ستا تصوير ځلېږي

د مرگي ښپې چي تړوله نړۍ يوسي

چي نور نه وي پر دنيا آواز د ژوي

زما او ستا مينه به پايي په جهان کي

او ژوندون به ورته راسي سر له نوي

Edmond Spenser

One Day I Wrote Her Name

One day I wrote her name upon the strand

But came the waves and washed it away

Again I wrote it with a second hand,

But came the tide and made my pains his prey.

�Vain man,� said she: �that dost in vain essay

A mortal thing so to immortalize

For I myself shall like to this decay,

And eke my name be wiped out likewise�

�not so,� quoth I, �let baser things devise

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



To lie in dust, but you shall live by fame

My verse your virtues rare shall eternize

And in the heaven write you glorious name,

Where whenas Death shall all the world subdue

Our love shall live, and later life renew.�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوبولي سترګي

William Allingham

یو ګړی د ماشومتوب یووړم فکرونو

خپل وړوکی بستر راغی تر خیالونو

پر هغه بستر چي پروت وم په کلونو

خاطرې چي یې لرمه د خوبونو

چي له سر سره پرده یې ځړېدله

په رنګ سپینه ښایسته چي ښکارېدله

پر بالښت مي ځړېدلي دوې قبې وې

ویښې سترګي مي له خوب ځخه درنې وې

په نغري کي مو نرۍ لمبه بلېږي

مور مي ناسته ده او هیڅ نه سترې کېږي

تنها ناسته په کراره لولي توري

په ورو ورو د کتاب کرښي پاڼې ګوري

چي زه اوړم په بستر کي پر اړخونو

ګواکي ویښ یم وړی نه یمه خوبونو

مور مي زما پر خوا په ورو پورته قدم کي

په ارامه مي برستن راباندي سم کي

ووړ بالښت مي راته سم کي په کراره

او پر مخ باندي مي مچ کي په ځو واره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغو سندري بولي په للو کي

چي ډوبېږم د خوبونو په ټالو کي

مګر نه هغه بستر سته نه خوبونه

نه هغه د ماشومتوب لرم خيالونه

هغه وخت راڅخه ليري په عمرو دی

د اوو غرونو و شاته په مزلو دی

اوس په منځ د بېګانه وو کي اوسېږم

زړه مي تنګ دی هره ورځ سوځم ويلېږي

William Allingham (1824 � 1889)

Half-waking

I thought it was the little bed

I slept in long ago

A straight white curtain at the head

And two smooth knobs below.

I thought I saw the nursery fire

And in a chair well-known

My mother sat and did not tire

With reading all alone.

If I should make the slightest sound

To show that I am awake,

She'd ries, and lap the blankets round

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


My pillow softly shake;

Kiss me, and turn my face to see

The shadow on the wall,

And then sing Rousseau's Dream to me

Till fast asleep I fall

But this is not my little bed,

That time is far away

With strangers now I live instead,

From dreary day to day.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټول هغه دی

Alfred Lord Tennyson

لمر ، سپوږمۍ، ستوري، غونډۍ او دا دښتونه

دا د مځکي د مخ لوی سمندرونه

دا د هغه چا تصویر نه درته ښکاري

چلوي چي پر جهان باندي حکمونه؟

دا تصویر د هغه نه در معلومېږي؟

که څه دي داسي به نه وي چي ښکارېږي

چي خوبونه سي اوړده حقيقت ښکاري

دا نړۍ ټوله په خوب کي نه اوسېږي؟

دغه مځکه دغه ستوري اسمانونه

دا بې شمېره انسانان او بېل رنګونه

ټولي نښي هسي نه درته ښکارېږي

چي له ده يې ته بېل سوی نور بېلېږي

چي نړۍ ټوله تياره په مخ کي ستا ده

ته علت يې او دا ټوله ستا خطا ده

دا هم ته يې د هغه اراده نه ده

ځانته ځان وايې او وايې چي دا زما ده

دا په خپله لويي څومره ډېر خوښېږي

موجود نه يې او په خپل وجود نازېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدې لويي له لاسه تباه کېږې

بې خبره به تياره کندي ته لوېږې

په بل رنګ دي د هغه نور دی ليدلی

د هغه رنګين جمال دي تور ښودلی

خفه کړی دي جلال د هغه ذات دی

د ده نور دي تاريکيو ته بېولی

ورته وايه هغه ږغ سي اورېدلای

روح له روح سره خبري سي کولای

در نيژدې دي ستا تر خپلو نفسونو

درته څرمه دي تر پښو او تر لاسونو

خدای قانون دی دا وينا د هوښيارانو

دا خبر په خوښي ارزي انسانانو

که نازل درباندي تندر په قانون کي

تندر هم د ده آواز دی په مضمون کي

خدای قانون بولي هغوی چي هوښياران دي

خدای له سره نه مني چي احمقان دي

ځکه څه چي زموږ قدرت دی د ليدلو

په جهان کي چي هر څه دي د کتلو

تصويرونه دي چي ښکاري په اوبو کي

مخامخ عکس راځي په آيينو کي

نه غوږونه د انسان سي اورېدلای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يې سترګي پر نړۍ سي څه ليدلای

څه چي اورو څه چي وينو ټول له ده دي

ټوله دی دی که ليده که اورېده دي

Alfred Lord Tennyson (1809 - 1892)

The Higher Pantheism

The sun, the moon, the stars, the seas, the hills, and the plains,

Are not these, O Soul, the vision of Him who reigns?

Is not the vision He? Tho He be not that which He seems?

Dreams are true while they last, and do we not live in dreams?

Earth, these solid stars, this weight of body and limb,

Are they not sign and symbol of thy division from Him?

Dark is the world to thee: thyself art the reason why�

For is he not all but thou, that hast power to feel �I am I�?

Glory about thee, without thee, and thou fulfillest thy doom,

Making Him broken gleams, and a stifled splendour and gloom.

Speak to Him thou for He hears, and Spirit with Spirit can meet-

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Closer is He than breathing, and nearer than hands and feet.

God is law, say the wise, O Soul, and let us rejoice
For if He thunder by law the thunder is yet His voice.

Law is God, say some: no God at all, say the fool,
For all we have power to see is a straight staff bent in a pool,

And the ear of man cannot hear, and the eye of man cannot see;
But if we could see and hear, this Vision � were it not he?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملایکو قدمونه

Henry Wadsworth Longfellow

چي د ورځي ساعتونه په ورو ورو پای ته رسېږي

او د شپې له تیاره غېږي اوازونه پورته کېږي

ویښوي له درانه خوبه هغه پاك غوره وګړي

چي د شپې په خاموش ټال کي له خوښۍ سره زنګېږي

چي لا نه وي لګېدلي د تیارې شپې ځراغونه

چي د اور له لمبو سیوري شاوخوا کي ځرګندېږي

جګي توري تنې ګرځي لکه وني د دېوانو

پښې لاسونه یې بې واکه پر دېوال باندي نخېږي

وروسته یو یو را ښکاره سي تصویرونه مي د تللیو

د کوټې ور مي پرانیستی په خپل وار را داخلېږي

تصویرونو مي د ګرانو د ریښتونو د پاك زړو

یو ځل بیا راته راغلي په انګړ کي مي تاوېږي

چي آرزو یې د میدان وه هغه ځوان په زړه غښتلی

د سړك پر غاړه مړ سو د ژوندون له مزله ستړی

او هغوی چي ملایان وه مقدس کمزوري زړونه

ځړېدل چي یې په غاړه صلیبونه امېلونه

پر دې مځکه یې ونه کړې نور زموږ سره خبري

پر سینو یې وه نیولي خپل کمزوري ژړ لاسونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له دوی سره ملګرې هغه ځوانه هغه ښکلې

پر ځوانۍ چي مي اسمان وه پېرزو کړې را بخښلې

چي راتېره تر هر چا وه زړه يې ډك و زما له ميني

د ولي په څېر اوسېږي په جنت کي نازولې

فرشته په بې آوازه په آرامو قدمونو

سي راکښته خوله يې ډکه د خالق له پيغامونو

زما له څنګه سره کښېني په ورو ورو راته مسېږي

په کراره مي لاس کښېګږدي پر اوږو بيا پر لاسونو

په ځير ځير مي خوا ته ګوري راته دوې سترګي نيولي

لکه ستوري د اسمان وي مخ پر مځکه ځلېدلي

دوې يې سترګي لکه ستوري مقدسي او خاموشي

د آسمان له نوره ډکي هم ښايستې وي هم سپېڅلي

زه په هر څه باندي پوه سم څه يې نه وي لا ويلي

بې آوازه يې له شونډو وي دعاوي را ايستلي

يو ترټل راکي له نازه بيرته لاس پر سر راتېر کي

د نسيم په څېر لطيفي دوې يې شونډې نازولي

وايي څرنګه تنها يې ژوندون څرنګه تېرېږي؟

او د زړه مي ټولي وېري له دې ږغ سره هېرېږي

کشکي مځکي خو خبر واى کشکي دونه پوهېدلاى

چي يې ژوند کړى همداسي له دنيا څخه تېرېږي

Henry Wadsworth Longfellow

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Footsteps of Angels

When the hours of Day are numbered,
And the voices of the Nights
Wake the better soul, that slumbered
To a holy, calm delight.

Ere the evening lamps are lighted,
And, like phantoms grim and tall
shadows from the fitful firelight
Dance upon the parlor wall

Then the forms of the departed
Enter at the open door
The beloved, the true-hearted,
Come to visit me once more;

He, the young and strong, who cherished
Noble longing for the strife,
By the roadside fell and perished,
Weary with the march of life!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



They, the holy ones and weakly
Who the cross of suffering bore
Folded their pale hands so meekly
Spake with us on earth no more!

And with them the being beauteous
Who unto my youth was given
More than all things else to love me
And is now a saint in heaven

With a slow and noiseless footstep
Comes that messenger divine,
Takes the vacant chair beside me,
Lays her gentle hand in mine

And she sits and gazes at me
With those deep and tender eyes,
Like the stars, so still and saint-like,
Looking downward from the skies

Uttered not, yet comprehended,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Is the spirit's voiceless prayer
Soft rebukes, in blessings ended
Breathing from her lips of air,

Oh, though oft depressed and lonely
All my fears are laid aside,
If I but remember only
Such as these have lived and died!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوه ورځ په کرونده کي

A.E Houseman 1859 � 1936

زه او ګرانه يو کال مخکي کرونده کي تېرېدلو

د شنو ونو په سايو کي لاس په لاس ملګري تللو

د غونډۍ په څنګ کي شنه وه د سپېدار ونه ولاړه

د خپل ځان سره لګيا وه په کيسو په جګه غاړه

چي دا څوك دي لاس تر غاړه مچوي دلته تېرېږي

اطرافي زلمی روان دی خپلي ګراني ته پسخېږي

دوه مين دي داسي ښکاري يوه شپه خو به ودېږي

يوه کور کي به اوسېږي پر يوه کټ به ويدېږي

مګر ګرانه به يې ومري په لحد کي به ښخېږي

او زلمی به لاس تر غاړه بلي ښکلي ته خندېږي

يوه ورځ د هغې وني تر سايې لاندي روان يم

راسره ده بله ګرانه بې خبره له جهان يم

او هغه سپېدار ولاړ دی را الوتي دي بادونه

په نخرو په ناز کړېږي رپوي لانده برګونه

چي لندي پاڼي يې ښوري زه پوهېږم چي څه وايي

دا ځل ګډ دی زما ليلا ته او ښکلا د هغې ستايي

وايي ګوره هغه ښکلې چي له يار سره تېرېږي

دا چي لاس په لاس روان دي په کيسو چي نه مړېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی به ځي پر خپله لاره مخ به نیسي گورستان ته

دا به بل جانان پیدا کي او ودېږي به بل ځوان ته

A. E. Houseman (1859 - 1936)

Along the field as we came by

Along the field as we came by

A year ago, my love and I,

The aspen over stile and stone

Was talking to itself alone

�Oh who are these that kiss and pass?

A country lover and his lass;

Tow lovers looking to be wed;

And time shall put them both to bed,

But she shall lie with earth above

And he beside another love�.

And sure enough beneath the tree

There walks another love with me

And overhead the aspen heaves

Its rainy-sounding silver leaves;

And I spell nothing in their stir,

But now perhaps they speak to her

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And plain for her to understand

They talk about a time at hand

When I shall sleep with clover clad,

And she beside another lad.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انسان

Sir John Davis

زه پوهېږم زما په روح کي دونه زور دی

چي په ژوند کي په هر څه دی پوهېدلی

خو بیا ګورم دونه ړوند دونه ناپوه دی

لکه عمر چي یې هیڅ نه وي لیدلی

زه پوهېږم چي زه هم په دې جهان کي

یو پاچا یم له کوچنیو پاچاهانو

خو تابع یمه د داسي پستو هیلو

لکه یمه چي غلام د غلامانو

زه پوهېږم چي مي ټول ژوند دی دردونه

بېهوده وړمه پر زړه باندي زخمونه

هر احساس مر د دروغو ننداره ده

له هر څه سره مي سست دي پیوندونه

خو چي سر پر زنګانه یا په ګرېوان کړم

زه پوهېږم بل څه نه یمه انسان یم

زه تر هر څه یم بدبخته او پرېوتی

خو مغرور په خپل نامه او په خپل ځان یم

Sir John Davies (1569 � 1626)

Man

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I KNOW my soul hath power to know all things

Yet she is blind and ignorant in all;

I know I'm one of Nature's little kings

Yet to the least and vilest things am thrall

I know my life's pain and but a span

I know my sense is mock'd in everything

And, to conclude, I know myself a Man

Which is a proud and yet wretched thing.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چي په مرګ پوه سوی یم

Helen Hoyt

له هغه چي په مرګ یم پوهېدلی

چي یې ببري چي یې وهم یم وهلی

راته ګرانه د ژوندون هره شېبه ده

چي له نومه د مرګي یم ببرېدلی

په دنیا کي ډېر غمونه لږ دوستان دي

لږ وګړي غمشریك دي لږ خپلوان دي

څه یارانو رانه سترګي کړلې پټې

نازېدلې پرې سبزې د ګورستان دي

له هغه چي په مرګي یم پوهېدلی

چي مرګی مي دی پر څنګ باندي راغلی

نرۍ څونه ښایسته راته ښکارېږي

چي تور کومي د مرګي ځان راښودلی

مرغلري مي شېبې راته ښکارېږي

چي وروستۍ ورځي او شپې را څرګندېږي

له هغه چي په مرګي یم پوهېدلی

چي د شپې په څېر تور مخ مي یې لیدلی

زما د زړه تیاره کونجونه یې روښان کړل

چي احساس مي د مرګي پر ځلېدلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما هغې تيارې بينا کړې دواړې سترګې

دا ژوندون ماته مرګي دی رابخښلی

Helen Hoyt

Since I Have Felt the Sense of Death

SINCE I have felt the sense of death
Since I have borne its dread, its fear
Oh, how my life has grown more dear
Since I have felt the sense of death
Sorrows are good, and cares are small,
Since I have known the loss of all.

Since I have felt the sense of death
And death forever at my side
Oh, how the world has opened wide
Since I have felt the sense of death!
My hours are jewels that I spend,
For I have seen the hours end.

Since I have felt the sense of death,
Since I have looked on that black night
My inmost brain is fierce with light

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Since I have felt the sense of death
O dark, that made my eyes to see
O death, that gave my life to me!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پیسې

Barnabe Googe

ما ته پیسې راکړه در واخله خپلوان

چې بده ورځ راسي بیا نه وي دوستان

په هغه ورځ چې دي جېبونه ډك وي

چې له پیسو دي صندوقونه ډك وي

نه به رنځونه تاوانونه وينې

نه په اغزو کې به مزلونه وينې

چې دي طلاوي پر کور اوري هلته

دوستان په ورین تندي درګوري هلته

چې زر نیستي سي د دوستۍ نېستي سي

نه به یاران وي نه یې سیوري هلته

که پسې مځکه اسمانونه ګورې

که پسې کلي او ښارونه ګورې

نه به یاران نه به دوستان کې پیدا

نه به د میني مجلسونه ګورې

او چې طلا وي زر دوستان به لرې

په ډلو ډلو اشنایان به لرې

نه به دي زړه وي د غم پېټي ته جوړ

نه په سینه کې یو ارمان به لرې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Barnabe Googe

Of Money

Give money me, take friendship whoso list

For friends are gone, come once adversity,

When money yet remaineth safe in chest

That quickly can thee bring from misery

Fair face show friends when riches do abound;

Come time of proof, farewell, they must away

Believe me well, they are not to be found

If God but send thee once a lowering day.

Gold never starts aside, but in distress,

Finds away enough to ease thine heaviness.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نیروانا

Edmond Gore Alexander Holmes 185 - 1906

خدای چي خپل خلقت ته ګوري له دننه

زه يې هم په هغو سترګو سم ليدلای

د ښايست شا ته يې پټ دي کمالونه

د زور شا ته اراده يې سم کتلای؟

زه ليدای سم په موسم د پسرلي کي

چي د ژوند لمبه له مځکي پورته کېږي؟

زه کتلای سم چي موج د ژوندون څنګه

له صفا او دايمي چينې نه زېږي؟

زه کتلای سم د دوبي په موسم کي

خدای په خپل قدرت کي لمر پر اسمان پورته

د سپوږمۍ روښانه شپه کي سم ليدلای

چي آرامي ښپې څنګه ځي هر لور ته؟

لا هم دی ځانته نژدې سمه ليدلای

تپوم په تاريکه کي چي لاسونه؟

او د ده د نور خوښي ده چي مي غورځي

په سينه کي د زړګي تاوده رګونه

د ساړه ژمي په شپو کي يې بلېږي

د تودې ميني روښانه سره اورونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ظاهر دی په جهان کي زه يې وينم

څه چي خدای ويني هغه نه سم ليدلای

چي باطن دی هغه ذات د ستر خالق دی

د ظاهر نړۍ پر هيڅ نه سم شمېرلای

څه بېځايه ده آرزو د پوهېدلو

سترګي نه دي د باطن د پېژندلو

خدای د خپل ذات په لويي سي پوهېدلای

خدای ته مينه د خدايي سي ښکارېدلای

له ما پټ دي زړه او روح د کايناتو

زه په خپلو سترګو هيڅ نه سم ليدلای

زه يوازي تر پښو لاندي مځکه ګورم

زه يوازي پاس اسمان سمه ليدلای

څه بېځايه ده آرزو د پوهېدلو

زه د روح په اسرار کله پوهېدای سم

نه د عقل له زندانه سم وتلای

نه د خپل غرور له بنده خلاصېدای سم

زه د خپلي خودۍ فکر يم بېل کړی

د دي بشپړ ژوندانه له پراخ جهانه

زما نړۍ هم رانيژدې ده هم باريکه

او د خدای نړۍ هم ستره هم پرېمانه

څه به پوه سم د وختي سهار له رازه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ختيځه چي سرې وړانګي راښکارېږي

چي شبنم د ګل په غېږه کي ځلېږي

چي بلبلي باندي الوزي چغېږي

زما دننه د کوګل په مړو ايرو کي

يو ناڅاپه يوه سره لمبه بلېږي

او ښايست مي د خالق په سترګو وينم

نقابونه راته يو په يو څيرېږي

څېرل کېږي نقابونه رڼا کېږي

زه تېرېږمه له وېري له ګومانه

زه ورکېږم د خالق په عظمت کي

يو ځای کېږمه له ذاته د يزدانه

زه راکاږمه نړۍ خپلي سينې ته

استومه مي خپل روح له خپله ځانه

نور مي زړه ته هر تپش راځي له خدايه

زه د خدای په نور کي پروت يم بې ګومانه

آرزو ومري په شېبه د زېږېدلو

د مستيو نېکمرغيو د خوښيو

داسي ومري چي ثمر يې راته ښيي

د ژوندون له تورو شپو د خوشحاليو

داسي مرګ دی چي د ژوند له تورو ورځو

د اميد او د بري وړانګي ځلېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زګېروي او د فرياد له خوړمن غېږه

زمزمې د مناجات اورېدل کېږي

پر زړګي مي سي د مرګ آرزو غالبه

چي مي ژر د ژوندانه ورځي ختمېږي

هغي پټي دايرې ته ور کشېږم

تر ابده چي حيات پکښي هستېږي

د اسرارو دايرې ته ځم د ميني

چي پخپله د خدای روح پکښي جوړېږي

چي هم مينه جوړوي هم مينه غواړي

چي په مينه کي طالب مطلوب يو کېږي

اې د ټول جهان خالقه ستره خدايه

غواړم خپل وجود مي محوه کړم په تا کي

پرېږده بيرته هغه څه سم چي دي جوړ کړم

يو شغله ستا د لمبې سم په بقا کي

چي د نفس له ناپاکيو وجود پاك کړم

او د خپل خالق په ذات کي مي لمبه سم

تر هغو پوري سوځېږمه بلېږم

چي د اور د سرچينې ورکه ذره سم

چي راغلی وم هغه جهان ته ورسم

په ازل کي تر ابد پوري دېره سم

Edmond Gore Alexander Holmes (1850- 1906)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Nirvana

COULD my heart but see Creation as God sees it,- from within;

See His grace behind its beauty, see his well behind its force;

See the flame of life shoot upward when the April days begin;

See the wave of life rush outward from its pure eternal source;

Could I see the summer sunrise glow God�s transcendent hope;

See His peace upon the waters in the moonlit summer night;

See Him nearer still when, behind, in the depths of gloom I grope

See the darkness flash and quiver with the gladness of His light

Could I see the red-hot passion of His love resistless burn

Through the dumb despair of winter, through the frozen lifeless cold;

Could I see what lies around me as God sees it, I should learn

That its outward life is nothing, that its inward life is God

Vain the dream! To spirit only is the spirit-life revealed:

God alone can see God�s glory: God alone can feel God�s love.

By myself the soul of Nature from myself is still concealed;

And the earth is still around me, and the skies are still above.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Vain the dream! I cannot mingle with the all � sustaining soul;

I am prisoned in my senses; I am pinioned my pride;

I am severed by my selfhood from the world-life of the Whole,

And my world is near and narrow, and God�s world is waste and wide.

Vain the dream! Yet in the morning, when the eastern skies are red,

When the dew is on the meadows, when the lark soars up and sings,

Leaps a sudden flame within me from its ashes pale and dead,

And I see God�s beauty burning through the veil of outward things.

Brighter grows the veil and cleaner, till, beyond all fear and doubt,

I am ravished by God�s splendour into oneness with His rest;

And I draw the world within me, and I send my soul without;

And God�s pulse is in my bosom, and lie upon God�s breast.

Dies the beatific vision in the moment of its birth;

dies, but in its death transfigures all the sequence of my days,

Dies, but dying crowns with triumph all the travail of the earth,

Till its harsh discordant murmurs swell into a psalm of praise.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Then a yearning comes upon me to be drawn at last by death

Drawn into the mystic circle in which all things live and move,

Drawn into the mystic circle of the love which is God�s breath

Love creative, love receptive love of loving, love of love.

God! The one, the All of Being! Let lose my life in thine;

Let me be what Thou hast made me, be a quiver of Thy flame.

Purge my self from self�s pollution; burn it into life divine;

Burn it till it dies triumphant in the firespring whence it came.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انزوا

Solitude Alexander (1688 � 1744)

خومره ښه ده چي سړي ته يو څه مځکه وي ور پاته

آرزوګاني يې پوره وي احتياج نه لري و چاته

په تازه هوا کي ګرځي د پلرونو د پټيو

زړه فارغه له غمونو ورته مخ وي د خوښيو

ډوډۍ وړي له خپلي مځکي شيدې اخلي له څارويو

او د تن جامه يې جوړه د پسونو له وړيو

په يخ سيوري کي د ونو تېري ټکنده غرمې کړي

او له بوټو يې اور بل کړي پرې د ژمي شپې تودې کړي

څه نېکمرغه وي دا خلك بې خبره له غمونو

نه ګړی نه ورځې شماري نه حساب يې د کلونو

په تن پټ وي په ځان روغ وي نا آشنا وي له دردونو

نه زړه کور د اندېښنو وي نه ماغزه ځای د چرتونو

ورځ آرام وي او په شپو کي په درنو خوبو ويدېږي

په مېلو په سات تېري يې د ژوندون شېبې تېرېږي

کله ډوب وي په کتاب کي تېروي باندي وختونه

کله پروت وي په آرامه د خوښۍ کوي فکرونه

خدايه ما ته رانصيب که داسي عمر نازولی

چي نه چا يمه ليدلی چي نه چا يم پېژندلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي زه مړ سم نه په اوښکو نه په ساندو چا ته یاد یم

داسي هېر سمه له خلکو لکه وړی چي تونډ باد یم

مرګ مي غلا کړي له جهانه لکه نه یم چا لیدلی

نه د قبر پر ډبره راته نوم وي چا لیکلی

Alexander Pope (1688 � 1744)

Solitude

Happy the man, whose wish and care

A few paternal acres bound,

Content to breath his native air

In his own ground.

Whose herds with milk, whose fields with bread,

Whose flocks supply him with attire,

Whose trees in summer yield him shade,

In winter, fire.

Blest, who can unconcernedly find

hours, days, and years slide soft away

in health of body, peace of mind,

Quiet by day

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



sound sleep by night, study and ease
together mixed, sweet recreation
and innocence which most does please
With meditation

Thus let me live unseen, unknown;
Thus unlamented let me die
Steal from the world, and not a stone
Tell where I lie.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بالآخره څه؟

Thomas Carlyle 1795 � 1881

هیله څه شي ده یارانو د بوډۍ ټال دی مسېږي

ماشومان ورپسي ځغلي پر مخ لوېږي پورته کېږي

چي هر څه ورپسي ځغلي لیري کېږي لا هغومره

ماشوم لاس او مخ لړلي تر هدفه نه رسېږي

ژوند به څه شي وي دوستانو د اوبو پر مخ یخی دی

پر ساحل باندي لوېدلی او توند لمر باندي ځلېږي

مورږ خوشاله سمندر کي په موجونو کي روان یو

یخی ویلي سي غرقېږي نښانه مو نه ښکارېږي

انسان ماته داسي ښکاري چي ساده غوندي ماشوم دی

هر تلاښ یې دی بېځایه که جنګېږي که کړېږي

وایي ټول جهان دي زما وي مګر دی لایق د هیڅ دی

یو وړوکی تیاره قبر هر انسان ته ور رسېږي

Thomas Carlyle (1795 � 1881)

Cui Bono

What is hope? A smiling rainbow

Children follow through the wet

Tis not here, still yonder, yonder:

Never urchin found it yet.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



What is life? A thawing iceboard
On a sea with sunny shore
Gay we sail; it melts beneath us
We are sunk, and seen no more.

What is man? A foolish baby
Vainly strives, and fights, and frets;
Demanding all, deserving nothing
One small grave is what he gets.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موږ به نور په شپو کې نه ګرځو

جورج ګورډون بایرن

نور به نه ګرځو په شپه کې رانه پاته دي خیالونه

د تیارې شپې په ګرېوان کې به نور نه ایږدو ګامونه

مالا مال به وي له مینې له زلمي لېوني زړونه

له ښایستې سپوږمۍ به اوري لا د وړانګو خرمنونه

خو د روح کورګی وران سوی په سینه کې یې ځای نسته

او د توري تېکی زوږ دی پکښې نه راځي تېغونه

ستړی زړه غواړي هوسا سي له اوږدو سختو مزلونو

مینه هم لا ستړې سوې د آرام غواړي خوبونه

که څه شپې خو لا باقي دي او لا مینې ته جوړېږي

او رڼا د سپینو ورځو لا سپړي د شپو رازونه

خو له موږ څخه دي پاته ګرځېدل د شپې په زړه کې

نه به بیا هغه سپوږمۍ وي نه ستانه به سي وختونه

George Gordon Byron

So, we'll go no more a roving

So, we'll go no more a roving

so late into the night

Though the heart be still a loving

And the moon be still as bright

For the sword outwears its sheath,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And the soul wears out the breast,

And the hearth must pause to breath,

And love itself have rest.

Though the night was made for loving

And the day returns too soon

Yet 'll go no more roving

By the light of the moon.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دايمي ښکلا

Thomas Carew

چي پر سرو سرو اننگيو خلکو زړونه وي بايللي

يا پر سرو مرجاني شونډو وي مين په زړو نتلي

يا د تورو غټو سترگو لېوني ورپسي ورك وي

او د ميني په لمبو يې خپل اورونه لگولي

او چي واوړي پرې گلونه ښکلا مړاوي سي زړېږي

نو د ميني سرې سکروټې په ورو ورو پسي سړېږي

خو چي ټينگي ارادې وي د مغزونو او د زړونو

وعدې تش نغري نه وي د لمبو د شهوتونو

زړونه يو له بله ورکړي د وفا د ميني ويني

تر قيامته به بلېږي اور د ميني د اورونو

ځو چي داسي وعدې نه وي زه له ټولو يم بېزاره

له سرو شونډو اننگيو هم د سترگو له خماره

Thomas Carew (1595? _ 1639?)

The Unfading Beauty

He that loves a rosy cheek

Or a coral lip admires,

Of from star-like eyes doth seek

Fuel to maintain his fires

As old Time makes these decay,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



So his flames must waste away.

But a smooth and steadfast mind

Gentle though and calm desire

Hearts with equal love combined,

Kindle never-dying fires.

Where these are not, I despise

Lovely cheeks of lips or eyes.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه داړه ماران

Wilfred Scawen

زه له وخت سره په جنګ یم له عمرونو

دا جګړه مو ده روانه له کلونو

زما له ژونده یې غلا کړي ورځې شپې دي

رانه وړي یې شېبې دي په جنګونو

لمر لوېدل مې پر افق نه دي لیدلي

چې پر زړه باندې مې بار نه وې غمونه

نه مې مخ ته رژېدلې ژړې پاڼې

چې د اوښکو مې روان نه وې سېلونه

ما له وخته سره سوله نه ده کړې

نه د وخت ملګری، مرګ سره پر لار یم

جنایت یې دی د نوم سره تړلی

زه یې هره شېبه مرګ لره په کار یم

د فاني دنیا پر مخ چې ژوندي پایي

خوار نفس او ژوندون هر چا ته شېرین دی

مرګ او وخت دي غلیمان له ټولو ژوو

د هر چا زړه یې له نومه څخه خوږین دی

لاروي ورنه بېرېږي په لړزه سي

د دې دواړو داړه مارو له بړغونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي يې هره شېبه بړغ د چا تر غوږ سي

د ژوندون لمبه يې تښتي له رګونو

وايه اې ظالمه وخته راته وايه

زما له ژوند سره دي ولي مدعا ده

مرګه ولي خامخا غېږي ته درسم

څه تاوان دي زما ليدلی څه خطا ده

Wilfrid Scawen blunt. b. 1840

The Tow highwaymen

I long have had a quarrel set with Time

Because he robb'd me. Every day of life

Was wrested from me after bitter strife;

I never yet could see the sun go down

But I was angry in my heart, nor hear

The leaves fall in the wind without a tear

Over the dying summer. H have known

No truce with time not Time�s accomplice, Death.

The fair world is the witness of a crime

Repeated every hour. For life and breath

Are sweet to all who live; and bitterly

The voice of these robbers of the heath

Sound in each ear and chill the passer-by

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



What have we done to thee, thou monstrous Time?

What have we done to Death that we must die?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنګ

Wilfrid Wilson Gibson

رانه خلك پر هر موړ كوي پوښتني
چي زه چيري كومي خاوري ته وم تللى
څه مي كړي څه ليدلي اوريدلي
زه له كوم ولاته ستړى يم راغلى
مګر څنګه به د خلكو جواب وركړم
زه به څه وايم له خپلو داستانونو
چي زه نه وم، بل سړى په سفر تللى
څه خبر يم زه د بل په سفرونو
خو هغه چي په سفر و روان سوى
زما په رنګ و كټ مټ زما په شان سړى و
يه كښتۍ كي سو نيهام تر دريابونو
د جنګونو په ميدان كي توريالى و
زما په سر زما په وجود زما په لاسونو
ډېر يې قتل كړل سړي د هيوادونو
زه يې څكه ملامت پر تندي ورمه
زما په نوم يې ميدان تود كړ د جنګونو

Wilfrid Wilson Gibson

Battle

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



THEY ask me where I �ve been,

And what I�ve done and seen

But what can I reply

Who know it wasn�t I

But someone, just like me,

Who went across the sea

And with my head and hands

Slew men in foreign lands �

Though I must bear the blame

Because he bore my name.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# باد او د کړکۍ شاته ګل

Robert Frost

مینه والو مینه وباسئ له زړونو
دا د میني داستان واورئ په غوږونو
دا یو ګل وو په کړکۍ وه ولاړه
دی سوړ ژمی ورسره پوخ د بادونو
سوړ نقاب چي د کړکۍ پرېووت د ورځي
او یخی ورباندي ویلي سو غرمه سوه
په قفس کي قنرۍ پر مستي راغله
د ګل خنګ ته یې آواز نغمه نغمه سو
ده له لیري ګل په نښه کړ شیبنه کي
د اجل غشی یې کښېښود په دسته کي
د ګل خنګ ته په مستۍ په غرور تېر سو
چي راځي ورته په شپه کي په تیاره کي

دی د ژمي ظالم باد وو را الوتی
ورسره وو پوخ د واورو د یخونو
ده وژل کړل د مرغانو د تخمونو
دی خبر نه وو د میني په رازونو
مګر ده اه له چارچوبه سره وایست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټك يې ورکړ ځو کړکيو د ګل کور ته

هغوی ټوله شاهدان د ده د زور وه

ويښ چي پاته هغه شپه وه څنګ د اور ته

دی نيژدې وو خپل هدف ته رسېدلی

چي په تېښته ګل ملګری د خپل ځان کي

له کړکۍ له تودې خونې يې را ښېل کړي

ور په برخه يې سوړ ژمی ګورستان کي

خو ګل ځان د کړکۍ څنګ ته نيهام کړی

په اختيار يې سپوږ له خولې نه وو ايستلی

چي سهار کړې لمر خپرې زرينې وړانګې

باد تر ليري وطنونو وو تېر سوی

Robert Frost

Wind and Window Flower

lovers, forget your love,

And list to the love of these

She a window flower

And he a winter breeze.

When the frosty window veil

Was melted down at noon

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And the caged yellow bird
Hung over her in tune.

He marked her through the pane,
He could not help but mark
And only passed her by
To come again at dark.

He was a winter wind
Concerned with ice and snow
Dead weeds and unmated birds,
And little of love could know.

But he sighed upon the still,
He gave the sash a shake,
As witness all within
Who lay that night awake.

Perchance he half prevailed
To win her for the flight
From the firelit looking-glass

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And warm stove-window light

But the flower leaned aside
And thought of naught to say,
And morning found the breeze
A hundred miles away.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ليري په دښت کي

تامس پرينګل

چېري ليري په صحرا کي پر آس سپور واى ګرځېدلاى
او تر څنګ مي يو شپونکى واى او هغه هم ځغلېدلاى
چي پر روح مي راخپاره سي د ژوندون تياره غمونه
چي له نن څخه سم سترِى يادوم زاړه وختونه
چي مي سرېِ سترګي سي ډکي چي د اوښکو فوارېِ سي
را په ياد مي تېر وختونه او شيريني خاطرېِ سي
لکه سيورى زما د ورځو تښتېدلى له وختونو
د ارواح په شان راپرېوزي زما د مغز پر کونجونو
په يوه رپ کي د سترګو سول نيهام رنګين خيالونه
د ځوانۍ د غرمېِ تېر سول طلايي خواږه خوبونه
په قسمت يا په دروغو چي ملګري وه روان سول
يا يې پرېښودم يا ورك مي د زړو وختو ياران سول
زما په ژوند يې جادو کړى د وطن نوم چي په زړه کم
په سينه کي مي اور بل سي لکه زړه ته چي لمبه کم
هغه کور د ماشومتوب مي هغه مېنه د ځوانۍ مي
ها ټاټوبى د يادونو ها جونګړه د مستۍ مي
چي زلمي مي احساسات وه چي لا نوې وه نرۍ مي
لکه ځانګي په جنت کي راته وسپړي غوټۍ مي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول هېر سوي، پاته سوي، له يادونو دي وتلي

په پردي وطن کي پروت يم د هستۍ مزې مي تللي

هر هدف مي سو نيمګړی د ژوند ټول کاروانه وران دي

په زړه شين يم له جهانه څه چي لاندي تر اسمان دي

زه له دغي خواشينيه ليري ځمه تر دښتونو

چي اواز پکښي وانه ورم د آدم د اولادونو

☒☒☒

چيرته ليري په صحرا کي پر آس سپور وای ګرځېدلای

او تر څنګ مي يو شپونکی وای چي شپېلۍ يې ږغولای

د دې سترې ژوند په غېږ کي هم وحشت هم غلبلې دي

هم فساد دی هم تېری دی هم د جنګ پورته لمبې دي

سرکښان ورته په قار دي بېرېدونکي ترې ډارېږي

د ظالم د قاه قاه ږغ دی د مظلوم اوښکي تويېږي

بدنيتي ده، شرارت دی، ټول دروغ دي تېر ايستل دي

دې نړۍ ته حيرانېږم کوم پردي دي کوم يې خپل دي

چي پخپله يم نېکمرغه چي په زړو کي زنګېږم

د نېستمنو پوروړو مجبورۍ ته چي ژړېږم

دا خوښي ده آزادي ده زه دي تل په نازېدلای

چېرته ليري په صحرا کي پر آس سپور وای ګرځېدلای

په مستۍ په بېخودۍ کي پر يو ښکلي نيلي سپور وای

د ګوربت په وزر تللای هر بازو مي ډك له زور وای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډك توپك مې پر اوږه واى چې مرگى پكښې اوسېږي

د دښتونو په لمن كې همدا يو قانون چلېږي

□□□

چيرته ليرې په صحرا كې پر آس سپور واى گرځېدلاى

او تر څنگ مې يو شپونكى واى چې شپېلۍ يې ږغولاى

ليرې ليرې له دې خلكو له ټولۍ د انسانانو

په وطن كې د ښاروېو په كاله كې د هوسيانو

په لمنو كې د غرونو چې غرڅه پكښې لوبېږي

په دښتو كې په ځنگلو كې چې هوسۍ پكښې څرېږي

چې نارې وي د پيلانو پاچهي كړي پر ځنگلونو

چې شيشنى وي د آسونو بېره نه وي له سېلونو

□□□

چېرته ليرې په صحرا كې پر آس سپور واى گرځېدلاى

او تر څنگ مې يو شپونكى واى چې شپېلۍ يې ږغولاى

ليرې ليرې په دښتو كې په وطن كې د زوزانو

چې يو پل ور باندې نه وي هلته ايښې سپين پوستانو

وچ بيابان وي انگولاوي تر غوږ كېږي د سېليو

ترې وتلې انسانان وي له وحشته د قحطيو

چې يوازې د كربوړو د مارانو ځالگۍ وي

لړمان پكښې اوسېږي مځكه سره لكه تبۍ وي

چې نه ونې نه واښه وي نه گلونه زرغونېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالي کور وي د اغزيو چي له ښښو سره جوړېږي

مړغوني وي پرېمانه د چښلو د خوړلو

بل څه نه وي مساپر ته د روژې د ماتولو

نه ډنډونه د اوبو وي نه روان پکښي سيندونه

نه پر غاړو يې ولاړي جګي وني شنه ځنګلونه

سترګي سوځي له کتلو اور له دښته پورته کېږي

تش سراب وي چي ښکارېږي او سور لمر وي چي ځلېږي

د ژوندون چينه وي وچه انسان نه باندي اوسېږي

شاوخوا توره تياره وي او لا هم پسي خپرېږي

هلته شپه وي خاموشي وي باد الوتی وي بيابان کي

سترګکونه وهي ستوري او ځلېږي په آسمان کي

له وطن د انسانانو داسي ځای ته يم راغلی

د ايلياس په څېر ګوښه يم د هوريب په غار کي غلی

په هغه ګوښه کي اورم يو آواز غوږ ته راغلی

لکه پلار په نرم ږغ وي مرور زوی نازولی

خواشيني، وېره، وحشت مي رانه ځي په فرسخونو

راته وايي انسان ليري خدای نيژدې تر ښارګونو

Thomas Pringle (1789 � 1834)

Afar in the Desert

Afar in the desert I love to ride,

With the silent Bush-boy alone by my side:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



When the sorrows of life the soul o'ercast

And sick of the Present, I cling to the Past

When the eye is suffused with regretful tears

From the fond recollections of former years

And shadows of things that have long since fled

Flit over the brain like the ghosts of the dead:

Bright visions of glory that vanish too soon

Day-dreams -- that departed ere manhood's noon

Attachments -- by fate or by falsehood reft

Companions of early days lost or left:

And my Native Land � whose magical name

Thrills to the heart like electric flame:

The home of my childhood the haunt of my prime

All the passions and scenes of that rapturous time

When the feeling were young and the world was new.

Like the fresh bowers of Eden unfolding to view

All -- all now forsaken � forgotten � forgotten

And I � an lone exile remembered of none

My high aims abandoned my good acts undone

Aweary of all that is under the sun

With that sadness of heart which no stranger may scan

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



A fly to the Desert after from man!

Afar in the desert I love to ride,
With the silent Bush-boy alone by my side:
When the wild turmoil of this wearisome life
With its scenes of oppression, corruption and strife
The proud man�s frown, and the base man�s fear
The scorner�s laugh and the sufferer�s tear
And malice and meanness and falsehood, and folly,
Dispose me to musing and dark melancholy;
When my bosom is full and my thoughts are high
And my soul is sick with the bondman�s sigh
Oh ! then there is freedom and joy, and pride
Afar the Desert alone to ride!
There is rapture to vault on the champing steed
And to bound away with the eagle�s speed
With the death-fraught firelock in my hand
The only law of the Desert Land!

Afar in the desert I love to ride,
With the silent Bush-boy alone by my side:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Away � away from the dwellings of men

By the wild deer�s haunt, by the buffalo�s glen

By valleys remote where the oribi plays

Where the gnu the gazelle and the hartebeest graze

And the kudu and eland unhunted recline

By the skirts of grey forests o�erhung with wild-vine;

Where the elephant browses at peace in his wood

And the river-horse gambols unscared in the flood,

And the mighty rhinoceros wallows at will

In the fen where the wilds-ass is drinking his fill.

Afar in the desert I love to ride,

With the silent Bush-boy alone by my side:

O�er the brown Karroo, where the bleating cry

Of the springbok�s fawn sounds plaintively;

And the timorous quagga�s shrill whistling neigh

Is heard by the fountain at twilight grey,

Where the zebra wantonly tosses his mane.

With wild hoof scouring the desolate plain

And the fleet-footed ostrich over the waste

Hying away to the home of her rest

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Where she and her mate have scooped their nest

For hid from the pitiless plunderer�s view

In the pathless depths of the parched Karroo.

Afar in the desert I love to ride,

With the silent Bush-boy alone by my side:

Away � away in the Wilderness vast:

Where the White Man�s foot hath never passed

And the quivered Coranna or Bechuan

Hath rarely crossed with his roving clan

A region of emptiness, howling and drear

Which the snake and the lizard inhabit alone

With the twilight bat from the yawning stone

Where grass nor herb nor shrub takes root

Save poisonous thorns that pierce the foot,

And the bitter-melon, for food and drink

Is the pilgrim�s fare by the salt lake�s brink

A region of drought, where no river glides

Nor rippling brook with osiered sides:

Where sedgy pool, nor bubbling fount,

Nor tree, nor cloud, nor misty mount.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Appears to refresh the aching eye:

But the barren earth, and the burning sky

And the black horizon, round and round

Spread � void of living sight or sound.

And here, while the night-winds wound me sigh

And the stars burn bright in the midnight sky

As I sit apart by the desert stone

Like Elijah at Horeb�s cave alone

A still small voice comes through the wild

(like a father consoling his fretful Child)

which banishes bitterness, wrath, and fear,

saying � MAN IS DISTANT, BUT GOD IS NEAR!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آه ته زما قبر کینې

Thomas Hardy

گرانه ته مي هديرې ته يې راغلی

چي ګل بوټي مي د قبر سر ته کښېږدې

په دوو لاسو مي کینې د قبر خاوري

نښانه د لېونۍ میني دي پرېږدې

نه ! هغه پرون واده کړه یوه ښکلې

د دې ټوله ښار شته منه نازولې

ویل څه به ځان صادق ورته ساتمه

دا چي مړه ده نور یې نه آزارومه

څوك مي قبر ته کینلو ته راغلی

زما تر ټولو نیژدې خپل را رسېدلی

نه ! خبره یم هغوی به سره وایي

ګل د مړو په ښه کله ورغلی

چي هر څه يې په سینګار قبر ور جوړ کو

مرګ به کله د هغې له قبره سوړ کو

نو به څوك وي چي راغلی دې غرمه کې

زما دښمنه سیخ وهي په هدیره کې؟

نه ! هغې چي اورېدلي چي زه مړه یم

هدیرې ته ور وتلې پر کوڅه یم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ارزېږم په نفرت په دښمنیو

نه مي قبر دی مهم چي زه پرته یم

نو دا څوك دی چي كیني مي د گور خاوري؟

گوندي ږغ مي څوك د زړه په غوږو واوري

زما بي بي وړوكی سپی دي يم راغلی!

هديرې ته دي نيژدې يم هستېدلی

خدايه مه كړه چي آرام دي نا ارام كړم

او په گور كي دي هم خوب درته حرام كړم

آه ! دا ته یې دا زه پوه نه سومه ولي

چي وفا مينه دوستۍ دي چا ساتلي

څنگه راغلې هديرې ته زما تر گوره؟

زما پوښتني ته زما د سترگو توره

وفادار يې په ريشتيا تر انسانانو

هيڅوك نه لري وفا لكه د سپيانو

زما بي بي زه چي راغلی يم ستا گور ته!

چي مي مخ و رانيولی و دې لور ته

غواړم پټ كړم يو هډوكی ستا په خوا كي

چي له لوږي مي كي خلاص درد مي دوا كي

تېرېدم هسي پر لاري ناخبره

چي مي لار سوه ستا پر قبر برابره

بخښه غواړم كه مي ته يې ربړولې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا مي قبر كي له خوبه يې ايستلې

Thomas Hardy

Ah, Are You Digging on My Grave?

�Ah, are you digging on my grave

my loved one? � planting rue?�

�No, yesterday he went to wed

one of the brightest wealth has bred.

It cannot hurt her now,� he said,

That I should not be true.�

�Than who is digging on my grave?

My nearest dearest Kin?�

�Ah, no they sit and think, what use!

What good will planting flowers produce?

No tendance of her mound can loose

Her spirit from Death�s gin.�

�But some one digs upon my grave?

My enemy? Prodding sly?�

�Nay: when she heard you had passed the Gate

That shuts on all flesh soon or late,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



She thought you no more worth her hate,

And cares not where you lie.�

�Then who is digging on my grave?

Say � since I have not guessed!�

�O it is I, mistress dear,

your little dog, who still lives near

and much I hope my movement here

have not disturbed your rest?�

�Ah yes! You dig upon my grave�

why flashed it not on me

that one true heart was left behind!

What feeling do we ever find

To equal among human kind

A dog�s fidelity!�

�Mistress, I dug upon your grave

To bury a bone, in case

I should be hungry near this spot

When passing on my daily trot.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I am sorry, but I quite forgot

It was your resting-place.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له تيارې څخه رڼا راوزي

William Coper

خدای چې کارونه کوي څوك وربانديي نه پوهېږي

په سمندر کې گام ايږدي او پر توپان تېرېږي

په مهارت يې جمع کړي د کانونو ډېرې

له خزانو يې ډکه کړې ده دا لويه نړۍ

په خپله پاکه اراده له خپل کماله سره

هغه کوي چې يې ښايېږي له جلاله سره

زړونه پوره لرئ شيخانو چې ونه بېرېږئ

د تورو وريځو له هيبته څخه مه پټېږئ

که توري وريځې دي د رحم بارانونه کوي

لمن يې ډکه ده ځولۍ د نعمتونو لري

خدای ته به نه ايږدئ د خپل کمزوري عقل مېزان

پر عظمت اعتماد وکړئ د خالق د جهان

که يې بېرېږئ له جلال او له قدرته څخه

طمع يې سل چنده په کار ده له رحمته څخه

په هر ساعت کې به څرگند کې خپل مطلب د عمل

ښايي ترخه به وي غوټۍ گل به وي ډك له عسل

هغه ړاندي چې پر خدای باندي ايمان نه لري

هغه گمراه دی هغه برخه د يزدان نه لري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالق په خپلو کړو پوهېږي ترجمان نه لري

هغه قادر دی ضرورت د امتحان نه لري

William Coper

Light Shining out of Darkness

God moves in a mysterious way

His wonders to perform;

He plants His footsteps in the sea,

And rides upon the storm

Deep in unfathomable mines

Of never � failing skill,

He treasures up His bright designs,

And works His sovereign will.

Ye fearful saints, fresh courage take

The clouds ye so much dread

Are big with mercy, and shall break

In blessings on your head.

Judge not the Lord by feeble sense

But trust Him for His grace;

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Behind a frowning providence

He hides a smiling face.

His purpose will ripen fast

Unfolding every hour

The bud may have a bitter taste

But sweet will be the flower

Blind unbelief is sure to err,

And scan His work in vain:

God His own interpreter,

And he will make it plain.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دايمي ژوندون

Matthew Arnold 1822 � 1888

چي له خپلو انسانانو مو زړه شين سي

چي د ژوند مو هر ګړی راته ناورين سي

نو مو لاس وي له وحشي نړۍ پرېولی

چي هر لوري ته يې مخ سي موږ منلی

هوسېږو ژوندانه د بل جهان ته

زړونه صبر فيصلو د شنه اسمان ته

چي هر څوك به په سزا هلته رسېږي

څوك چي دلته ښه دي هلته به لوړېږي

خو په بل جهان کي ستر قوي پوځونه

چي تل پايي باك يې نسته له ژوندونه

په څه سپك نظر به ګوري زموږ پر لوري

چي مات سوي يو زړه ماتي او کمزوري

که به دوی هم مهربان هغه زمان سي

په زړه سوي به يې نېکمرغه مظلومان سي

چي په ژوند کي مو ليدلي دي اورونه

اوس در واخلئ ساړه سيوري جنتونه

نه، نه ! اور د ژوندانه سي موږ ساتلای

په دي اور سو موږ تازه پاته کېدلای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې زور سو له لحده پاڅېدلای

خو له سره ژوندون نه سو پیل کولای

او یوازې هغه څوك هلته پایېږي

د جنت پر کوثرونو به اوبېږي

چې یې مرگ نه دی منلی په جهان کې

پاڅېدلی خروښېدلی په زمان کې

له سنگر څخه سنگر ته خوځېدلی

له برې څخه برې ته پاڅېدلی

د طاقت له تنستې یې زړه اودلی

هر میدان یې په مړانه وي گټلی

هغه پاڅې تشوي به کوثرونه

دایمې به یې وي برخه له ژوندونه

Matthew Arnold (1822 � 1888)

Immortality

Foil'd by our fellow-men, depree'd, outworn,

We leave the brutlal world to take its away

And Patience! In another life, we say

The world shall be thrust down and we up-borne.

And will not, then, the immortal armies scorn

The world�s poor, routed leaving? Or will they

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Who fail'd under the heat of this life's day,

Support the fervours of the heavenly morn?

No, no! the energy of life my be

Kept on after the grave, but not begun;

And he who flagg'd not in the earthly strife,

From strength to strength advancing � only he,

His soul well-knit, and all his battle won,

mounts, and that hardly, to eternal life.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تکیه پر ځان

Matthew Arnold (1822 � 1888)

هم له خپله ځانه تنګ یم هم ستړی له پوښتنو
څه شي وم څه شي باید وای څه حاصل له دې غوښتنو
د کښتۍ پر سر ولاړ یم وړي مې لیري تر موجونو
په اوبو کې ستوري ښکاري د آسمان د ماښامونو
زړه مې ډك له ارمانونو تماشه د څپو کړمه
سمندر ته او تر ستورو د آرزو لړۍ لېږمه
چې ماشوم غوندې مو غېږ کې ټوله عمر زنګولی
کراري غواړم تر پایه نن په سوال درته راغلی
هم څپو ته هم تر ستورو لېږم چیغې پیغامونه
یو ځل بیا جادو راوکړئ پر زړه نوې کړئ خوبونه
ورته وایم لږ کرار سئ چې مې سترګې در مړېږي
چې مې زړه لکه آسمان او سمندر داسې پراخېږي
د شینکي آسمان سینه ده له رڼو سترګو اودلې
تر موج خېزه سمندره د نور لاره ده راغلې
د څپو په غرغړو کې جواب راغی له آسمانه
زړه اسمان او سمندر که څه در سوې دې انسانه
پر هر لوري خاموشي ده خو دوی نه ورنه بېرېږي
نه یې فکر شاوخوا ځي نه یې زړه ته څه تېرېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه په خیال کي یې ورګرځي اسمانونه جهانونه

نه له چا خواخوږي غواړي او نه مینه سوغاتونه

چي د ستورو کار ځلا ده په خوښۍ د زړه ځلېږي

په څپو د سمندر کي سپوږمۍ څرنګه رغړېګږي

هر څه خپل پر سر روان دي هر یو کار کوي خپل ځان ته

نه ریا کوي نه طمع نه یې خوله وازه احسان ته

سمندر دی که څپې دي او که ستوري د اسمان دي

نه له کاره ستړي کېږي نه محتاجه د فرمان دي

نه یې پام پر حرکت وي د نړۍ او کایناتو

نه یې کار په انتظام سته د خالق د مخلوقاتو

چي څه زور خالق ورکړی په خپل کار یې تمام کړی

نه یې ورځ نه شپه معلومه نه هوسا لري نه ستړی

زه دي اورمه خواستونه هر آواز دي څرګندېږي

ستا یوه یوه ناره مي پر زړګي باندي ببلېږي

ملا دي وتړه په ټینګه په ژوندون کي چي خپل ځان سې

که دي خپل وجود پیدا کړ له غمو به په امان سې

Matthew Arnold (1822 � 1888)

Self-Dependence

Weary of myself, and sick of asking

What I am, and what I ought to be,

At this vessel's prow I stand, which bears me

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Forwards, forwards, o�er the starlit sea.

And a look o passionate desire
O�er the sea and to the stars I send:
�Ye who from my childhood up have calm�d up
Calm me, ah, compose me to the end!

�Ah, once more, �I cried, �ye stars, ye waters,
On my heart your mighty charm renew;
Still, still let me, as I gaze upon you
Feel my soul becoming vast like you!�

From the intense clear, star-sown vault of heaven,
Over the lit sea�s unquiet way,
In the rustling night-air came the answer:
�wouldst thou be as these are? Live as they.

Unaffrighted by the silence round them,
Undistracted by the sights they see,
These demands not that the things without them
Yield them love, amusement, sympathy.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



�And with joy the stars perform their shining,

And the sea its long moon-silver�d roll;

For self-poised they live, nor pine with noting

All the fever of some differing soul.

�bounded by themselves, and unregardful

In what state God�s other works may be,

In their own tasks all their powers pouring,

These attain the mighty life you see.�

O air-born voice! Long since, severely clear,

A cry like thine in mine own heart I hear:

�Resolve to by thyself, and know that he,

who finds himself, loses his misery!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما ښایسته لکه واوره

Edmond Spencer

زما ښایسته داسي سړه ده لکه واوره

او زه تود یم لکه سوځنده اورونه

څنګه راز دی نه پوهېږم چي دا ولي؟

کله کله واوره وخوري انګارونه

زما د مینې په دې سوځنده لمبو کې

د هغې د وجود واوره نه ویلېږي

په زاریو چي هر څو ور نیژدې کېږم

له واورین وجود یې نور غښتلی کېږي

او دا څنګه معمی ده څه اسرار دی

د لمبې په راز هم نه سم پوهېدلای

چي د دې په یخ وهلي سوړ زړګي کي

زما د مینې لمبې نه سي سړېدلای

وار په وار مي وجود اور اخلي تودېږم

په کوګل کي ایشېدلی خولې کېږم

او لا نوره مي لمبه پسي زیاتېږي

او لا نور د سره انګار په څېر بلېږم

وایه نوري به لا څه معجزې کېږي

چي په واوره کي اورونه نه سړېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تازه کېږي په کوګل کي يې سکروټې

او لا نوره يې لمبه پسي زياتېږي

داسي زور وي ميني کړی پر مغزونو

داسي مست جادو يې کړی وي په زړونو

چي د هر څه لاري واړوي په بله

پکښې اصل وي اوښتی د رنګونو

Edmund Spencer

My Love Is Like to Ice

My love is like to ice, and I to fire,

How come it then that this her cold is go great

Is not dissolved through my so hot desire

But harder grows the more I her entreat?

Or how comes it that my exceeding heat

Is not allayed by her heart-frozen cold

But that I burn much more in boiling sweat,

And feel my flames augmented manifold?

What more miraculous thing may be told,

That fire which is congealed with senseless cold

Should kindle fire by wonderful device?

Such is the power of love in gentle mind

That it can alter all the course of kind.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ورځې

Ralph Waldo Emerson

د زمان او د آسمان ښايستې لوڼې

سپينې ورځې په سپين مخ دې را رواني

لکه ډلې د ګونګيو خولې تړلې

لځي پښې لکه د عمر درويشاني

په قدم قدم رواني يوه ستوي

يو کتار يې وي جوړ کړی ناپايانه

په لاسو کې يې جوغې د جواهرو

ورسره د دار تمبې هم وي پرېمانه

د هر چا د زړه غوښتني ور پوره کي

پر مخلوق وېشي تحفې او سوغاتونه

چا ته ورکي پاچهي څوك په نس موړ کي

ورسره وي ډك له ستورو آسمانونه

زه د خپل باغ د ښاخلو منځ کې ولاړ وم

ننداري د ښکلي مارش وم حيران کړی

رانه هېر وه د وختي سهار خواستونه

په تلوار وم د مارش مخې ته وتلی

څه سابه او څه منې مې وې په لاس کې

وم حيران د ورځې مخ ته درېدلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دعا او د خواستونو وخت مي تير و

ورځ په چوپه خوله روانه سوه له مانه

ما يې تريو تندي کي ولوستل رازونه

سپك نظر يې راته وکړ سوم پښېمانه

Ralph Waldo Emerson (1803 � 1882)

Days

Daughter of Time, the hypocritic Days,

Muffled and dumb like barefoot dervishes

And marching single in an endless file

Bring diadems and fagots in their hands.

To each the offer gifts after his will,

bread, kingdoms, stars, or sky that holds them all.

I, in my pleached garden, watched the pomp,

Forgot my morning wishes hastily

Took a few herbs and apples, and the Day

Turned and departed silent. I, too late

Under her solemn fillet saw the scorn.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناخوښي

Robert Frost

گرځېدم په کروندو کي په ځنګلو کي

وروسته واوښتم تر جګو دېوالونو

سر ته پورته سوم د لویو لویو غرونو

ننداري ته د کورونو د ښارونو

لویو لارو باندي سومه سرګردانه

کور ته ستون سوم له سفر څخه ستومانه

مړه برګونه دي پر مځکه چي شوېږېږي

بېله هغو چي په ونو لا ځړېږي

یو په یو به دوی هم لوېږي له ښاخونو

له بادونو سره ځي پر مځکه ښکېږي

پر لوېدلو سپینو واورو به پرېوزي

نور برګونه چي د مرګ په خوب ویدېږي

مړه برګونه ټول خاموش هلته پراته دي

نه پر دغه نه پر هغه لور خوځېږي

وروستۍ پاڼي د ګلونو رژېدلي

سره او ژړ ګلونه ټوله زمولېدلي

زړه هنوز لا په تلاښ د منزلونو

پښې پوښتنه کړي د لوري د ګامونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي وخت دی پر انسان باندي راغلی؟

چي يې لږ تر خيانت وي دا بللی

چي منزل وکړي په حکم د بادونو

پر سجده سي څوك په زور د حسابونو

او سر کښته سرنوشت لره تسليم سي؟

کړي منظور ختم د عشق يا موسمونو

Robert Frost

Reluctance

Out through the fields and the woods

And over the walls I have wended

I have climbed the hills of view

And looked at the world and descended

And lo, it is ended.

The leaves are all dead on the ground,

Save those that the oak is keeping

To travel then one by one

And let them go scraping and creeping

Out over the crusted snow

When other are sleeping

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And the dead leaves lie huddled and still

No longer blown hither and thither

The lost lone aster is gone

The flowers of the witch hazel wither;

The heart is still aching to seek

But the feet question �whither?�

Ah, when to the heart of man

Was it ever less than a treason

To go with the drift of things

To yield with a grace to reason

And bow and accept the end

Of a love or a season?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## داوطلب

Joseph lee

چي لومړۍ ورځ مي ليدلاست راروان واست په جاده کي

لکه مړي ښکارېدلاست د عسکرو په جامه کي

لېوني زړه مي ويله چي وهه يې قتلوه يې

پر مخونو يې ور تو کړه او تر پښو لاندي کوه يې

خو چي وروسته مي احساس کړ درد او غم ستاسو څېرو کي

ما نفرت پکښي ونه ليد په سپېرو ژړو مخو کي

سترو سترګو مو کولې سل کيسې د ماتو زړونو

په څېرو کي مو څرګند و رنګ د ماتي د شرمونو

هم شکمن هم نا اميده درنه ورکي ټولي لاري

پر سرونو مو خوړلي د غليم د وسلو واري

ټول بې واکه را روان واست ټوله سره واست له زخمونو

هم په زړونو زخمي سوي او هم ستړي له جنګونو

پوهېدم چي موږ ګالللي په يوه شان دي دردونه

له يوه جنګه راغلي او يو شان مو کړاوونه

نو کېدای سوای چي يو بل مو ټينګ په غېږ کی وای نيولي

ما بړغ کړي وای چي ورونو دا پر کوم لور يو تللي

Joseph Lee

The volunteer

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



When first I saw you in the curious street
Like some platoon of soldier ghosts in grey
My mad impulse was all to smite and slay
To spit upon you tread you neath my feet
But when I saw how each sad soul did greet
My gaze with no sign of defiant frown
How from tired eyes looked spirits broken down
How each face showed the pale flag of defeat,
And doubt, despair, and disillusionment,
And how were grievous wounded on many a head,
And on your garb red-faced was other red
And how you stooped as men whose strength was spent,
I knew that we had suffered each as other,
And could have grasped your and and cried,
�My brother!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نور مه ژاړئ

John Fletcher (1579 � 1625)

مه ژړا کړئ مه فریاد کړئ مه تر خوله باسئ آهونه

په ژړا په اسوېلیو نه راګرځي تېر وختونه

چي غوټۍ سي یو ځل بېله د ګلابو له ښاخونو

بیرته نه سي غوړېدلای د سپرلي په بارانونو

په خندا که شېبې تېري دغه ورځي دغه شپې دي

د قسمت فیصلې پټې هم له سترګو هم له زړونو

که خوښۍ راځخه تښتي لکه خیال پر وزرونو

غم پر څه راته دېره سي په کلونو په عمرونو

غم پرهار دی ترې تویېږي ورځي شپې ورځخه ویني

د خوښیو په مرهم کړئ خوله ورپټه د غمونو

John Fletcher (1579 � 1625)

Weep no more

WEEP no more, nor sigh, nor groan

Sorrow calls no time that�s gone

Violets pluck�d the sweetest rain

Makes not fresh nor grow again

Trim thy locks, look cheerfully

Fate�s hid ends eyes cannot see

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Joys as winged dreams fly fast

Why should sadness longer last?

Grief is but a wound to woe;

Gentlest fair, mourn, mourn no moe.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما ښایسته سور ګلاب دی

Robert Burns (1759 � 1796)

زما ښايسته داسي نازکه لکه سور ګلاب ښکارېږي

په جوزا کي غوړېدلې پر ملا غبرګه ورګه کېږي

زما ښايسته لکه نغمه چي پورته کېږي له سازونو

سور يې څومره خوږ لګېږي هم پر زړه هم پر غوږونو

ته چي هر څه ښايسته يې زه دي مينه کي ګړېږم

ته مي شمع په پانوس کي زه پتنګ غوندي سوځېږم

ګراني ستا سره مي مينه تر هغه ګړي پايېږي

د سيندونو په کوګل کي چي وروستي ځاځکي وچېږي

چي له لويه سمندره د اوبو کډي بارېږي

چي د لمر د اور له تاوه غرونه چوي او ويلېږي

ګراني ستا سره به زما وي د دې ميني پيوندونه

چي لا الوزي بيديا کي له توپان سره رېګونه

ځه په مخه دي ښه ګراني زما تنها لېونۍ ميني

يو څو ورځي به جلا يو زما لومړۍ وروستنۍ ميني

ګراني هر څونه چي ولاړ سم بيا تر تا پوري راځمه

په زرګونو فرسخونه بيابانونه پې کومه

Robert Burns (1759 � 1796)

A Red, Red Rose

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



O my luve�s like a red, red rose
That�s is newly sprung in June,
O my luve�s like the melodies,
That�s sweetly play�d in tune

As fair art thou, my bonie lass,
So deep in luve am I,
And I will luve thee still, my Dear,
Till a' the seas gang dry.

Till a' the seas gang dry, my dear,
And the rocks melt wi� the sun;
I will luve thee still my dear,
While the sands o�life shall run.

And fare thee weel, my only luve,
And fare the weel, a while!
And I will come again, my luve,
Tho� it ware ten thousand mile!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وخت د کار دی

Jhon Askhan (1825 � 1894)

چي لا ورځ وي وخت د کار او د زحمت وي

چي دي مټو کي لا پاته څه قوت وي

چي رګونو کي دي ځوانه وينه ګرځي

شپه لا نه وي رسېدلې لمر اوچت وي

وخت د کار دی چي لا لمر لوړ پر آسمان دی

او خندان شينکی آسمان هنوز روښان دی

د ژوندون شپېږ دي الوزي له لاسه

د تاريکي شپې استازی را روان دی

د زړه زور دي د ژوندون شپېو ته ورکه

ځان د ليري هدف لور ته برابر که

د ساعت پر عرابه ده را روانه

تياره شپه دا ده راځغلي ځان خبر که

ژوند موسم دی چا په پور درته سپارلی

وخت يو کان دی چا سوغات درته لېږلی

که هوښيار يې په ورځ کار ورځخه واخله

د تاريکي شپې پلو را رسېدلی

چي په وس دي رسېدلي وي کوه يې

چي هدف مخته درځي تعقيبوه يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ريښتونی هم زړه ور ورپسي ووزه

شپه راځي چي څه دوستان دي خبروه يې

چي ګټيو يې په زحمت او په دردونو

دا بېځايه خوارۍ نه دي د لاسونو

چي لا ورځ ده له دې زياره ګټه واخله

توره شپه ده را روانه په ګامونو

چي سينه دي يو وخت چاك سي له غمونو؟

وخت به نه وي د آرام او د خوبونو؟

چي لا ورځ ده راځه وس پکښې تمام کړو

چي شپه راغله رارسېږي په توپونو

Jhon Askham (1825 � 1894)

Work While it is Day

Work while the day is long

While the right arm is strong,

While the life-blood is young,

Night cometh on

Work while the sun is high

In the bright smiling sky

Swiftly life�s minutes fly

Night cometh on

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Strive with my heart and soul

Press to the distant goal,

Waste not the hours that roll,

Night cometh on

Life is a season lent

Moments are treasure sent

See that they�re wisely spent

Night cometh on

What thy hands find to do

That with my might pursue

With a brave heart and true

Night cometh on

What though we toil in pain

Twill not be all in vain

Haste then the good to gain:

Night cometh on

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



What though grief rack the breast?

Doth there not come a rest?

Lets us then do our best:

Night cometh on

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه او زما زړه

Elizabeth Barrett Browning (1806 � 1861)

زه او زړه ستړي له ژونده نور مو هر څه دي بايللي

دواړه ناست د قبر سر ته کتيبې ته يو راغلي

کشکي مورې دلته پراته واى د هستۍ له نړۍ ليري

زمونږ نومونه پر ډبره په تېشه واى چا ليکلي

په جنت کي به خورې ژوند وي ځواني بيرته نوې کېږي

د دنيا له ترخه ژونده زه او زړه دواړه نتلي

زه او زړه يو دواړه ستړي د ژوندون له سفرونو

مونږ باور په خلکو وکړ زمونږ تکيه پر کتابونو

مونږ پخپلو وينو وکښې د زمان پر پاڼو کرښي

چي يې پاك نه کړي له سره چپاوونه د وختونو

نه دوستانو غېږه راکړه نه ملګري مو پيدا کړل

مونږ سپېځلي اوسېدلو زمان ډك له فرېبونو

مونږ پر لار دومره سم تللو چي قسمت نه سواى منلاى

مستقيم کله څوك تلاى سي د نړۍ پر کږلېچونو

له کږو لارو بېزاره ناځوانۍ دواړه ويشتلي

زه او زړه ستړي له ژوندنه نور مو هر څه دي بايللي

څومره ستړي يو له ژونده زه او زړه دواړه زخميان يو

نه دوستان نه مو ياران سته بېګانه له ټول جهان يو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایرې سوي مو خیالونه آرزوګاني اوبو وړي

خواته نه راګوري خلك اوس په ځان پوري حیران یو

زموږ آواز چې ته یې ویښ کړې له درنو خوږو خوبونو

نور یې نه سې اورېدلای اوس په اوښکو لوند ګرېوان یو

زه او زړه مي دواړه ځنګه دې نړۍ کي هستېدلي

دواړه ستړي یو له ژونده نور مو هر څه دي بایللي

زه او زړه مي دواړه ستړي را یادېږي تېر عمرونه

زما په یاد دي را یادېږي تر دې ښه وه تېر وختونه

چې تر وني لاندي ناست وو زه او ګران مي لاس تر غاړه

لمر شیندله په لوېدو کي په اسمان کي سره اورونه

ده به زما کول پوښتنه ما د سر په ښورولو

ورښودل چې هر څه سم دي، پټول به مي دردونه

اوس په زړه کي مي بلېږي د دردونو لمبې غلي

زه او زړه ستړي له ژونده نور مو هر څه دي بایللي

زه او زړه یو دواړه ستړي حساب نسته د دردونو

نه مي څوك په غېږ کي نیسي نه لرم څوك د نازونو

نه لرم څوك چې مي مچ کي په آرام پر سورکو شونډو

رانه هېره مي لړۍ کي د زګېرویو د آهونو

له زړو خوږو وختونو راته پاته خاطرې دي

زه یادونو یم راوړې هدیرې ته تر قبرونو

نه له مخ څخه مي زلفي چا په ناز دي اړولي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مي زړه او زړه هوسا يو نور مو هر څه دي بايللي

زه او زړه مي داسي سترړي له دردونو له زخمونو

که جهان رالره راوړي غېږي ډکي له تاجونو

مرغلري راته راوړي جواهر په خرمنونو

هم قدرت هم خوښۍ راوړي د زلميو جهانونو

زه بې ونه ګورم خواته زه به سترګي کړېږ نه کړم

نه پر مځکه نعمتو ته نه پر لور د اسمانونو

له جهانه تر اسمانه له هر څه مو لاس پرېولی

زه او زړه سترړي له ژونده نور مو هر څه دي بايللي

خو نه ځان او نه مي زړه ته ور پرېږدم شکايتونه

کله ځای دی چا ته پاته چي ور ياد کي تېر وختونه

څه چي تېر سول هغه هېر که نن د سختو ورځو وار دی

موږ هم روڼي زلمۍ شپې کړي موږ هم سترړي کړل نازونه

که هوس و نو هم بس و چي راځي پرېږده چي راسي

د وختونو له ګېډيو مو ډېر وشکول ګلونه

ما او زړه مي په سينه کي ډېر رازونه دي ساتلي

دواړه ناست د قبر سر ته

کتيبې ته يو راغلي

Elizabeth Barrett Browning (1806 � 1861)

My Heart and I

I

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ENOUGH! We�re tired, my heart and I.

We sit beside the headstone thus

And wish that name were carved for us,

The moss reprints more tenderly

The hard types of the mason�s knife,

As heaven�s sweet life renews earth�s life

With which we�re tired, my heart and I.

II.

You see we�re tired my heart and I.

We dealt with books we trusted men

And in our own blood drenched the pen

As if such colours could not fly.

We walked too straight for fortune�s end,

We loved too true to keep a friend;

At last we�re tired, my heart and I.

III.

How tired we feel, my heart and I !

We seem of no use in the world;

Our fancies hang grey and uncurled

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



About men�s eyes indifferently;

Our voice which thrilled you so, will let

You sleep our tears are only wet:

What do we here, my heart and I.

IV.

So tired so tired, my heart and I.

It was not thus in the old time;

When Ralph sat with me 'neath the lime

To watch the sunset from the sky.

Dear love, you�re looking tired; he said;

I, smiling at him, shook my head:

'Tis now we�re tired, my heart and I.

V.

So tired, so tired, my heart and I.

Though now none takes me on his arm

To fold me close and kiss me warm

Till each quick breath end in a sigh

Of happy languor. Now, alone.

We lean upon this graveyard stone

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Uncheered, unkissed, my heart and I.

VI.

Tired out we are, my heart and I.

Suppose the world brought diadems

To tempt us, crusted with loose gems

Of powers and pleasures? Let it try.

We scarcely care to look an even

A pretty child, or God�s blue heaven

We feel so tired, my heart an I.

VII.

Yet who complains? My heart and I ?

In this abundant earth no doubt

Is little room for things worn out:

Disdain them, break them, throw them by

And if before the days grew rough

We once were loved, used � well enough,

I think, we�re fared, my heart and I.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځواني او خاموشي

Matthew Arnold (1822 � 1888)

كراري او مرگ بېشكه دلته ځنگ پر ځنگ اوسېږي

دلته وېره شرم ښخ دي دلته هر څه خاوري كېږي

هغه روڼه ځېره نسته نور يې ځوك نه سي ليدلای

اوس يې ځای دی په تابوت كي ځوك يې نه سي را ايستلای

مگر دغه كراري ده؟ دغه ختم د ځوانۍ دی؟

هغه دغه حقيقت دی؟ دغه پای د زندگۍ دی؟

او چي مرگ راسي ميدان ته او ژوند هر څه وي بايللي

ټول پورونه به ادا وي ټول رازونه دي ويلي؟

چي روښانه لري زړونه او له نوره سترگي ډكي

زلمي ټينگ اخلي گامونه ارادې يې داسي كلكي

پر ځېرو چي يې لگېږي د سپرلي تازه بادونه

له نسيم سره ملگري د همېش آرام خوبونه

ځكه ژمنه د قرار ده چي راځي له هديري نه؟

هغه ليري ليري مځكي د ابد له آشياني نه

نو زلمي په دغه هيله او په دغه اميد پايي؟

يوه ورځ به ځي لحد ته او تابوت به ورته ښايي؟

نه نه ! ماته رامعلوم دي د زلمي جهان فكرونه

زلمي لمر ته مستي غواړي د خوښيو اتڼونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلمي مستي ويني غواړي چي تاوده يې دي رګونه

ژوند د ژوند دپاره غواړي هغوی نه مني مرګونه

په مستۍ کي ارام ګوري نه مرګی درانه خوبونه

نه تابوت زړه کي ورګرځي نه يې خوښ دي لحدونه

ټول په دې حقيقت پوه دي دا خبره يې په زړه ده

خاموشي يې هدف نه دی که هر څو خاموشي ښه ده

کراري د ژوند انجام دی دا د هر سړي په خوا ده

خو نه خوښه د ځوانانو نه د ژوند يې تمنا ده

Matthew Arnold (1822 � 1888)

Youth and Calm

Tis death! and peace, indeed, is here,

And ease from shame, and rest from fear

There�s nothing can dismarble now

The smoothness of that limpid brow.

But is a calm like this, in truth

The crowning end of life and youth

And when this boon rewards the dead

Are all debts paid, has all been said?

And is the heart of youth so light

Its step so firm, its eye so bright

Because on its hot brow there blows

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



A wind of promise and repose

From the far grave, to which it goes

Because it hath the hope to come

One day, to harbour in the tomb?

Ah no, the bliss youth dreams is one

For daylight, for the cheerful sun

For feeling verves and living breath

Youth dreams a bliss on this side death.

It dreams a rest if not more deep

More grateful than this marble sleep

It hears a voice within it tell:

Calm�s not life�s crown, though calm is well

Tis all perhaps which man acquires,

But tis not what our youth desires.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اورېدونکي

Walter De La Mare

مسافر په زوره ږغ کړه څوك به وي په دې قلا کې؟
ټك يې ورکړ دروازې ته د سپوږمۍ تته رڼا کې
آس په چوپه چوپيايي کې پښې پر مځکه ټکولې
خرهارۍ يې سو پورته زنګولې يې شرنګولې
د قلا له واږه برجه مرغه والووت په هوا سو
او پر سر د مسافر يې وزر کش کړ په چغا سو
مساپر په زوره ږغ کړه له ځنځير سره شرنګا کې
په دې شپه کې به څوك وينې وي چې د ږغ جواب مې راکې
نه راکښته له قلا سو څوك ليدو د مسافر ته
نه چا سره له کړکۍ وايست نه يې وکتل بهر ته
مساپر د قلا مخ ته منتظر ولاړ حيران و
نيمه شپه وه له سفره له اوږدو لارو ستومان و
نه يې ږغ د چا تر غوږ سو نه يې څوك خوا ته ور ګوري
په قلا کې سړي نه وه ګرځېدله پکښې سيوري
هغه سيورو په قلا کې مساپر ته غوږ نيولی
له نړۍ د انسانانو څوك په شپه کې و راغلی
د انګړ له تاريکيه تر زينو بيا تر بامونو
يو څو سيوري ګرځېدله له صالونه تر برجونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړغ تنها د مساپر و چې يې خوني ډكولې

نيمه شپه توره تياره وه آزانګې يې اورېدلې

مساپر هك پك ولاړ و په درياب د خاموشي كې

د قلا په دروازه كې په تياره په تنهايي كې

آس په چوپه چوپيايي كې پښې پر مځكه ټكولې

په قلا كې يې دننه آزانګې پورته كولې

مساپر په زوره ړغ كړه بيا ټك ټك د دروازې سو

يو څوك سته چې ور را خلاص كې، ړغ يې بيا شومه د شپې سو

مساپر ويله واورئ په قلا كې چې اوسېږئ

د راتلو مې شاهدان ياست بيا به نه پښېمانه كېږئ

ما وعده خپله پر ځاى كړه دروازې ته يم راغلى

په څو ځله مې نارې كړې ړغ مې نه دى اورېدلى

له قلا څخه را نه غى هيڅ آواز د انسانانو

توره شپه تپه تياره وه لكه كور د پېريانانو

دوى خبر سول چې روان سو مساپر په نيمه شپه كې

په ځنګله كې يې ړغ ورك سو په تور تم كې په تياره كې

آس روان پر خپله لار سو ړغ يې راغى د ګامونو

له ډېرو جنګېدلې كلكې څوكې د نالونو

د ځنګله زړه ته دننه چې په نيمه شپه كې سپور سو

په قلا كې خاموشي سوه هر يو كونج يې لكه ګور سو

Walter De La Mare

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## The Listeners

�Is anybody there?� said the traveler,
knocking on the moonlit door;
and his horse in the silence chomped the grasses
Of the forest�s ferny floor
And a bird flew up out of the turret
Above the traveler�s head:
And he smote upon the door a second time:
�Is there anybody there?� he said
but no one descended to the Traveler;
No head from the leaf-fringed sill
Leaned over and looked into his gray eyes
Where he stood perplexed and still.
But only a host of phantom listeners
That dwelt in the lone house then
Stood in the listening quiet of the moonlight
To that voice from the world of men:
Stood thronging the faint moonbeams on the dark stair
That goes down to the empty hall
Hearkening in an air stirred and shaken
By the lonely Traveler�s call

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And he felt in his heart their strangeness

Their stillness answering his cry,

While his horse moved cropping the dark truf

'Neath the starred and leafy sky;

for he suddenly smote the door, even

Louder and lifted his head

�Tell them I came and no one answered

That I kept my word� he said

Never the least stir made the listeners

Though every word he spake

Fell echoing through the shadowiness of the still house

From the one man left awake:

Aye, they heard his foot upon the stirrup,

And the sound of iron on stone,

And how the silence surged softly backward

When the plunging hoofs were gone.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملایکه

Rachel Summer

یو ناڅاپه مي په لار کي ملایکه زرغونه سوه
ښایسته مخ يې له نوره ترې روښانه توره شپه سوه
مخ يې دونه نوراني و چي مي هيڅ نه سو منلای
ما يوازي د خوبونو په نړۍ کي سو ليدلای
ژړ وېښته يې د کانونو د طلا څخه راغلي
او شنو سترګو يې د دوبي اسمانونه شرمولي
له خندا يې بادېدله سل او زر روښانه ستوري
هسي ښکلی چي يې ښځي همېشه په خوب کي ګوري
لکه زغره داسي سخت و ستر قوي ښکلي لاسونه
پهلوان په ځان غښتلی د فولادو مړوندونه
يو زړه ور غوندي زلمی و د زړه ډك د خوښېدلو
ښایستې غوښني شونډې د ليدلو مچولو

په ورو ورو په مينه مينه رانيژدې مي سو و خوا ته
ما يې سترګو ته کتله نور فکرونه رانه پاته
ما يې وليده په مخ کي ښایسته مينه معصومه
هم خالصه هم خوا پاکې د لومړۍ ورځې ماشومه
زما تر مخ يې را چاپېر کړل دوه ښایسته نرم لاسونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانيژدې يې کړلې شونډې دوې خوږې لکه قندونه

زه يې ونيولم غېږ کې لا يې ورو ورو ټينګولم

زه مې خپل د هوښ جهان ته په قدم راتللم

پوهېدم چې د شپې خوب ته داسې څوک نه سي راتللاى

دومره ښڅڼه او ريښتونى څوک په خوب نه سي ليدلاى

ما يې لاس په لاس کې ونيو چې له خلکو يې ګوښه کړم

په دې عامه لار کې څنګه داسې ښکلى حبطه کړم

ځان مې سپک لکه مرغه سو په کرار په الوتو سوم

پښې مې پورته سوې له مځکې مخ پر لوړه په ورو ورو سوم

د اسمان پر لوري تلمه ښورول مې وزرونه

مخ پر ستورو وم روانه پې کول مې منزلونه

ستورو لارې راښودلې د ښکلا د اسمانونو

تلم د هغه نور جهان ته چې دى پورته له خيالونو

هلته پوه په دې سفر سوم چې زه چېرې يم راغلې

زه مړه سوې وم د وخته په جنت ننوتلې

Rachel Summer

Angel

The angel�s appearance was so sudden

Face framed by a "streetlight halo"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Too beautiful to really exist

Except in my dreams every night

Hair spun of pure gold

Eyes so blue the summer skies are jealous

A smile to light up a thousand galaxies

The muscled body from every woman�s dreams

Huge, work roughened hands, extremely masculine

A strong, brave, square jaw

Full, kissable, pouty lips

The angel approaches me slowly

As he gets closer I can see love in his eyes

a love as pure and innocent as a newborn baby�s

The smile on his face is meant for me, I realize

Those beautiful hands gently enclose my face

the lips close over mine in a sweet lingering kiss

His bodies presses against mine

It�s than that I realize that this isn�t a dream

A dream couldn�t be half as perfect as this

I take his hand in mine and lead him away

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



This place isn�t enough to contain such beauty

I feel as if I can fly

Then our feel leave the ground

Floating through space, the stars guide us

They guide us to a place of insurpassable beauty

And then I know how this all could be �

I�ve died and gone to heaven

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درې ټپوسان

Anonymous

يوه ښاخ باندې د ونې سره ناست درې ټپوسان وه

يو تر بله په رنګ تور وه يو له بل سره ګويان وه

يوه ږغ کړه هغه بل ته چې پر څنګ يې کښېنستلی

څه به خورو د نن دپاره تا څه چرت پکښې وهلی؟

دوی ليدل چې کرونده کې پروت انسان د دوی د وړاندې

وژل سوی شهسوار و هلته پروت د سپر د لاندې

وفاداره دوه تازيان وه د څښتن پښو ته پراته وه

څوک نيژدې ورتللای نه سو ورته ويښ په ورځ په شپه وه

دوه بازان پهره داران وه په هوا کې ګرځېدله

ټپوسان به هلته څوک وه چې نيژدې ورته راتلله

راښکاره سوه يوه چټه په رنګ ښکلې نازولې

ښايسته به داسې بله کله مور وه زېږولې

دې په غېږ کې پورته ځوان کړ چې ټوک ټوک و له زخمونو

پر هر ټپ باندې يې مچ کړ چې و سور تر سرو ګلونو

دې په شا هغه زلمی کړ نو يې واخيست هديرې ته

بيا يې وسپاره پر خاورو د ژوندون وروستۍ دېرې ته

دې زلمی خاورو کې ښخ کړ لمر لا نه و راختلی

لا بلبل ږغ کړی نه و دې وروستی نفس ايستلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دي ورکړي هر سړي ته د ژوندون پر سخته لاره

داسي رنګ بازان تازيان وي يوه ڇټه وفاداره

Anonymous

The Three Ravens

There were three ravens sat on a tree

They were as black as they might be

The one of them said to his mate

Where shall we our breakfast take?

Downe no yonder greene field

There lies a knight slain under his shield

His hounds they lie downe at his feets

So well they can their master keeps

His haukes they flie so eagerly

There�s no fowle dare come him nie

Downe there comes a fallow doe,

As great with yong as she might goe

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



She lift up his bloudy hed,

And kist his wounds that were so red.

She got him up upon her backe,

And carried him to earthen lake.

She buried him before the prime,

She was dead herself ere even-song time

God send every gentleman,

Such haukes, such hounds, and such a leman.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما ماشوم

John Pierpont

زه يې کله سم په مړو کې شمېرلای
طلايي وېښته يې نه سم هېرولای
هره ورځ راته تر سترگو سترگو کېږي
هر گړی مې پر زړگي باندي اورېږي
چې مې دوې سترگي له اوښکو سي راډکي
تصويرونه يې په اوښکو کي ورکېږي
نور هغه راسره نسته دې دنيا کي
تش خيالونه تصويرونه مې په خوا کي

چې قدم وهم په کور کي چې تېرېږم
د پرانيستي دروازې څنگ ته تمېږم
د ښکالو ږغ مي تر غوږ سي په زينو کي
شاوخوا ته سترگي اړوم ستنېږم
وايم زوی ته مي ور ږغ کړمه په زوره
چې ناڅاپه مي خوله نيسمه چوپېږم
نور هغه راسره نسته دې دنيا کي
تش خيالونه تصويرونه مې په خوا کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوڅو کي چي د ښار قدم وهمه

یوه ښکلي ځوان هلك باندي راځمه

زما د زوی غوندي لري سترګي روښاني

طلايي څڼي پر مخ باندي پرېشاني

چي دی ځغلي زه هم سترګي پسي وړمه

دا ترخه ريشتيا به څرنګه منمه

نور هغه راسره نسته په دنيا کي

تش خيالونه تصويرونه مي په خوا کي

زه پوهېږم مخ يې پټ د تل دپاره

په تابوت کي ورته نه جوړېږي لاره

نور يې سترګي پټي کړي تندی سوړ دی

نور يې روح د ژوند له برخي څخه موړ دی

د مرمر تابوت مي ونيو په لاسو کي

په دعا ورته راکوږ سوم په سلګو کي

په کراره مي زړګی راته وينا کي

نور هغه راسره نسته په دنيا کي

چي يې کله د بستر خوا کي تېرېږم

په مرګي باندي يې کله قانع کېږم

په بستر کي مي کول ورته نکلونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلرني ناز به مي ور وستل خوبونه

پسي گرځي مي زړگی او سترگي دواړي

یو ځل بیا یې په ژوندوني دیدن غواړي

خو بیا زړه ته سي راتېر هغه خیالونه

بیا پر عقل جوړوم د صبر خونه

نور هغه راسره نسته دې دنیا کي

تش خیالونه تصویرونه مي په خوا کي

چي سهار سي چي تازه نسیم چلېږي

چي مي سترگي له درانه خوبه وینښېږي

له نسیم سره مي روح ځي په ټوپونو

په خوښیو پاس تر هسکو اسمانونو

چي مي یاد په دعاگانو د خپل خدای کړم

چي یې زوی راکړی شکر یې پر ځای کړم

خو ناڅاپه دا غمگین خیال راته راسي

چي نه زوی لرې او نه به دي زوی ستا سي

نور هغه راسره نسته دې دنیا کي

تش خیالونه تصویرونه مي په خوا کي

وزرونه چي شپې نه وي غوړولي

چي لا نه یو تر کټونو پوري تللي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه او مور يې دواړه خدای ته په دعا يو

لاس مو پورته وي نيولی په ژړا يو

څه چي وايمه خپل زوی مي وي په زړه کي

راسره دی لکه و په ژوندانه کي

د خپل زوی په ياد مي اوښکي تويومه

د هغه روح ته دوعاوي ور لېږمه

نور هغه راسره نسته دې دنيا کي

تش خيالونه تصويرونه مي په خوا کي

چي هر څه يې يادومه هغه تېر دي

پخواني تياره وختونه ترې چاپېر دي

زه پوهېږم بيا يې نه سمه ليدلای

په ليدلو يې زړه نه سم اوبولای

اوس راځي راته په شپه کي په خوبو کي

ملايکي غوندي راسي په خيالو کي

پر تندي باندي ليکلي يې دا توري

زما او ستا سترگي به هلته سره گوري

زموږ يقين دی چي به ټول خدای ته ستنېږو

په قيامت به د هغه مخکي درېږو

زه عاجز يم دا يوه لرم غوښتنه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ته صبر راپه برخه که څښتنه

را په برخه په قيامت که جنتونه

چي مو هلته سره وسي ديدنونه

هلته پوه سم چي مي زوی راسره مل دی

بيا يې وينم بيا يې اورم بيا مي خپل دی

John Pierpont

My Child

I CANNAT make him dead!

His fair sunshiny head

Is ever bounding round my study-chair

Yet, when my eyes now dim

With tears I turn to him

The vision vanishes � he is not there!

I walk my parlor floor

And through the open door

I hear a football on the chamber stairs

I �m stepping toward the hall

To give the boy a call

And then bethink me that � he is not there!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I thread the crowded street
A satchelled lad I meet
With the same beaming eyes and colored hair
and, as he is running by
follow him with my eye
scarcely believing that � he is not there!

I know his face is hid
Under the coffin lid;
Closed are his eyes, cold his forehead fair
My hand that marble felt
O�er it in prayer I knelt;
Yet my hearth whispers that � he is not there!

I cannot make him dead!
When passing by the bed,
So long watched over with parental care
My spirit and my eyes
Seek it inquiringly
Before the thought comes that � he is not there!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



When at the cool, gray break
Of day, from sleep I wake
With my first breathing of the morning air
My soul goes up with joy
To Him who give my boy
Then comes the sad thought that � he is not there!

When at the day�s calm close
Before we seek repose
I�m with his mother offering up our prayer
Whate�re I may be saying
I am, in spirit praying
For our boys spirit, though � he is not there!

Not there! Where then is he?
The form I used to see
Was but the raiment that he used to wear
The grave that now doth press
Upon that cast-off dress
Is but his wardrobe locked � he is not there!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



He lives! In all the past

He lives; nor to the last

Of seeing him again will I despair

In dreams I see him now

And on his angel brow

I see it written, �thou shalt see me there!�

Yes, we all live to God!

Father the chastening rod

So help us, thine afflicted ones, to bear

That, in the spirit-land

Meeting at thy right hand

�T will be our heaven to find that � he is there!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه پوهېږم چي زړېږم

David Mills

ماته داسي ښکاري ګراني چي زړېږم

زړه مي ډك له اندېښنو دی او ننېږم

زمانې مي پر تندي ګونجي ايستلي

اوروي مي پر سر واوره په پوهېږم

له ويالې د اوبو رغ اورم بهېږي

چي له زوره يې د ژرندي پل ځرخېږي

كه هر څونه مخ پر لوړه پورته كېږم

زه پوهېږم مخ پر كښته روانېږم

ګراني زوړ يمه د وينو زور مي نسته

پر دې لاره مي ملګری خمسور نسته

اوس څوك نسته هغه ځای كي چي ياران وه

چي تر ونې لاندي ټول به همزولان وه

ډلي ډلي دي په لوی سفر وتلي

وروسته يو موږ هم لاري دي ټاكلي

زه پوهېږم د سفر وخت مو نيژدې دی

زموږ په برخه هم شپې دي رسېدلي

ما ته داسي ښکاري ګراني چي زړېږم

د ژوندون پر ځانګه هر ګړی زمولېږم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما بابا ده یوه ونه کښېنولې

شپېته کاله مخکې دلته غوړېدلې

له هغه شېبې دې تېر شپېته کلونه

له زلمو سره مې مله نه ځي ګامونه

چې محفل ته کله ورسم د زلمیو

په پوهېږم چې اغزی سم د مستیو

یوه بل ته اشارې کړي سترګکونه

ولي زموږ تباه کوي زلمي وختونه

ولي ناست دی ولي ژر نه ولاړېږي

ولي نه ځي دا به کله روانېږي

ما ته داسي ښکاري ګراني چې زړېږم

په محفل کي د زلمیو چې غمېږم

پر زړګي باندي مې تېري کیسې اوري

تصویرونه د زړو خاطرو ګوري

ډېر پخوا چې مې ملګري اشنایان وه

پر دې لاره راسره چې به یاران وه

نه یې مخ نه یې موسکا سمه لیدلای

هغوی تللي دي بیا نه سي ستنېدلای

چې یو وخت وې دلته ډلي د دوستانو

اوس کمی دی د ملګرو اشنایانو

راته داسي ښکاري ګراني چې زړېږم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس په خپل وطن کي چا ته نه يادېږم

زما د وخت سندري نه سي پېژندلای

زما نغمې يې تر غوږ نه سي رسېدلای

نه هغه وني اشنا ورته ښکارېږي

نه هغو خوږو سندرو ته مستېږي

زموږ د عمر ژړی لمر دی پر لوېدلو

چا ته نه دی هغه ږغ د پېژندلو

اورېدی چي به موږ دلته په کلونو

او چي خوږ به لګېدی زموږ پر غوږونو

ما ته داسي ښکاري ګراني چي زړېږم

زړه مي ډګ د اندېښنو دی او ننېږم

زماني مي پر تندي ګونجي ايستلي

اوروي مي پر سر واوره په پوهېږم

David Mills (1831 � 1903)

I Feel I�m Growing Old

I fell I�m growing old Mary

My heart is full of care

Time makes his furrow on my brow

His snows are on my hair

The brook still murmurs in the glen

That drives the creaking mill,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I fell I�m growing old Mary
The thoughts crowed on my brain
Of those who long ago here met,
Who ne'er will meet again.
Oh, they have journey'd down the hill,
And disappeared from view,
And though we once were many here
To-day we are but few.

I fell I�m growing old Mary
But few remember me,
Nor know the many songs we heard
Beneath this spreading tree
Our sun is sinking in the west,
And few now care on know
That still we hear a dear sweet voice
Come back from long ago.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په هر څه کې خدای دی

John Stuart Blackie

هر څه چې دي د خدای له ذاته ډك دي

هوښيار طالس ويل کلونه پخوا

چې د يونان ټولو هوښيارو خلکو

د عقل لاري وې اخيستي جلا

له هغې ورځي بيا تر اوسه پوري

قرنونه ډوب سول زمانې تېري سوې

شيخ او ملا کړ کتابونه ستړي

پېړۍ زړې سوې ورځې شپې تېري سوې

يو حقيقت لکه سپين لمر دی روښان

هره ذره ده له خالق د جهان

په اسمانونو کې چې نور ځلېږي

پر سمندر چې يې لمن خپرېږي

چې ځلوي د مچمچيو وزر

لکه الماس چې پر چمن اورېږي

دا بې حسابه اسماني حادثې

او چې د مځکې پر مخ څه تېرېږي

دا له يوې سرچينې اخلي الهام

دا څاڅکي ټول په يوه سيند گډېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او چي هر څوك د ميني وينه لري

د لمر له نوره سره مينه لري

د ژوندون ټولي سرچينې د جهان

راځي له لوري د خالق لامکان

كه څوك احساس لري كه پوهه لري

هغه عطا ده د څښتن او يزدان

كه په سيندونو كي لامبو كړي ماهيان

كه په هوا كي ګرځي ښكلي مرغان

ستا له جهانه تښتېدلای نه سي

ستا بې حضوره ساه ايستلای نه سي

ځه نجوم ګره آيينې دي واخله

مخ دي پر لوري د آسمان ونيسه

د كايناتو په سفر سه روان

لار د ناپايه پراخ جهان ونيسه

ستا پر كمال او د جهان پر علم

يو حقيقت به لكه لمر وي روښان

ټول قدرتونه قوانين د نړۍ

دي تجسم د ارادې د سبحان

John Stuart Blackie (1809 � 1895)

All Things are Full of God

ALL things are full of God. Thus spoke

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Wise Thales in the days.

When subtle Greece to thought awike

And soared in lofty ways.

And now what wisdom have we more?

No sage divining-rod

Hath taught than this a deeper lore,

ALL THINGS ARE FULL OF GOD.

The light that gloweth in the sky

And shimmer in the sea,

That quivers in the painted fly

And gems the pictured lea,

The million hues of Heaven above

And Earth below are one

And every lightful eye doth love

The primal light, the Sun.

Even so, all vital virtue flows

From life�s first fountain God;

And he who feels, and he who knows,

Doth fell and know from God,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



As fishes swim in briny sea,

As fowl do float in air

From thy embrace we cannot flee

We breath, and thou art there.

Go take thy glass astronomer

And all the girth survey

Of sphere harmonious linked to sphere

In endless bright array

All that far-reaching Science there

Can measure with her rod

All powers, all laws, are but the fair

Embodies thoughts of God.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جانان زما زه د جانان يم

Francis Quarles

لکه دوې ويالې سې بېلي يو له بله
دواړي مينځي په لمنو کي رېگونه
دواړي درومي لکه لاړ د مرغلرو
پلتېي په اوږده لار کي زر کونجونه
يوې لويي ذخيرې ته سي دننه
چي سپين زر يې پر سينه وهي موجونه
په آخر کي يوه لوی درياب ته لوېږي
د اوږده سفر په پای کي کرارېږي
داسي زه يم او همداسي مي جانان دی
زه دده يمه دی زما دی زما ځان دی

داسي موږ هم سره گورو يو ځای کېږو
په آخر کي د اوږدو اوږدو مزلونو
دواړه يو سو په وجود کي دواړه کل سو
مفهوم نه وي نور د نويو پيمانونو
ځکه زه لکه ځپرکی وم د واوري
او جانان مي سره لمبه وه د اورونو
يو په بل کي مو روحونه داسي ورك سول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوو نیژدې د غبرګولیو تر ځانونو

داسي زه یم او همداسي مي جانان دی

زه د ده یمه دی زما دی زما ځان دی

په دنیا کي چي شاهان او سلطانان دي

چي تختونه یې را لاندي تر اسمان دي

چلوي چي پر جهان باندي حکمونه

په زرګونو یې پوځونه غلامان دي

که راوبخښي دا خپل واړه تختونه

خزانې د جواهرو درمندونه

ور په نه کړم دا هستي چي یې لرمه

زما دي مینه وي د دوی ناز او عیشونه

د دوی ټوله شته مني کلپي روپۍ دي

زما په لاس کي ده سکه اصیل مهرونه

وربخښلی مي زمان دی که جهان دی

ما ته بس دا خپله مینه خپل جانان دی

که ښایستې په افسانو کي د یونان دي

که څه ښکلي د نړۍ د دې جهان دي

چي رالاندي تر شنه چتر د اسمان دي

خزانې چي ور بخښلي لوی یزدان دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوښۍ سيالي مي کله سي کولای

په شېبه مي د ژوند نه سي ارزېدلای

نه زما زړه سي له جانانه رانيولای

نه جانان سي څوك له ما نه بېولای

نه د شعر او د ښايست نهه خدايانې

زما د ميني په ښايست سي کښېوتلای

نه زمان او نه مکان او فرصتونه

نه د مرگ خوني حملې تېره غاښونه

زما تندی سي خپل مقام ته کړولای

نه مي طمع سي په زړه کي پارولای

هغه زما سره سوگند د ميني کړی

ما په قول د وفا شرط دی منلی

دی په زور د عقيدې او ايمان زما دی

زه په مينه يم د ده ځان مي سپارلی

دی اوبه او زه شراب يم سره خپل يو

دی زما دی زه د ده يم سره مل يو

دی محراب دی په سجده ورته ورځمه

زه د ده د ذات مسجد يم ځان پالمه

زه مېلمه د ده پر خوان يم دی کوربه دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی غذا ده زما وجود پر ده مېلمه دی

زه د ده یم په توبه ورسره خپل یم

او دی زما دی په کرم ورسره مل یم

زه د ده یم زر خرید یم رانیولی

او دی زما دی زما په وینه کي اخښلی

دی زما د ګلو ونه په نازېږم

زه پر ده باندي پېچك غوندي تاوېږم

یو له بل سره په زر پیونده خپل یو

زه د ده یمه دی زما دی سره مل یو

هغه ما ته شته مني ده رابخښلې

ما يې مينه په قولونو ده منلې

ما د ده په نوم سندري دي ويلي

ده مي ژوند کي اوږدې ورځي دي اوډلي

رانیژدې سي د کرم تاج مي پر سر کي

پر جهان مي له سیالانو برابر کي

زه هم ځم د ده معبد کي پر سجدو سم

په ستایلو د کرم په ورځو شپو سم

دی هم ومني سجدې زما د عمرونو

نښانې مي تر قیامته د قولونو

زه محبوب یم تر هر چاورباندي ګران یم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما جانان دی دی زما زه د جانان یم

Francis Quarles (1592 � 1644)

My beloved is mine, and I am his; He feedeth among the lilies

EV�N like two little bank-dividing brooks,

That wash the pebbles with their wanton streams,

And having rang�d and search�d a thousand nooks,

Meet both at length in silver-breasted Thames

Where in a greater current they conjoin

So I my best-beloved�s am; so he is mine.

EV�n so we met; and after long pursuit,

Ev�n so we joyn�d; we both became entire;

No need for either to renew a suit

For I was flax and he was flames of fire

Our firm-untied souls did more than twine

So I my best-beloved�s me; so he is mine.

If all those glitt�ring Monarchs that command

The servile quarters of this earthly ball

Should tender in exchange their shares of land

I would not change my fortunes for them all

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Their wealth is but a counter to my coin
The world�s but theirs; by my beloved�s mine.

Nay more; if the fair Thespian Ladies all
Should heap together their diviner treasure
That treasure should be deem�d a price too small
To buy a minute�s lease of half my pleasure
Tis not the sacred wealth of all the nine
Can buy my heart from him, or his from being mine.

Nor Time, nor Place, nor Chance, nor Death can bow
My least desire unto the least remove;
He�s firmly mine by oath; I his by vow;
He�s mine by faith; and I am his by love;
He�s mine by water, I am his by wine,
Thus I my best-beloved�s am; thus he is mine.

He is my Alter; I his Holy Place;
I am his guest and he my living food
I�m his by penitence; he mine by blood;
He�s my supporting elm; and I his vine;

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Thus I my best beloved�s am; thus he is mine.

He gives me wealth; I give him all my vows:

I give him songs; he gives me length of days;

With wreaths of grace he crowns my conqu�ring brows,

And I his temples with a crown of Praise

Which he accepts as an everlasting sign,

That I my best-beloved�s am; that he is mine.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګل په دېوال کي

Alfred Lord Tennyson (1809 � 1892)

د دېوال له خنګه سور ګلاب ښکارېږي

د تازه نسیم په غېږه کي نخښېږي

بې پروا يې له رېښو سره شکومه

ورته ګورم راته لاس کي مړاوی کېږي

سورکی ګله که خبر سم په رازونو

ستا د څانګو د رېښو او د برګونو

نو به پوه سم د خالق په قدرتونو

د انسان او د خلقت له کمالونو

Alfred Lord Tennyson (1809 � 1892)

Flower in the Crannied Wall

FLOWER in the crannied wall

I pluck you out of the crannies;

Hold you here root and all in my hand

Little flower � but if I could understand

What you are, root and all, and all in all

I should know what God and man is.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# روح له روح سره

Edith Matilda Thomas 1854

اې چې هر څه لکه ورځ درته ځرګند دي

په جهان کې چې د هرې ذرې ځان يې

نه دي مرګ نه خاموشي نه دي قرار سته

او موجود هره ګوښه کې د جهان يې

ته باقي يې په فاني وجود کې اوسې

زه دروزم له فاني څخه در ځمه

ته موسکی سې ته مې اورې ته مې وينې

کرشمه چې دې يوه يوه ستايمه

پر سپېدو چې مې جهان ته څرګندېږي

زه هم تا لره شيبه د شنه سهار يم

او چې وزې له دې وران فاني وجوده

زه شبنم د ګل پر پاڼه يا پر خار يم

لکه وږانګه يم پر سر د خرمنونو

يا ځلا د سرابونو يا انګار يم

زه يو ګل يم د ځنګله په لار کې شين يم

ته مې سترګو ته راګورې او کږېږې

زه مرغۍ يم له ځنګله څخه چغېږم

ته مې ږغ د ميني اورې او درېږې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يو ستوری يم د شپې په مخ کې ځمه

ته په ځير ځير راته ګورې او تېرېږې

زه لطيف او تازه څاڅکی د باران يم

يا څپرکی يم د واورې چې اورېږم

يا د غره پر سر د اوړي ګګنه وريځ يم

په شکلونو او رنګونو څرګندېږم

زه يو باد يم له جنوبه يا له غربه

يو آواز يم په توپان کې تر غوږ کېږم

لويه مګځکه تا ته هر وخت وه در تېره

خو لا اوس به تا ته نوره هم ګرانېږي

څه به ځای د پرېشانۍ او خواشينۍ وي

چې دې هره شپېه نوم پر ستايل کېږي

ورته ګورې څوك د خدای له څنګه اوسي

لکه ګل چې پر ښاخلو باندې غوړېږي

د ديوال په شان يو وخت ولاړ وه غرونه

او سيندونه زموږ تر منځ وه حجابونه

دا خنډونه اوس له منځه ليرې سوي

ستا پر لورې مخامخ اخلم ګامونه

ته باقي يې په فاني وجود کې اوسې

زه به يمه تر څو خلاص کې وزرونه

Edith Matilda Thomas (b. 1854)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Spirit to Spirit

DEAD? Not to thee, thou keen watcher, -- not silent, not viewless, to thee,

Immortal still wrapped in the mortal! I, from the mortal set free,

Greet thee by many clear tokens thou smiles to hear and to see.

For I, when thou wakest at dawn to thee am the entering morn,

And I, when thou walked abroad am the dew leaf and the thorn,

The tremulous glow of the moon the twilight on harvests of corn.

I am the flower by the wood path, -- thou bendest to look in my eyes,

The bird in its nest in the thicket � thou heedest my love-laden cries;

The planet that leads the night legions � thou lifest thy gaze to the skies.

And I am the soft-dropping rain, the snow with its fluttering swarms,

The summer-day cloud on the hilltops, that showeth thee manifold forms;

The wind from the south and the west, the voice that sings courage in storms!

Sweet was the earth to thee ever, but sweeter by far to thee now,

How hast thou room for tears, when all times marvelest thou;

Beholding who dwells with God in the blossoming sward and the bough!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Once as a wall were the mountains, once darkened between us the sea,

No longer these thwart and baffle, forbidding my passage to thee,

Immortal still wrapped in the mortal, I linger till thou art set free!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه به مړ نه سم

Frank O� Conor

ستا په مينه کي به مړ نه سمه واوره

اې تر ښکلي بتي ښکلي نازولي

زه هوښيار يم تر هغه ساده زلميو

چي په مينه کي دي ګور ته استولي

سپين لاسونه دوې دي سترګي دي خماري

سره خولګۍ سپينه سينه جوړه له واوري

ولي ستا دپاره ټوله نړۍ پرېږدم

په لوی لاس په تورو خاورو کي ځان کښېږدم

ته ښېشکه په نړۍ کي ښايسته یې

په شنو سترګو کشوې د خلکو زړونه

صراحي رنګه نازکه دنګه غاړه

تر ورېښمو دي نازك دي مړوندونه

ستا د ښکلي مخ دپاره به مړ نه سم

د ساده زلمو په شاني به پړ نه سم

طلايي وېښته دي توره بلا وخوره

ښکلی ږغ دي که خالق تر خاورو لاندي

ساده ګان به دي بلا ته ځي د وړاندي

اې تر ښکلي بتي ښکلي نازولي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هوښيار سړي په هر څه يم پوه کړی

زه د ميني په رازونو خبردار يم

زه ژوندون يمه په هر څه پوهولی

ولي ستا دپاره ټوله نړۍ پرېږدم؟

په لوی لاس په تورو خاورو کي ځان کښېږدم

Frank O� Connor

I Shall not Die

I shall not die because of you

O woman, though you shame the swan

They were foolish men you killed;

Do not think me a foolish man.

Why should I leave the world behind

For the soft hand, the dreaming eye,

The scarlet mouth, the breasts of snow

Is it for these you�d have me die?

The joyous air, the fancy free

The slender palm, the eye of blue,

The side like foam the virgin neck?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I shall not die because of you.

The devil take the golden hair!

The maiden thought, the voice so gay

The rounded heel, the pillared calf

Only some foolish man would slay.

O woman, though you shame the swan,

A wise man taught me all he knew

I know the subtleties of love,

I shall not die because of you.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سیوری

Ben Jonson

چي په سيوري پسي ځې درڅخه ځغلي

درنه تښتي په ګامونو رباتونو

که دي شا سيوري ته واړول روان سوې

بيا په تا پسي روان وي په مزلونو

که مين سولې پر ښکلي نازولي

دا به مخ درڅخه اړوي تېرېږي

که دي پرېښوده چي څه په مخ دي ښه سه

په ليدو پسي دي هره ورځ ړنديږي

راته وايه ريشتيا ښځي هسي نه دي

لکه سيوري چي پيدا د نارينه دي

په سهار او په ماښام کي سايې ګوره

دې موسم کي له بل هر وخت نه اوږدې وي

په غرمه کي سايې لنډي وي يا نه وي

سيوري نه وي هسي نوم يې د سايې وي

نارينه چي ډېر کمزوري سي راپرېوزي

د رستم په شان سي ښځي زوروري

خو چي کله نارينه په ځان پوره وي

ښځي نه کوي د زور د نوم خبري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته وایه ریشتیا ښځي داسي نه دي

لکه سیوري چي پیدا د نارینه دي

Ben Jonson (1573 � 1637)

The Shadow

FOLLOW a shadow, it still flies you;

Seem to fly it, it will pursue

So court a mistress, she denies you;

Let her alone, she will court you.

Say, are not women truly, then,

Styled but the shadows of us men?

At morn and even shades are longest;

At noon they are or short or none,

So men at weakest, they are strongest,

But grant us perfect, they�re not known.

Say, are not women truly, then,

Styled but the shadows of us men?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه آوازونه

Alice Corbin

هلته ليري يو وطن دی ډك له ميو شرابونو

ټول روښان د لمر له نوره ډك له رنگ رنگ نعمتونو

سروكال پكښي بهېږي د شيدو ويالې رواني

پسرلي يې نه ختمېږي تل مېوې پكښي پرېماني

پكښي هر څه ښايسته دي ټوله ښه دي ټوله ښكلي

چي پر چا دي مينه راسي ټولي ستا دي نازولي

انسانان به تل زلمي څوك په ژوند كي نه زړېږي

نه پرون سته نه سبا سته همدا نن دی نه تېرېږي

يو له بله به ګړېږي لكه وړي وي خوبونو

سره خاندي به وګړي كور به وران وي د غمونو

خو چي تل تر تله نن وي ستا به خوښ داسي ژوندون سي

يا هر څه لكه تېر كال وي در منظور به دا مضمون سي

دا چي هر څه لكه نن وي څومره عقل به كوچنی وي

څومره لړه به وي پوهه څه د زده كړي به كمی وي

نو يې ښه وبوله عمر له غمونو مه ډارېږه

نن بهتر تر سبا نه دی له سبا سره جوړېږه

او نه نن تر پرون ښه دی زمان الوزي تېرېږي

ورځي شپې سره پېيلي يو د بل په غېږ كي زېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د سترګو نور کمېږي زما د زړه مينه پاتېږي

زه پوهېږم چي هم مينه او هم عقل مو زياتېږي

Alice Corbin

Two voices

THERE is a country full of wine

And liquor of the sun

Where sap is running all the year,

And spring is never done

Where all is good as it is fair

And love and will are one.

Old age may never come there,

But ever in to-day

The people talk as in a dream

And laugh slow time away.

But would you stay as now you are,

Or as a year ago?

Oh, not as then, for then how small

The wisdom we did owe!

Or if forever as to-day,

How little we could know!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Then welcome age, and fear not sorrow;

To-day�s no better than to-morrow,

Or yesterday that flies.

By the low light in your eyes,

By the love that in me lies,

I know we grow more lovely

Growing wise.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خیال

Alice Corbin

یوه نرۍ خړه سایه مې ده د فکر پر څنګ

پټوي خپل زخمونه

داسې د غم زخمونه

چې مې جوړ کړي دي په خپلو لاسو

او دغه خړه سایه

چې سر تر پایه ستا په شاني ښکاري

دا زما زړګی دی چې ورو ورو ژړېږي

او ته آرام بیده یې

تر یوه سیوري لاندې

لیرې ولات کې چېرته

هلته د ولو تر سایو لاندې کرار بیده یې

کله چې شین سهار د غرو پر څوکو وځلېږي

نو ډېر ناوخته مې په یاد سې چیغار

په توره شپه کې د وحشې مرغکۍ

چې د باران په شپه له ځالې تللې

او د اسمان په غېږ کې ګرځېدله

Alice Corbin

Apparitions

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I

A THIN gray shadow on the edge of thought

Hiding its wounds:

These are the wounds of sorrow

It was my hand that made them

And this gray shadow that resembles you

Is my own heart, weeping�

You sleep quietly beneath the shade

Of willows in the south.

II

When the cold dawn stood above the house-tops

Too late I remembered the cry

In the night of a wild bird flying

Through the rain-filled sky.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تیاره وزرونه

James Stephens

چي هر څو سندري کړلای سې کوه يې

د ښايستې وني پر ښاخ ناستي مرغۍ

که څه هم پر سر دي ګرځي پراخ وزري

او اجل دي دی راغلی تر مرۍ

چي هر څه سندري کړلای سې کوه يې

سخت ساړه او سوړ ماښام مو دی په مخ کي

ستا پر سر باندي هم ګرځي غټ مشوکي

غواړي خپل تېره منګول دي په ځان ښخ کي

په آسمان کي باز وزر دي خپاره کړي

غوړولي يې په قهر شهپرونه

تريخ تاراج دی د سندرو انتظار دی

ختموي دي خوږې شپې شېرين وختونه

ستا پر ورځ باندي راغلې بدمرغي ده

ماته ګوري سره شپه او توند بادونه

تور وزر به پر نړۍ باندي راخپور کي

پکښې ورك به سي نومونه آوازونه

هلته نسته آوازونه د مرغانو

هلته نسته خاطرې د بلبلانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي هر څه سندري کړلای سې کوه يې

چي سبا به څه پېښېږي هېروه يې

James Stephens

Dark Wings

Sing while you may, O bird upon the tree!

Although on high, wide-winged above the day,

Chill evening broadens to immensity,

Sing while you may.

On thee wide-hovering too, intent to slay,

The hawk�s slant pinion buoys him terribly

Thus near the end is of thy happy lay.

The day and thou and miserable me

Dark wings shall cover up and hide away

Where no song stirs of bird or memory:

Sing while you may.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په کړکۍ کي

Carl Sandburg

په اسمانو کي ناسته خدايه واوره

ته چي نړۍ ته فرمانونه لېږې

ماته نصيب که هغه سخته لوږه

چي انسانانو ته رزقونه لېږې

زه درنه لوږه زه دردونه غواړم

ما ته شرمونه ناکامۍ نصيب که

نورو ته ورکه ښهرتونه طلا

ما ته زړې جامې خوارۍ نصيب که

مگر يو لږ مينه را پرېږده خدايه

چي يو آواز مي تر غوږونو راسي

د ورځي پای وي په تياره خونه کي

احساس د ميني د لاسونو راسي

زما د عمرونو تنهايي ختمه کي

دا زما اوږده بېنوايي ختمه کي

د ورځي پای کي د ماښام پر مهال

چي تر غروب وروسته تياره خپره سي

او په لوېديځ کي د وړوکي ستوري

تورو سايو څخه رڼا ښکاره سي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږده چي ولاړ سم د کړکۍ لوري ته

او ننداره د ترغوني وکړم

د لري ميني د راتلو په اميد

يو څو شپېې منتظر ودرېږم

Carl Sandburg

At a Window

GIVE me hunger

O you gods that sit and give

The world its orders.

Give me hunger, pain and want,

Shut me out with shame and failure

From your doors of gold and fame,

Give me your shabbiest hunger!

But leave me a little love,

A voice to speak the sunset,

A hade to touch me in the dark room

Breaking the long loneliness

In the dusk of day-shapes

Blurring the sunset,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



One little wandering, western star

Thrust out from the changing shores of shadow.

Let me go to the window

Watch there the day-shapes of dusk,

And wait and know the coming

Of a little love.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوه کتیبه

James Beattie

زه هم ستا په شان پر مځکه ګرځېدمه

زه هم ستا غوندي جوړه وم د ژونديو

ما هم تا غوندي کړی ورځ تېروله

په تلاښ د بې ارزښتو خوشاليو

زه هم تا غوندي غښتلی وم په ژوند کي

په جګړه کي د ژوندون د توپانونو

يا ماشوم غوندي خوشحال په ناوکيو

يا ناحقه مي زړه ډك و له غمونو

هېروه يې زما د ژوند عبثي ورځې

داسي حال کله پر تا دی هم راغلی

راته وبخښه په ژوند کي غلطۍ مي

ته به هم يې پر غلطه کله تللی

چي مي هسي له مزار څخه تېر نه سې

پر زړه ليك مي بې هنره افسانه کړه

زه ملګری ومه ستا او هم د ټولو

در په زړه مي خاطرې دانه دانه کړه

James Beattie

An Epitaph

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



LIKE the I once have stemm'd the sea of life

Like thee have languish'd after empty joys,

Like thee have labour'd in the stormy strife

Been grieved for trifles, and amused with joys.

Forget my frailties; thou art also frail:

Forgive my lapses; for thyself may'st fall:

Nor read unmoved my artless tender tale

I was a friend, O man, to thee, to all

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زړې مور سندره

William Butler Yeats

زه سهار پر سپېده چاود پاسم له خوبه

پر ګونډو سم او پیل وکم په پوکلو

چې بڅري او پېلوزي سي اورونه

او لمبې سي را ولاړې له خزلو

وروسته فرش مینځم او بیا ورپسې لوښي

بیا نوبت سي د ډوډۍ د پخولو

پر آسمان باندې لا ښکاري راڼه ستوري

سترګکونه لا وهي لا غلې ګوري

خو ځوانان لا په خوږو خوبونو تللي

بسترو کې اوږدې پښې يې غځولې

په بستر کې د جامو وهي چرتونه

جوړوي په خیال کې شنه او سره رنګونه

کرۍ ورځ په تنبلۍ باندې تېرېږي

کرۍ ورځ له بېکاريه نه مړېږي

که يې باد پر مخ کاکل کې کښته پورته

هم به باد هم به آسمان لره قهرېږي

خو زه ټوله ورځ لګیا یم په کارونو

او دا ځکه چې زړه يم عمر تېر دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نغري کي لمبه وار په وار سرېږي

اور کمزوری دی شین یخ تر ما چاپېر دی

William Butler Yeats (1865 � 1939)

The Song of the Old Mother

I RISE in the down, and I knee and blow
Till the seed of the fire flicker and glow
And then I must scrub, and bake, and sweep,
Till stars are beginning to blink and peep
But the young lie long and dream in their bed
Of the matching of ribbons, the blue and the red,
And their day goes over in idleness
And they sigh if the wind but lift up a tress
While I must work, because I am old
And the seed of the fire gets feeble and cold.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انسان

George Herbert (1593 � 1633)

خدایه ما دي نن له خلکو اورېدلي

چي پر مځکه بنګلې چا درولي

هغه ټولي وې د دوی د اوسېدلو

سرپناه وې د هغوی د هستېدلو

زه یو سوال لرم خالق د دې جهانه

چي بهتر به پیدا څوك وي له انسانه

چي خلقت ته یې جهان ټوله حیران دی

تر هر چا ښکلی پر مځکه او اسمان دی

یوه ونه ده پر ښاخ یې مېوه نسته

یو ساه کښ دی چي بهتر له ټوله هسته

ښایسته کړی دي په عقل په بیان دی

طوطي هم د ده کمال دی چي ګویان دی

په هوا کي چي یې ګرځي درزنونه

د انسان پکښې څرګند دي کمالونه

د انسان ثنا صفت به یې ویلای

که یې عقل که یې ژبه درلودلای

څومره ښکلی دي جوړ کړی په هنر دی

هر اندام له بل اندامه برابر دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول کمال د دې جهان پکښې څرګند دی

یو له بله دي ورکړی څه پیوند دی

سر تر نوکه اندامونه سره خپل دي

ټوله عمر په خدمت کي یو د بل دي

چي پیدا پر مخ د مځکي او اسمان دي

د انسان د زور او عقل غلامان دي

د ده سترګي راولي مځکي ته ستوري

کاینات یې د هنر کمال ته ګوري

له نباته چي جوړېږي درملونه

رغوي چي زموږ زخمونه او دردونه

دا خو ځکه په دردونو زموږ لګېږي

د انسان وجود اشنا ورته ښکارېږي

دا خو زموږ دپاره الوزي بادونه

دا خو زموږ دپاره ګرځي اسمانونه

مځکه کور دی د انسان چي نه خوځېږي

په چوپړ کي یې سیندونه دي بهېږي

چي هر څه په کایناتو کي تېرېږي

زموږ د ښې او د خوښۍ دپاره کېږي

ټوله زموږ دي په جهان کي نعمتونه

یا یې خورو یا مو مېلې دي او خوندونه

په اسمان کي رانه ستوري چي ځلېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د خوب او د آرام وخت را رسېږي

شپه راکش توره پرده زموږ پر نړۍ کي

لمر يې ليري په شغلو زموږ له کړکۍ کي

زموږ دپاره سور او تال دی د سازونو

زموږ په برخه دی خرمن د نعمتونو

که عروج دی که زوال د دې جهان دی

هر قدم ورسره عقل د انسان دی

په خدمت کي مو دي مځکي اسمانونه

زموږ کښتيو ته پيدا دي لوی سيندونه

ښايستې مو قلاګاني بنګلې دي

پکښې پاکي مو اوبه خواږه مېوې دي

څه ښايست دی، څه ښکلا ده، څه پاکي ده

له کماله د انسان جوړه ښادي ده

د انسان کار او کمال کړ جهان ښکلی

چي پر ټولو کايناتو دی ښاغلی

په چوپړ کي يې لا نور هم نوکران دي

له نظره څخه پټ چي د انسان دي

لا يې لاندي سي په لار کي تر ګامونو

چي يو وخت به يې درمل وای د دردونو

بېله شکه چي انسان ځان ته جهان دی

بل جهان يې لا نوکر او نګهبان دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو خالقه داسي قصر دي پيدا کړ

مالامال دي له کمال او له ښکلا کړ

پکښې وهستېږه تا لره ښايېږي

بيا به دی هم ستا له څنګ سره هستېږي

موږ ته دونه عقل راکړه او فکرونه

چي تر مرګه درته وکړو خدمتونه

چي نړۍ زموږ په خدمت کي وي ولاړه

او موږ ستا خدمت ته ودرېږو دواړه

George Herbert (1593 � 1633)

Man

MY GOD, I heard this day

That none doth build a stately habitation

But he that means to dwell therein

What house more stately hath there been,

Or can be, then is Man? to whose creation

All things are in decay.

For man is ev�ry thing

And more: he is a tree, yet bears no fruit;

A beast, yet is, or should be, more:

Reason and speech we onely bring;

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Parrats may thank us, if they are not mute,

They go upon the score.

Man is all symmetrie

Full of proportions, one limbe to another

And all to all the world besides

Each part may call the farthest brother

For head with foot hath private amitie,

And both with moons and tides.

Nothing hath got so farre

But Man hath caught and kept it as his prey;

His eyes dismount the highest starre;

He is in little all the sphere;

Herbs gladly cure our flesh, because that they

Find their acquaintance there.

For us the windes do blow,

The earth doth rest heav�n move, and fountains flow;

Nothing we see but means our good,

As our delight or as our treasure

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



The whole is either our cupboard of food

Or cabinet of pleasure

The starres have us to bed

Night draws the curtain, which the sunne withdraws;

Musick and light attend our head,

All things unto our flesh are kinde

In their descent and being to our minde

In their ascent and cause.

Each thing is full of dutie:

Waters united are our navigation;

Distinguished our habitation;

below, our drink, above our meat

both are our cleanliness. Hath one such beauties?

Then how are all things neat!

More servants wait on Man

Than he�l take notice of; in ev�ry path

He treads down that which doth befriend him

When sickness makes him pale and wan.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Oh mightie love! Man is one world, and hath
Another to attend him.

Since then, my God, thou hast
So brave a palace built, O dwell in it,
That it may dwell with Thee at last!
Till then afford us so much wit,
That, as the world serves us, we may serve Thee
And both thy servants be.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبادت

Ralph Waldo Emerson

دا هغه دی چي پر وکړې حملې خپلو دښمنانو

روغ رمټ تر و تازه دی له حملو د غلیمانو

چي یې بند لکه غلام کړ چي یې خرڅ کړ پر ملکونو

خو نه بند په پنجرو سو نه په تورو زندانونو

که په ګارو کي یې بند کړ هسي لویي لکه غرونه

ړنګول یې زندانونه ماتول یې ځنځیرونه

که یې واچاوه میدان کي د زلخوړو زمرو خولو ته

په تعظیم ورته زمري سول په سجده یې سوله پښو ته

که یې وتاړه پر ستنو لمبې نه باندي راتللې

ستني ټولي کرېدلې په تعظیم به ټيټېدلې

د ده ذات دی په خطا چي د قسمت په نوم يادېږي

تیاره لاري کي پايمالي او ناوخته رارسېږي

مګر هر وخت را رسېږي حقیقت ته تاج پر سر کي

تر درنو ګامونو لاندي ټول بدان زېر و بر کي

هغه مشر دی تر ټولو پېژندلی دی هر چا ته

تر هر څه درته نيژدې دی ستا تر ځان نيژدې دی تا ته

تا ته دونه در نیژدې دی چي د ځان یې سپ بللای

خو په سترګو کي د نورو درناوی یې سپ لیدلای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته سترې به سي خلك په دعا او په لمونځونو

د هغه نړۍ بې نیازه له سجدو له طاعتونو

هغه خدای دی کله رد کې درمندونه د خواستونو

بېخبرو ته عطا کې شنه ځولۍ د احسانونو

که کولای سې راکش که د صوفي کرښه له میانه

په ریشتیا که دنیا بېله د هغه له خپله ځانه

د انسان نړۍ جلا ده د خالق دنیا ده بېله

انساني ژوندون جلا دی له قدرته د یزدانه

Ralph Waldo Emerson (1803 � 1882)

Worship

THIS is he who, felled by foes,

Sprung harmless up, refreshed by blows

He to captivity was sold

But him no prison-bars would hold:

Though they sealed him in rock,

Mountain chains he can unlock

Thrown to lions for their meat,

The crouching lion kissed his feet

Bound to the stake, no flame appalled

But arched o�er him an honouring vault.

This is he men miscall Fate,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Threading dark ways, arriving late

But ever coming in time to crown

The truth and hurl wrong-doers down.

He is the oldest, and best known

More near than ought thou call�st thy own,

Yet, greeted in another�s eyes,

Disconcerts with glad surprise.

This is Jove, who, deaf to prayers,

Floods with blessings unawares.

draw, if thou canst, the mystic line

severing rightly his from thine,

which is human, which divine.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه ژوندی مرم

Robert Soutwell

ژونده چا یې ګرزولی په تلوار له ختمېدلو

مرګه چا راڅخه ستون کړې زما دعا ته له راتللو

زما د رزق برخه پوره ده زما به روح سي پر آرامه

زما وعده ده پوره سوې مرګه کار دي که تمامه

زه په داسي ژوند ژوندی یم چي مي مرګ هره شېبه دی

زه په داسي مرګي مرمه همېشه چي راسره دی

مرګی ختم ته رادرومي ژوند یې نه پرېږدي چي راسي

مرګ د ژوند لاره نیولې غواړي تل یې ما ته شا سي

زه په داسي مرګي مرمه خو له ژوند سره پاېېږم

ژوند له ما بېزاره سوی چي له مرګ سره اوسېږم

دا مي برخه د قسمت ده چي لا اوس هم ژوندی پایم

پر مزار د آرزوګانو چي لا نوم د هیلي وایم

زه ژوندی په نفس نه یم چي مین یم هلته یمه

هلته نه یم چي مین یم زه چي یمه هلته مرمه

زما آرزو هغه ژوندون دی چي روښانه مي سبا کي

نن چي مرګ احساسومه خطرونه یې په خوا کي

Robert Soutwell

I dye alive

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



O LIFE! What lets thee from a quick decease?
O death! what drawes thee from a fresent praye?
My feast is done, my soule would be at ease,
My grace is saide, O death! come take away.

I live, but such a life as ever dyes,
I dye, but such a death as never endes;
My death to end my dying life denyes,
And life my living death no whitt amends.

Thus still I dye, yet still I do revive;
My living death by dying life is fedd;
Grace more than nature kepes my heart alive,
Whose idle hopes and vayne desires are deade.

Not where I breath, but where I love, I live;
Not where I love, but where I am, I die;
The life I wish, must future glory give,
The deaths I feele in present daungers lye.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ابو بن ادهم

Leigh Hunt

د ابو بن ادهم په اشیانه کي

خدای دي کښېږدي برکت په قبیله کي

یو څه ږغ یې یوه شپه سو تر غوږونو

سم راویښ سو له اوږدو خوږو خوبونو

ورځرګند سو د سپوږمۍ په رڼایي کي

په کوټه کي په عالم د تنهایي کي

یو وجود له شنه آسمانه را لوېدلی

لکه ښاخ د شګوفې و غوړېدلی

ملایکه وه کتاب و د سرو زرو

پرې لیکل یې په قلم د جواهرو

زړه را غونډ بن ادهم کړ ورنیژدې سو

د ملکي او کتاب په نندارې سو

ویل څرنګه په پټه یې راغلې

څه لیکې په دې کتاب کي غلې غلې

ملایکي سر را پورته کړ ګویا سوه

پر شونډانو یې خپره خوږه موسکا سوه

ویل دلته زه لیکم هغه نومونه

چي یې ډك دي د خپل خدای له میني زړونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل سته بن ادهم په دې کتاب کې؟

زه دې هم يمه شمېرلی په دې باب کې؟

فرشتې ويل ستا نوم کتاب کې نسته

د خالق سره د مينې باب کې نسته

يو قدم بن ادهم ورته نيژدې سو

په تعظيم او په تکريم د فرشتې سو

ويل واوره دغه يو خواست مې منظور که

بله پاڼه کې داخل مې نوم ضرور که

مينه وال يمه د خپلو همنوعانو

زه مين يم پر ټولې د انسانانو

فرشتې کتاب کې وليکل پناه سوه

اسمانونو ته يې مخ ده ته يې شا سوه

بله شپه فرشته بيا ورته دېره وه

شاوخوا ورته د نور لمن خپره وه

ورته وې ښودل د هغه چا نومونه

چې خالق وه وربخښلي جنتونه

په نومونو کې لومړی بن ادهم و

نازېدلی پرې د سرو زرو قلم و

Leigh Hunt (1784 � 1859)

Abou Ben Adhem

Abou Ben Adhem (may his tribe increase!)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Awoke one night from a deep dream of peace

And saw, within the moonlight in his room

Making it rich, and like a lily in bloom,

An angel writing in a book of gold

Exceeding peace had made Abou Ben Adhem bold,

And to the presence in the room he said,

�what writest thou?� The vision raised its head

And with a look made of all sweet accord,

Answered, "The names of those who love the Lord."

"And is my one?" said Abou "Nay, not so"

Replied the angel. Abou spoke more low,

But cheerly still; and said, "I pray the, then,

Write me as one that loves his fellow men."

The angel wrote and vanished. The next night

It came again with a great wakening light,

And showed the names whom love of God had blest,

And lo! Ben Adhem's name led all the rest.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه له مرګ سره وعده لرم

Alan Seeger

زه له مرګ سره وعده لرمه ګراني

د دښمن سره د ډزو په مورچل کي

چي سپرلی د سرو سیورو سره راسي

تا ګلونه وي ټومبلي په اوربل کي

چي د سپېو شګوفې ښکلیو ګلونو

اورولي وي ګلونه پر باغونو

زه له مرګ سره وعده لرمه ګراني

پسرلی چي سینګار وکړي په دښتونو

مرګ به راسي ما به وړي تر لاس نیولی

تر تاریکي کنډوالې په کشولو

نیښتېځي به مي وروستی نفس له ستوني

راتړي به دواړي سترګي د لیدلو

ښایي تېر یې سم له ځنګه نالیدلی

په نصیب مي یو څه وخت وي لا لیکلی

زه له مرګ سره وعده لرمه ګراني

یوه غره کي چي ځبلی دی توپونو

چي سږ کال یو ځلي بیا پسرلی راسي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ښکاره سي شنه واښه موج د ګلونو

خدای پوهېږي زما خو خوښه ده چي پروت وای

د وربښمو پر بالښت ډك له عطرونو

غورځېدلای مي په زړه کي شور د مینې

شپه مي نه سبا کېدلای د خیالونو

تر سهاره غېږ په غېږ وای خوله په خوله وای

په آرام دي پاڅولای له خوبونو

مګر ګراني زما له مرګ سره وعده ده

نیمه شپه په یوه ښار کي چي لمبې وي

پسرلی به ستا تر کلي وي راغلی

د ګلونو شګوفو به قافلې وي

خو ما کړې ده وعده در ځخه ځمه

د مېړونو همېشه ټینګي وعدې وي

Alan Seeger

I Have a Rendezvous with Death �

I have a rendezvous with death

At some disputed barricade,

When Spring comes back with rustling shade

And apple-blossoms fill the air

I have a rendezvous with death

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



When spring brings back blue days and fair.

It may be he shall take my hand
And lead me into his dark land
And close my eyes and quench my breath
It may be I shall pass him still.
I have a rendezvous with death
On some scarred slope of battered hill,
When spring comes round again this year
And the first meadow-flowers appear.

God knows 'twere better to be deep
Pillowed in silk and scented down
Where love throbs out in blissful sleep
Pulse night to pulse, and breath to breath,
Where hushed awakenings are dear.

But I 've a rendezvous with death
At midnight in some flaming town,
When Spring trips north again this year,
And I to my pledged word am true,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I shall not fail that rendezvous.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جنګ میدان

Sydney Oswald

سترې عسکر پراته په واوره کې دي

نن ورته غوړي لمبې نه بلېږي

زامي يې ربېږدي له يخنيه څخه

نن شپه د اور سکروټې نه رسېږي

بالاپوښونو کې پېچلي پراته

پرې را الوتي دي ساړه بادونه

سړو سپلیو کې شپې تېروي

له ليري اوري د دښمن ږغونه

چې رڼايي د سپين سهار ښکاره سي

بيا به عسکر د جنګ ميدان ته وزي

بيا به ګولۍ اوربېږي ډزي به وي

زړه ور زلمي به امتحان ته وزي

د دوی په منځ کې پيره دار دی ولاړ

له ساړه باده يې ورنونه ربېږدي

کله پر ونه باندي واچوي ځان

کله تندی پر هغه ونه کښېږدي

باندي ظالم سي د ځوانۍ خوبونه

وني ته ځان تکيه کولای نه سي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګي يې وار په وار درنېږي ورته

د خوب حملو ته ټينګېدلاى نه سي

واوري او خوب دى ورته لاس يو کړي

پر دوه ميدانه جنګېدلاى نه سي

د دې ويدو عسکرو منځ کي پروت دى

تنکى هلك سترګي يې نه پټېږي

غواړي دا شپه کي تر سهاره رونه

د خوب له فوجه سره وجنګېږي

سترګي يې روڼې دي نيولي غواړي

چي د مړاني سرحدونه مات کي

چي قهرمان سي چي کيسې وګټي

چي د زړه ورو داستانونه مات کي

پر وينبو سترګو يې خوبونه راځي

سترو مغزو ته يې خيالونه راځي

بس دا يوه آرزو په زړه کي لري

بس دغه يو ذکر په خوله کي لري

چي د مړاني سرحدونه مات کي

چي د زړه ورو داستانونه مات کي

چي سالم وساتي ويده ملګري

هغه زلمي هغه د زړه ملګري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Sydney Oswald

The Battlefield

Around the fire the soldiers sleep to-night
But lie a-wearied on the ice-bound field
With cloaks wrapt round their sleeping forms, to shield
Them from the northern winds. Ere comes the light
Of morn brave men must arm, stern foes to light
The sentry stands, his limbs with cold congealed;
His head a-nod with sleep; he cannot yield
Though sleep and snow in deadly force unite.

Amongst the sleeps lies the Boy awake
And wide-eyed plans brave glories that transcend
The deeds of heroes dead; then dreams o'ertake
His tired-out brain and lofty fancies blend
To one grand theme, and through all barriers break
To guard from hurt his faithful sleeping friends.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له بدانو څخه لیري ښه یم

Isaac Watts (1674 � 1748)

ولي زه په هغه ډله کې روان سم

ولي زه د داسي خلکو سم ملګرى

په دوستي چي يې هر ګز نه يم خوشاله

ښه خو دا ده چي تل ګرځم يو وزرى

کرى ورځ کړي بد ويل يا سوګندونه

نه يې خداى کله په ياد وي نه لمونځونه

يوه بل ته کړي ښکنځل بدي خبري

له جنګونو يې زخمي سر او لاسونه

ولي واورم د نفرت او جنګ سندري

زړه مي تور دى د غضب له آوازونو

دا سندري مي پر زړه بدي لګېږي

بدي بدي مي پرېوزي پر غوږونو

زما په ژوند به ژبه نه کړمه چټله

د نا اهلو د خبرو په لفظونو

زه به سترګي همېشه ليري ساتمه

له ټولى د بې ادبو جاهلانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لاره به پرېږدم پر تېر به نه سم

تلل راتلل چي باندي وي د لوچگانو

زه به ږدم پر هغي لاري قدمونه

چي قدم ورباندي ایښی هوښیارانو

له ښو وخلکو ښه خویونه پاته کېږي

گوندي وي چي یو څه زده کړم له پوهانو

بې ادبه چي هلك چیرته پیدا سي

چي وهي په نورو خلکو ریشخندونه

لس یې نور ورځخه زده کي په کوڅه کي

د نا اهلو بې ادبو تقلیدونه

په رمه کي چي پیدا پسه پمن سي

نور پسونه یو په یو پسي عیبجن سي

Isaac Watts (1674 � 1748)

Against Evil Company

Why I should join with those I Play,

In whom I�ve no delight

Who curse and swear, but never pray,

Who call ill Names, and fight.

I hate to hear a wanton Song

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Their Words offend my Ears:

I should not dare defile Tongue

With Language such as theirs.

Away from Fools I�ll turn my Eyes,

Nor with the Scoffers go;

I would be walking with the Wise,

That wiser I may grow.

From one rude Boy that�s us�d to mock

Ten learn the wicked Jest;

One sickly Sheep infects the Flock,

And poysons all the rest.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ښکلا کي قدم وهي

George Gordon Lord Byron (1788 � 1824)

زما ښايسته داسي روانه په سامان کي

لکه ستوري چي ځلېږي په اسمان کي

لکه يخه د سپرلي شپه وي روانه

نور د ستورو باندي اوري له اسمانه

چي تياره او په رڼا کي بهترين دی

په وجود کي او د سترګو يې نګين دی

خدای پر دې هغسي نور دی اورولی

چي اسمان له ښايستو ورځو سپمولی

که يې يو سيوری ور زيات سي په بدن کي

يا يوه شغله يې کمه سي په تن کي

تناسب به د ښکلا ولاړ سي له ميانه

د ښايست به يې کمی وسي له ځانه

دا ښکلا، چي ورته نه راځي نومونه

توري زلفي چي وهي پکښې موجونه

يا په ناز کي هغه ښکلی مخ روښانه

چي يې عقل سم عاجز سي له بيانه

شپه او نور خومره پر ځای پکښې راغلي

پر سپين مخ يې شغلې څنګه ځلېدلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین باړخو پاس پر تندي ورځي کړې دي

څه نازکي څه خاموشي ننداري دي

په موسکا کي تښتوي زړونه خوبونه

او د حال په ژبه ښیي تېر وختونه

څه آرام یې روح له تن سره راغلی

څه معصوم زړه یې سینه کي تپېدلی

George Gordon Lord Byron (1788 � 1824)

She Walks in Beauty

She walks in beauty, like the night
Of cloudless climes and starry skies,
And all that�s best of dark and bright
Meet in her aspect and her eyes
Thus mellow'd to that tender light
Which heaven to gaudy denies.

One shade the more, one ray the less
Had half impair'd the nameless grace
Which waves in every raven tress,
Or softly lightens o�er her face;
Where thoughts serenely sweet express
How pure, how dear their dwelling-place.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And on that cheek, and o�er that brow,

So soft, so calm, yet eloquent,

The smiles that win, the tints that grow,

But tell of days in goodness spent

A mind at peace with all below,

A heart whose love is innocent!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خولګۍ راکه ښایستې

Robert Burns (1759 � 1796)

خولګۍ راکه ښایستې چې جلا کېږو

تل تر تله مخه ښې کوو بېلېږو

په سرو اوښکو کې وعده درسره کړمه

چې تر مرګه به آهونه درلېږمه

څوك به وايي چې يې بخت باندي ژړېږي

چې يې ستورى د اميد ورنه بېلېږي

نه مي سترګو کې خوښي چاته ښکارېږي

نه د هيلو مي څه نور پکښي ځلېږي

شاوخوا يم د هجران تيارو نيولى

نا اميده له وصال مي لاس پرېولى

ګرم به نه کړمه په ژوند کې خپل خيالونه

پر زړګي مي د جانان اوري يادونه

په اول ديدن مي زړه ورلره ورکى

اور د ميني ته مي زړه ور برابر کى

که په زړو کې مو د ميني اور بل نه واى

که منلى مو قاصد د اجل نه واى

چې نه مينه نه ديدن واى نه هجران واى

زموږ به زړونه په دې اور ولې بريان واى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما سپارلې يې پر خدای لېونی مینې

زما تر ټولو ښایستې لومړنی مینې

ژړ ګلونه دي پر لار د ځوانی مینې

بهتریني زما د زړه اورنی مینې

در پخوا دي د خوښيو خزانې وي

آرامي، قرار د مینې پیمانې وي

خولګۍ راکه ښایستې چې جلا کېږو

تل تر تله مخه ښې کوو بېلېږو

په سرو اوښکو کې وعده درسره کړمه

چې دي مینه تر مرګې نه هېرومه

چې تر مرګه به آهونه در لېږمه

او چې هر قدم ایږدم تا یادومه

Robert Burns (1759 � 1796)

Ae Fond Kiss

Ae fond kiss, and then we sever;

Ae fareweel and then forever!

Deep in heart-wrung tears I�ll pledge thee,

Warring sighs and groans I�ll wage thee

Who shall say that Fortune grieves him

While the star of hope she leaves him?

Me, nae cheerfu� twinkle light me;

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Dark despair around benights me.

I�ll ne�er blame my partial fancy

Naething could resist my Nancy;

But to see her was to love her

Love but her, and love forever

Had we never lov�d sae kindly,

Had we never lov�d sae blindly

Never met � or never parted �

We had ne�er been broken-hearted.

Fare thee weel, thou first and fairest!

Fare thee weel, thou best and dearest!

Thine be ilka joy and treasure,

Peace. enjoyment, love, and pleasure!

Ae fond kiss, and then we sever;

Ae farweel, alas, forever!

Deep in heart-wrung tears I�ll pledge thee,

Warring sighs and groans I�ll wage thee!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موږ اغوستي نقابونه

Paul Laurence Dunbar (1872 � 1906)

په دروغو مو موسکا ده موږ اغوستي نقابونه

چي پر سترګو کوي سيوري پټوي چي زموږ مخونه

د بشر د تزويرونو پرې کوو دغه پوروونه

که په وس وي او کنه وي که مو زړه وي که زړه نه وي

خولې مو وېړي وي نيولي وړو پر زړو د غم بارونه

پرېږده ولي نړۍ پوه سي ولي دونه وي هوښياره

چي پر مخ مو اوښکي شمېري حسابي چي مو آهونه

نه نه پرېږده چي غلط سي تر قيامته دي غولېږي

موږ اغوستي نقابونه موږ به پټ ساتو رازونه

موږ به خاندو مګر خدايه تا ته زموږ چيغي رسېږي

چي آسمان ته پورته کېږي د زخمي زړو فريادونه

موږ سندري وايو ناڅو خو تر پښو لاندي مو مځکه

لکه کنده د دوږخ ده او فاسد يې رباتونه

نړۍ پرېږده چي ويده وي بېخبره زموږ له رازه

موږ اغوستي نقابونه موږ به پټ ساتو رازونه

Paul Laurence Dunbar (1872 � 1906)

We Wear the Mask

We wear the mask that grins and lies

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



It hides our cheeks and shades our eyes

This debt we pay to human guile,

With torn and bleeding hearts we smile

And mouth with myriad subtleties.

Why should the world overwise,

In counting all our tears and sighs?

Nay, let them only see us while,

We wear the mask.

We smile, but, O great Christ our cries

To thee from tortured souls arise.

We sing, but oh the clay is vile

Beneath our feet, and long the mile

But let the world dream otherwise,

We wear the mask!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کلوپاترا پر مزار

Conrad Aiken

د بلورو په تابوت کې غزېدلې

د مرګي په خوب ويده کلوپاترا ده

د هنر په ګوتو جوړه ناوکۍ ده

هغه ښکلې بېخبره له دنيا ده

غاړګۍ يې ورته جوړه کړه د زرو

په نرۍ ګوتو ګوتمۍ د جواهرو

لکه ښکلې د لومړۍ شپې ناوکۍ وه

کمالونه سول په سترګې د زرګرو

په تابوت کې چې پرته ده بېخبره

دا د مصر ښايسته کلوپاترا وه

په سجدو ورته راتلل د مصر خلك

ملکه هم د قدرت هم د ښکلا وه

اوس بې نوره وچه کلکه ده زړه ده

له تور قيره يې خوله ډکه ده پرته ده

غلو د شپې ورخخه وړي غاړګۍ دي

له ښايستو ګوتو يې وړي ترې ګوتمۍ دي

چا پروا د مقدسو نښو نه کړه

بې حيا داړه ماران د دې نرۍ دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورولي يې وې ډلي د مرغانو

گرځېدل چي يې پر قبر په قرنونو

بېچاره کلوپاترا سوه نا آرامه

له کلو چي به ويده واى په خوبونو

که دا ښکلې ملکه هسي پرته واى

لکه قبر کي پراته دي نور وگړي

له هنر او له زرگر څخه بېغمه

په يوه کفن کي تللې واى د مړي

له قرنو وروسته به ولي زورېدلاى

پر قسمت به يې وخت ولي خندېدلاى

که محبوب يې واى خبر له دغه رازه

او اسرار د زماني ورښکارېدلاى

له خوښۍ به ورنه ورك د مځکي سر واى؟

که له سرو سترگو به ويني ژړېدلاى

آ ! خوږې خواپاکي مځکي چي له زړه دي

په سپرلي کي شنه واښه راپورته کېږي

چي هم زه او زما محبوبه دواړه ومرو

د مرگي پيالې چي دواړو ته رسېږي

تر لحد مو خپله غېږه که چاپېره

چي ويده سو تر قيامته په خوبونو

شنه واښه او گل مو پورته له قبرو که

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته کېږي چي پر لور د اسمانونو

Conrad Aiken

Dead Cleopatra

DEAD CLOEPATRA lies in a crystal casket,

Wrapped and spiced by the cunningest of hands

Around her neck they have put a golden necklace

Her tatbebs it is said, are worn with sands.

Dead Cleopatra was once revered in Egypt �

Warm-eyed she was this princess of the south

Now she is very old and dry and faded

With black bitumen they sealed up her mouth.

Grave-robbers pulled the gold rings from her fingers

Despite the holy symbols across her breast;

They scared the bats that quietly whirled above her.

Poor lady! She would have been long since at rest.

If she have not been wrapped and spiced so shewdly,

Preserved, obscene, to mock black flights of years.

What would her lover have said, had he foreseen it?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Had he been moved to ecstasy of tears?

O sweet clean earth from whom the green blade cometh!

When we are dead, my best-beloved and I,

Close well above that we may rest forever,

Sending up grass and blossoms to the sky.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په سايو کې

Arthur Davison Ficke

د خوبونو تر نږی مې وې راغلې

خو دا ځل مې هرګز نه يې پېژندلې

بل مې هيڅ په خاطره کې پاته نه دي

بېله دې چې تېره شپه مې يې ليدلې

يوه پټه لکه خيال داسې لړزه ده

پر زړګي باندې مې هر ګړی خپره ده

لکه سيوری داسې ورك ښکلې يادونه

زوکلوې مې د زړه تل خپاره خيالونه

چې شپه تېره سې هېرېږي يې خوبونه

خو ستا ياد مې لګوي په زړه نوکونه

هسې پاته بوی د ښکليو د يادونو

لکه تللې قافله وي د ګلونو

لکه تېره ملکه پر يوه لار سي

بوی د ګلو يې د شپې د غاړې هار سي

Arthur Davison Ficke

Among Shadows

IN halls of sleep you wandered by,

This time so indistinguishably

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I cannot remember aught of it

Save that I know last night we met.

I know it by the cloudy thrill

That in my heart is quivering still;

And sense of loveliness forgot

Tease my fancy out of thought.

Though with the night the vision wanes,

Its haunting presence still may last

As odor of flowers faint remains

In halls where late a queen has passed.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Dorothy Parker

## سره کالي

همېشه به مي په زړه کي ګرځېدله

چي زه لويه سم او خپل سر ته ايله سم

سرې د ګل په شان جامې به مي وي ځان کي

ته مي وينې چي تر ټولو ښايسته يم

چي د اوړي په ښايسته ورځ يم وتلې

او په لار کي يم قدم قدم روانه

څوك مي ووينې چي څومره ښکلې ښكارم

زما لپاره نرۍ ليري کړي له ځانه

ها زړه ور چي يې خوښېږمه له نجونو

دوې يې سترګي لکه ستوري پر اسمان وي

طلايي وېښته يې ځل وهي په لمر کي

ټوله مينه، ټوله زما وي زما ځان وي

دوې شوندي وي تودې او نازنينې

همېشه وايي ريشتيا خبري سپينې

همېشه وم د خوښيو په چرتونو

چي درنه يمه پر ښار او پر ملکونو

لويه ښځه سرو جامو کي يم روانه

اوس پوهېږم په ريشتيا چي وم نادانه

Dorothy Parker

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



The Red Dress

I always saw, I always said
If I were grown and free
I�d have a gown of reddest red
As fine as you could see.

To wear out walking sleek and slow
Upon a summer day
And there�d be one to see me so
And flip the world away.

And he would be a gallant one
With stars behind his eyes
And hair like metal in the sun
And lips too warm for lies

I always saw us, gay and good
High honored in the town
Now I am grown to womanhood �
I have the silly gown.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## برهما

Ralph Walde Emerson

که څوك ځانته قاتل وايي، وي روان په سرو لاسونو

که څوك ځان وژلی بولي لژند پروت پر میدانونو

دوی ته نه دي ورمعلومي د قدرت باریکي لاري

چي زه څم باندي راځمه پی کوم یې په ګامونو

که څه لیري یا هېر سوي ماته دواړه رانیژدې دي

که سایه که د لمر وړانګي ما ته یو دي په رنګونو

تري تم چي څه خدایان دي ماته ټول راخرګندېږي

توپیر نسته زما په مخ کي د شرمونو شهرتونو

هغوی ظلم پر ځان کړی چي له ما دي بېخبره

څوك چي الوزي اسمان ته طاقت زما د وزرونو

زه هم شك یم هم شکمن یم ماته دواړه سئ ویلای

زه آهنګ یم د سندرو د برهمن د آوازونو

طاقتونه راپسې دي په مکان پسي مي سترې

لاري ورکي دي له ټولو د اوو لوی اسمانونو

مګر تا چي ځان تسلیم کړ د دنیا د میني غېږ ته

ما پیدا کې بیرته تښتي زما له سترو مقامونو

Ralph Waldo Emerson (1803 � 1882)

Brahma

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



IF the red slayer thinks he slays,
Or if the slain think he is slain
They know not well the subtle ways
I keep, and pass, and turn again.

Far or forgot to me is near
Shadow and sunlight are the same
The vanished gods to me appear;
And one to me are shame and fame.

They reckon ill who leave me out;
When me they fly, I am the wings
I am the doubter and the doubt,
And I the hymn the Brahma sings.

The strong gods pine for my abode
And pine in vain the sacred Seven;
But thou, meek lover of the good!
Fine me and turn thy back on heaven.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## باران په شپه کي

Helen Hoyt

ته يې اورې د باران څاڅکي توپېږي؟
په څه زور پر مخ د مځکي را اورېږي؟
هم څڅېږي پر بامونو هم کړکیو
پر غوږو يې آواز څومره ښه لګېږي
څه بېغمه څه ارام ورته پراته يو
په لمن کي د تيارې جهان ډوبېږي
زموږ له خوني بهر ټول جهان تياره دی
د آسمان تر لمن څاڅکي راڅڅېږي
د دې ستر باران په مځکي دواړه هيڅ يو
پر دې مځکه زموږ وجود نه معلومېږي
يو ځل پاڅه دا زما ږغ په غوږو اورې؟
زما اواز دې تر غوږونو در رسېږي؟
يوه شپه به لکه نن باد او باران وي
په همدې کور کي چي اوس پکښې پراته يو
نه به اورو نه به وينو نه پوهېږو
هېر مي نه سي زه او ته به دواړه مړه يو
Helen Hoyt

Rain at Night

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Are you awake? Do you hear the rain?

How rushingly it strikes upon the ground

And on the roof, and the wet window-panel

Sometimes I think it is a comfortable sound,

Making us feel how safe and snug we are:

Closing us off in this dark, away from the dark outside.

The rest of the world seems dim tonight, mysterious and far.

Oh, there is no world left Only darkness, darkness stretching wide

And full of the blind rain�s immeasurable fall!

How nothing must we seem unto this ancient thing!

How nothing unto the earth � and we so small!

Oh, wake, wake! � do you not feel my hands cling?

One day it will be raining as it rains tonight; the same wind blow �

Raining and blowing on this house wherein we lie, but you and I �

We shall not hear, we shall not ever know.

O love, I had forgot that we must die.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملت په جنګ کې

Mary Elizabeth

پر وطن مو جنګ راغلی څه د غم ورځې او شپې دي

جنګ د سولې په خاطر دی موږ منلې حادثې دي

زړونه غورځې په سینو کې د هغو پر سر بېرېږو

چې زړه ور تللي له کوره غوره کړې یې جبهې دي

ناکرارې شپې په مخ کې هیڅ باور په سبا نسته

تشې هیلې د ښېګڼو زړه پوره د هیچا نسته

د هر چا په زړه کې غم دی د زلمیو د سرونو

وار په وار رانیژدې کېږي شپې د سترو خطرونو

ځئ لاسونه سره ورکړو ځئ دعا وکړو زلمو ته

چې مو روغ رمټ ستانه سي ځوان عسکر خپلو کورو ته

درناوی د هغو وکړو چې په جنګ کې شهید کېږي

چې تر خاورې قربانېږي چې یې وینې پرې تویېږي

زموږ یقین دی بریالي به راستنېږي له جنګونو

ختموو به دا ناخوالې د ظلمونو کړاوونو

زموږ یقین دی ډېرې ژر به دا تیارې ورځې رڼا سي

پر وطن به زېرى زېرى د برې د ورځو راسي

زه امید لرم چې ژر به هغه ورځې رارسېږي

چې زړه ور عسکر به بیرته خپل وطن ته راستنېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دعا کوم چي ژر به بیرته ټینګ کي سنګرونه

بندرونه به نڅېږي چراغان به وي کورونه

زموږ عسکر به له خوشیه په جامو کي نه ځایېږي

او په نوم د امریکا به له غرور سره تېرېږي

زموږ وطن دی پوروړی د دې خپلو توریالیو

د عسکرو په لباس کي د زړه ورو جنګیالیو

شپه او ورځ چي موږ آرام یو دوی له مرګ سره لوبېږي

د اولس د ژوند دپاره تر خپل ژوند او سر تېرېږي

زما د زړه یوه ارزو ده چي سالم راسئ عسکرو

له څپو د دریابونو تر خپل کور پوري زړه ورو

خدایه دا خواست مي قبول کړې چي د غم شپې مي سبا سي

چي بیا ټوله سره کښېنو جنګیالي مو بیرته راسي

Mary Elizabeth

A Nation at War

The war is here and what a sad day it is

To have come to this to achieve peace

The worries escalates, we all live in fear

For those on the frontline, proud and brave.

Troubled times with no assurances

Hopping for better outcome with no guarantees

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



The risk is high, lives are at stake
Imminent danger looming ahead

Lets join hands and say a prayer
To bring our soldier back in one piece
Lets bow out heads in defeaning silence
Out of respect for possible casualties.

There is not doubt we will prevail
Put an end to this ghastly ordeal
There is no question it will soon end
The threat to the American, night and day

I can only hope this be quick and short
Have our soldier back in the safest port
I pray they drop the anchor, sign for a safe return
And savor the joy and pride of being an American.

For our country does not function as a whole
Without the backbone of those men in uniform
Day in and day out, they take a big chance

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Just to protect the lives of us civilians

From my heart to yours a silent plea

Please come home safe from across the sea

May our prayers protect you in this time of sorrow

So together we can face, a brighter tomorrow.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه لار چي چا نه وه اخیستې

Robert Frost

یوه ځنګله کي دوې کږې لاري بېلېږي سره
زه یو سړی یم دواړي لاري اخیستلای نه سم
له ډېره وخته ورته ګورم دواړي لاري وینم
کومه یوه به وي بهتره څه ویلای نه سم
دا یوه لاره کږه تللې ده په شنو ونو کي
د لویو ونو تر سایو لاندي وړو ونو کي
ما هغه بله لاره ښه وبلل وامي خیستل
ما ویل ګوندي زه پر سمه لاره تللی یمه
اوس یر دې شنه لاره ګامونه ایښودل په کار دي
زه په ځنګله کي پر دوو لارو درېدلی یمه
پر دواړو لارو باندي زما په شاني خلك تللي
زه مي قسمت نن انتخاب ته راوستلی یمه
سهار وختي دی دواړي لاري تشي توري پرتې
پر یوه لار باندي اثر د قدم نه ښکارېږي
هغه لومړۍ لاره مي بل سفر ته وساتله
خو پوهېدم چي دلته دوه سفره نه ځايېږي
زړه مي ویل چي تر دې دوو لارو به بیا رانه سې
تر دې ځنګله پوري سفر ته به تنها رانه سې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به افسوس کوم چي ولي مي دا لار ونيول

پېړۍ به تېري وي اوښتي به وي ډېر کلونه

يوه ځنګله کي وې دوې لاري ما يوه واخيسته

هغه چي نه و باندي ايښي خلکو ډېر ګامونه

اوس چي راځي نو مي له خپله انتخابه راځي

د خپل قسمت پر فيصله باندي مي ايښي پلونه

Robert Frost

The Road Not Taken

TWO roads diverged in a yellow wood,

And sorry I could not travel both

And be one traveler long I stood

And looked down one as far as I could

To where it bent in the undergrowth,

Then took the other, as just as fair

And having perhaps the better claim,

Because it was grassy and wanted wear;

Though as for that the passing there

Had worn them really about the same

And both that morning equally lay

In leaves no step had trodden black.

Oh, I kept the first for another day!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Yet knowing how way leads on to way

I doubted if I should ever come back.

I shall be telling this with a sigh

Somewhere ages hence,

Two roads diverged in a wood, and I �

I took the one less traveled by,

And that has made all the difference.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راز

Ralph Hodgson

راغی تر لاس یې نیولی بوتلم

وني ته ولاړو د سرو گلابو

په پټه خوله یې یو گلاب راکړ

په رنگ رنگین و د سرو شرابو

زه تېنگه نه سوم چي خامخا دي

راته څرگند کړي د زړه رازونه

دومره کافي وه د گل په بوی کي

لکه پراته وي ټول جنتونه

دومره مي بس وه چي دی مي ولید

او زما په برخه سول دیدنونه

Ralph Hodgson

The Mystery

He came and took me by the hand

Up to a red rose tree

He kept his meaning to Himself

But gave a rose to me.

I did not pray Him to lay bare

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



The mystery to me;

Enough the rose was Heaven to smell,

And His own face to see.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ته هم لیري هم نیژدې یې

Christopher Pears Cranch

ته یې لیرې موږ دې دلته نیژدې غواړو

ته نیژدې یې موږ تر کومه ځایه ولاړو

زموږ سجدې دې بې پروا خو ته دانا یې

تا ته نسته ضرورت رحیم پاچا یې

ته د هر انسان په روح کې یې ځلېږې

بشر ستا بهتر مخلوق دی ته پوهېږې

په هر نېك عمل کې پټه ده ستا مینه

له هر بد څخه مو ستا مینه ساتینه

ته د ټوله عالم روح یې ته محور یې

په ژوندون کې مو د هر عمل رهبر یې

هر نفس له تا، د هري خوښۍ نور یې

له خپگانه مو ساتې ته مو سرور یې

ته حاضر په دوه جهانه هر زمان یې

زموږ تر علم پوهې لوړ په هر جهان یې

نه پر تا به مو باور کم سي نه مینه

نه له تا څخه بېلېږي ژوندۍ وینه

نه خلقت نه الهامونه دې ختمېږي

په مخلوق دې اراده نه سترې کېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته صانع يې او هم د لمر هم کايناتو

د انسان او د ښکلا او کراماتو

ستا قدرت دی چې له هر شي ښرګندېږي

ستا هنر دی چې په هر څه کې ځلېږي

ستا قانون دي مخلوقات سره تړلي

بهترين له بهترين سره پېيلي

خپل دي بولي د بشر ټول نژادونه

په هيڅ ژبه کې ځای نه سول ستا نومونه

دا ګونګی شونډې تا نه سي يادولای

تا يوازي خاموشي سي ښه ستايلای

Christopher Pearse Cranch (1813 � 1892)

So far, so near

THOU, so far, we grope to grasp thee

Thou so near we cannot clasp thee

Thou, so wise, our prayers grow heedless

thou, so loving they are needless!

In each human soul thou shinest,

Human best is thy divinest.

In each deed of love thou warmest.

Evil into good transformest,

Soul of all, and moving centre

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Of each moment�s life we enter.

Breath of breathing � light of gladness

Infinite antidote of sadness

All-preserving ether flowing

Though the worlds yet past our knowing.

Never past our trust and loving

Nor from thine our life removing.

Still creating still inspiring,

Never of the creatures tiring;

Artist of the solar spaces;

And thy humble human faces;

Mighty glooms and splendours voicing;

In thy plastic work rejoicing;

Through benignant law connecting

Best with best � and all perfecting,

Though all human races claim thee

Though and language fail to name thee

Mortal lips be dumb before thee,

Silence only may order thee!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



William Batler Yeats

## کله چي ته به زړه يې

چي ته زړه يې سر دي سپين سترګي له خوبه ډکي

سر ښوروې د اور له څنګه دا کتاب در واخله

آرام يې لوله پکښي خپل د ناز کاته وګوره

د زلميتوب د مستانه خوبونو باب درواخله

پکښي پيدا کي خپلي سرې ښکلي خماري سترګي

له غمزو ډکي خوبولي ناغه داري سترګي

څومره زلمو دي له خوښيو سره مينه کول

چا په دروغو چا دي مينه په ريشتيا پاللـه

يوه سړي دي مقدس روح ته سجده لګول

ستا له ښايسته سره يې مينه له پخوا پاللـه

ستا له غمونو انديښنو سره يې مينه کول

مينه يې ستا د ښکليو ورځو نيمه خوا پاللـه

هغه سړی ستا د روښاني کړکۍ خوا ته راغی

او په غمګين آواز يې داسي زمزمه کوله

څرنګه مينه په چټکو ګامو وتښتېده

ستا يې د غرونو تر شا څنګه ننداره کوله

مخ يې آسمان کي پاس د ستورو په ټولۍ کي پټ کړ

ځان يې د تورو سړو ورځو په ځولۍ کي پټ کړ

William Butler Yeats. b. 1865

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



When you are Old

WHEN you are old and gray and full of sleep
And nodding by the fire take dawn this book
And slowly read, and dream of the soft look
Your eyes had once, and of their shadows deep

How many loved your moments of glad grace
And loved your beauty with love false or true,
But one man loved the pilgrim soul in you
And loved the sorrows of your changing face.

And bending down beside the glowing bars,
Murmur, a little sadly, how love fled
And paced upon the mountains overhead,
And hid his face amid a crowd of stars.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زوړ مین له میني تښتي

Thomas Lord Vaux

چي خواږه د زلمیتوب وه اوس ترخه راته ښکارېږي

اوس نفرت ورنه لرمه نور مي مینه نه پارېږي

اوس د عمر تقاضا ده هېروم زاړه خیالونه

تر ورخ تېري اوبه ولاړې بیا په بیرته نه ستنېږي

په رنځو سترګو یې ګورم چي هېرېږي هوسونه

یو په یو دا دی روان دي رانه تښتي مي خیالونه

د زمان جولا ته ګوره دا په څه بېړه لګیا دی

ورته ګورم چي مي اویي په تور سر کي سپین تارونه

شېرین عمر دی چي تښتي په تلوار اخلي ګامونه

بندوي مي په لکړه ژوندی غاړه ښارګونه

په تلوار په منډه منډه هوسونه داسي تښتي

لکه زما د ژوند په لار کي چي یې نه وه ایښي پلونه

نه خوښي مي زړه کي پاته نه رګونه مي مستېږي

نه د تېر په شان نڅېږم نه مي هیلي راپارېږي

نه قلم راسره یار دی نه لاسونو کي مي زور سته

زلمی ورځي دي الوتي تېري شپې دي نه ستنېږي

جواز نه راکوي عقل راته چاري د زلمیو

ځواني داسي لیري ښکاري لکه نکل د پېریو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ورځ مي عقل وايي چي زلمي کلونه تېر دي

لاس دي پرېمينځه تر مرګه له نانځکو له بازيو

هم په ورځو هم په مخ کي راته ګونجي څرګندېږي

هره ورځ په آئينه کي بوډۍ نښي راښکارېږي

راته وايي زاړه عمر د ځوانۍ کړې لاري بندي

هوس مه کوه د تېرو ځواني بيرته نه غبرګېږي

د مرګي قاصد مي وينم چي مي خوا ته را روان دی

پسرلی مي رژېدلی اوړی تېر وخت د خزان دی

د رنځورو شپو بستر کي هم ټوخېږم هم لړزېږم

راته وايي وخت آخر دی سفر ختم د کاروان دی

يو کلنګ او يوم راواخله نور به وزې د دې ښاره

د کفن په نوم که جوړه وروستنۍ جامه تياره

يو د ختو کورګی جوړ که چي تر تله پکښي اوسې

چي همېش ورته راګرځي د هغه مېلمه دپاره

د قسمت کاتب مي وايي ځان تيار که وخت تېرېږي

ژر له کاره پيوند پرې که کاروانونه روانېږي

د کفن مي ترې غوټې وړه ډله د دوستانو

دا هغه آشنا لباس دی پرې خندل چي به ځوانانو

چي په قبر کي مي کښېږدي چي لحد ته سم دننه

لکه نه وم زېږېدلی هېر به سمه د يارانو

له نامه چي به يې مست وم نن هغه ځواني پرېږدمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور به جام د هوسونو شاه زلمو ته ورکومه

زما نوبت د ځوانۍ تېر دی زما پیاله د مستۍ تشه

د بوډۍ عمر ځولۍ ته زلمیتوب تسلیمومه

له وېښتو خالي کوپړۍ مي نښانه د وروستۍ شپو ده

په ځوانۍ چي مي کښت کړی په پیرۍ یې ټولومه

ښکلا لاس رانه اخیستی وخت مي بیایي لاس تړلی

د هغې نړۍ پر لوري چي اول ورنه راغلی

خال لاس چي وم راغلی خالي لاس به روانېږم

چي له خاورو وم جوړ سوی په هغو خاورو ګډېږم

Thomas Lord Vaux (1509 � 1556)

The Aged Lover Renounceth Love

I loathe that I did love,

In youth that I thought sweet;

As time requires for my behove

Me thinks they are not meet.

My lusts they do me leave,

My fancies all be fled

And tract of time begins to weave

Gray hairs upon my head.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



For age, with stealing steps,
Hath clawed me with his crutch
And lusty life away she leaps
As there had been none such.

My muse doth not delight
Me as she did before
My hand and pen are not in plight
As they have been of yore.

For reason me denies
This youthly idle rhyme,
And day by day to me she cries
Leave off these toys in time.

The wrinkles in my brow
The furrows in my face,
Say limping age will hedge him now,
Where youth must give him place.

The harbinger of death,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



To me I see him ride;

The cough, the cold, the gasping breath,

Doth bid me to provide

A pickaxe and a spade,

And eke a shrouding sheet,

A house of clay for to be made

For such a guest most meet.

Me thinks I hear the clerk

That knolls the careful knell,

And bids me leave my woeful work

Ere nature me compel.

My keepers knit the knot

That youth did laugh t scorn,

Of me that clean shall be forgot

As I had not been born.

Thus must I youth give up

Whose badge I long did wear

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



To them I yield the wanton cup
That better may it bear.

Lo, here the bared skull
By whose bald sign I know
That stooping age away shall pull
Which youthful years did sow.

For beauty, with her band
These crooked cares hath wrought
And shipped me into the land
From whence I first was brought.

And ye that bide behind
Have ye none other trust
As ye clay were cast by kind,
So shall ye waste to dust.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جادوګره

Mary Elizabeth Coleridge

ما په واورو کي وهلي ډېر اوږده اوږده مزلونه

نه په قد يم دونه جګه نه غښتلي مي هډونه

په بدن جامې لندې دي سره موښلي مي غاښونه

لار اوږده ده مزل ګران دی باندي خورمه تيندکونه

پر دې مڅکه پر دې لارو يم بېحده ګرځېدلې

نابلده سر منزل دی دلته هيڅ نه يم راغلې

دا ور پرانيزئ ما پرېږدئ چي کوټې ته سم دننه

له سړو مي زړګی رېږدي روح مي وزي له بدنه

باد الوتی دی په ځان مي لکه ستن داسي لګېږي

واوره الوزي سېلۍ ده د بدن توان مي ختمېږي

آواز نسته په مرۍ کي لکه تيږي وچ لاسونه

چي د مرګ په ځان کي زور و راته راپې کړل سوکونه

زه لا اوس وړه نجلکۍ يم زما کمزوري دي هډونه

د وړو سپينو پايپو کنګل سوي دي نوکونه

ور را پرانيزئ ما پرېږدئ چي کوټې ته سم دننه

له سړو مي زړګی رېږدي روح مي وزي له بدنه

ښځينه ږغ مي تر غوږ سو لکه زېرى د ژوندون و

ږغ د زړه له کومي راغی لکه نور د سباوون و

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه راغله را نيژدې سوه لکه نور وي په لمبه کي

د لمبې په څېر سوه ورکه د سکروټو په کاسه کي

نه مي وليده په سترګو نه يې بيا سوه لمبه پورته

که مي هر څه تلاښ وکړ چي يې راولمه کور ته

ور مي پرانيستى چي راسي تر کوټې پوري دننه

له سړو به يې زړه ربړېدي روح يې وزي له بدنه

Mary Elizabeth Coleridge (1861 � 1907)

The Witch

I HAVE walked a great while over the snow

And I am not all nor strong.

My clothes are wet and my teeth are set,

And the way was hard and long.

I have wandered over the fruitful earth,

But I never came here before.

Oh, life me over the threshold, and let me in at the door!

The cutting wind is a cruel foe.

I dare not stand in the blast.

My hands are stone and my voice a groan,

And the worst of death is past

I am but a little maiden still,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



My little white feet are sore.

Oh, life me over the threshold, and let me in at the door!

Her voice was the voice that women have,

Who plead for their heart�s desire.

She came � she came � and the quivering flame

Sunk and died in the fire

It never was lit again on my hearth

Since I hurried across the floor,

To lift her over the threshold, and let her in at the door.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښایستو چي غم ونه کئ

Anna Hempstead Branch

ګورئ ښکلیو چي خواشیني زړونه نه کئ
یوه شپه چي مو ښکلا درنه بېلېږي
د خوښیو یو سسته تنسته ده
لکه واوره د سپرلي داسي ویلېږي
نورو سترګو، نورو مځکو، شنو ډنډو کي
نوي نوي ښکلا ګاني راټوکېږي
د اوبو په شاني ستاسي پر لاسونو
ښکلا توی سوه اوس له ګوتو مو کوچېږي
د یوې بلبلي ځای به بله نیسي
یو بلبل عمرونه نه سي چغېدلای
ګورئ شپې چي په سرو اوښکو سپیني نه کړئ
ښکلا هم تر مرګه نه سي پاتېدلای
چي هر څو زګېروی کوچنی وي دا يې اوري
د شپې غوږ يې له فریاد سره سور کړی
یو ځل صبر د سهار رڼا ته وکي
ګوندي کوچ د ښکلا نه وي لا پیل سوی
مګر ښکلي خوږي شونډي سره مخونه
د برېښنا په شان یوه شېبه ځلېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا کوچ کوي رخصت راځخه اخلي

موږ زاړه غم ته پرېږدي دا به ورکېږي

د دې غم ګوزار یوازې ستاسي نه دی

نه لومړی ځل ستاسي کور ته دی راغلی

د ښایست ملکې ځومره ژړېدلي

چې له کوره یې دا ښکلی مېلمه تللی

چا چې ژر ژر پورول او خرڅول کړل

دا نړۍ او دا ژوندون به د هغو وي

حسابونه یې له موږ څخه جلا دي

چې شېبې یې پر ژوندون باندې پېرزوې وي

موږ په خوښ یو چې یادونه تصویرونه

مو په سترګو د دوستانو کې اوسېږي

که مو ستوري د آسمان پر لمن پټ سي

زموږ یقین دی په تیارو کې نه ډوبېږي

راسئ وخاندئ د شنو ویالو په ژبه

په نصیب چې ابدي داسي ځواني ده

هسي پاته سو په زړه د زمانې کې

د سپرلي چې د ګلونو تازګي ده

ګورئ ښکلیو چې خواشیني زړونه نه کئ

یوه شپه که د ځلې په شان سړه ده

درته یادي کئ روښاني ښکلي ورځې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سينو کي چي پټ پاته خاطره ده

Anna Hempstead Branch

Grieve Not, Ladies

OH, grieve not, ladies if at night

Ye wake to feel your beauty going

It was a web of frail delight,

Inconstant an April snowing.

In other eyes in other lands,

In deep fair pools new beauty lingers,

But like spent hear water in your hand

It runs from your reluctant finger

Ye shall not keep the singing lark

That owes to earlier skies its duty.

Weep not to hear along the dark

The sound of your departing beauty.

The find and anguished ear of night

Is tuned to hear the smallest sorrow.

Oh, wait until the morning light!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



It may not seem so gone to-marrow!

But honey-pale and rosy-red!

Brief lights that made a little shining!

Beautiful looks about us shed �

They leave us to the old repining.

Think not the watchful dim despair

Has come to you the first sweet-hearted!

For oh, the gold in Helen�s hair!

And how she cried when that departed!

Perhaps that one that took the most

The swiftest borrower, wildest spender,

May count, as we would not, the cost

And grow more true to us and tender.

Happy are we if in his eyes

We see no shadow of forgetting

Nay � if our star sinks in those skies

We shall not wholly see its setting.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Then let us laugh as do the brooks
That such immortal youth is ours
If memory keeps for them our looks
As fresh as are the spring-time flowers.

Oh, grieve not, ladies, if at night
Ye wake, to feel the cold December!
Rather recall the early light
And in your loved one�s arms, remember.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معبد

Lee Wilson Dodd

ورونږو کیسه کومه

زه له زړه ډك یوه معبد ته ور ننه سومه

هغه معبد چي هلته خدای اوسیږي

اوه نقابه يې پر مخ ځړیږي

او په معبد کي خاموشي چوپه چوپیا خپره وه

زه په مستۍ زه په خوښيو کي ورك

سرې کړاوي مي په پښو کړي وې ور ننوتم

ما د معبد پر ډبرين فرش قدمونه وهل

د کړاوو په آواز

ما خاموشي ماتول

ما مي له زړه ځخه وهمونه شړل

ما یوه مسته یاغي چیغه هلته پورته کړله

ما په گوښه معبد کي

د خاموشۍ کفن اغوستی کونج کي

د اوو سترو نقابونو مخ ته

د زلمیتوب او لېونتوب له مستۍ

د ځواني میني او د میني له بېباکه زړگي

درې لېونۍ سندرې وويلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ سندهر کي مي

د بې عفتي د ناپاکي ښځې سترګي راوړې

او په دوهمه کي مي

د بې عفتي ښځې شونډې مچ کړې

دريم آهنګ مي پازېبونو ته د ډمي ورکړ

او سپك نظر مي د خدای کور ته وکړ

د اوو سترو نقابونو مخ ته ودرېدم

په ډېر غرور په ځوانۍ ونازېدم

او منتظر د خدای آواز ته سولم

ما ويل راوړه د مرګي توره دي

مګر هيڅ ږغ اوو نقابو ته ټکان ور نه کړ

هلته تر ډېره په معبد کي منتظر ومه چي

پر زنګنو مي لړزه پرېوتله

په هر هډوکي مي د ېېري بلا کښېوتله

او ژر مي ليري کړلې سرې کړاوې

سم پر څلورو سومه

او په څخېدو مي د معبد پر لوري هڅه وکړه

ورونو کيسه کومه

اوس لکه ټول چي يم ايبليج وهلی

اوس لکه ټول چي يمه درد نيولی

لکه د زهرو مي ډك جام چښلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کړوپه ملا مي انتظار ایستلی

هر مصیبت ته مي دی ځان سپارلی

ځکه چي خدای راته هیڅ ونه ویل

اوس راته ځان ځومره کوچنی ښکارېږي

راته پر مځکه ځان چینجی ښکارېږي

یو تر پښو لاندي غوندي شی ښکارېږي

ځان بې اسرې راته مریی ښکارېږي

لکه د ریګ وړه دانه داسي می ځان وینمه

ځان مي یوه دانه په غېږ کي د بیابان وینمه

اوس مي نه خوند له لېونتوبه اخلم

نه مي مزه له زلمیتوبه اخلم

او نه مي نور له ناکراره زړګي مینه پاځي

نه د ناپاکي ښځي سترګي ستایم

نه یې سرو شونډو ته سندري وایم

او نه د ډمي تر پایڼې پوري خیالونه بیایم

Lee Wilson Dodd

The Temple

HEAR me, brother

Boldly I stepped into the Temple,

Into the Temple where the God dwells

Veiled with Seven Veils

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Into the Temple of Unbroken Silence

And my joyous feet shod with crimson sandals

Rang out on the tessellated pavement

Rang out fearlessly

Like a challenge and a cry!

And there � in that shrouded solitude,

There � because the Seven Veils

There � because of youth and youth�s madness

Because of love and love�s unresting heart

There did I sing three songs!

And my first song praised the eye of a wanton;

And my second song praised the lips of a wanton;

And my third song praised the feet of a dancing girl!

Thus did I desecrate the Temple,

Thus did I stand before the Seven Veils

Proudly!

Thus did I wait upon the God�s Voice �

Proudly!

And the sudden shaft of death �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



But Voice stirred the Seven Veils,

Though I stood long �

And my knee shook,

My bones were afraid�

Swiftly I loosed the crimson sandals

And, tearing them from off my feet,

Crept shuddering forth!

Hear me, brother!

Now am I as one stricken with palsy,

Now am I sick with the close ache of terror,

Now am I as one who having tasted poison,

Cowers, waiting for the pang!

For the God spake not �

And the sense of my littleness is upon me:

And I am a worn in my own sight,

Trodden and helpless

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



A casual grain of sand

Indistinguishable amid a million grains:

And I take no pleasure now in youth

Nor in youth�s madness

In love

Nor in love�s unresting heart,

And I praised no longer the eye of a wanton

Nor the lips of a wanton,

Nor the light feet of a dancing girl.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دښمن ته

Maxwell Bodenheim

ترتا ډېر مې ګیله من یم له دوستانو

کشکې دوی مې دوستان نه وای دښمنان وای

دوی په مخ کې د هیندارو راته سپر سول

کنه ما به پېژندلی دا خپل ځان وای

پر هیندارو یې کړل رسم تصویرونه

د صفاتو کراماتو عادتونو

داسې ذات د فرشتو یې راته وښود

چې یې ترې وم کلونه په عمرونو

ته چې راغلې زما دښمنه درسره وه

په لاسونو کې تېره تېره تېغونه

د هیندارو دې توړل په قهر قهر

په دروغو ایستل سوې ټول رسمونه

بیا له ځانه سوم بېزاره له تا نه سوم

له هیندارو پاکول چې دې رنګونه

ما هغه کمال خرګند په تا کې ولید

چې یې تا تباه کوله تصویرونه

Maxwell Bodenheim

To an Enemy

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I DEPISE my friends more than you.

I would have known myself, but they stood before the mirrors

And painted on them images of the virtues I craved.

You came with sharpest chisel, scraping away the false paint.

Then I knew and detested myself, but not you

For glimpses of you in the glasses you uncovered

Showed me the virtues whose images you destroyed.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له نړۍ سره خدای په اماني

Bin Jonson

دروغجني نړۍ شپه دي په خير ! ولاړم

زما پر عمر دي تيارې دي راوستلي

نور دي نوم د زړه له کوره څخه باسم

ستا په غېږ کي مي شپې پای ته رسېدلي

عمر تېر سو په وهمونو خطرونو

ما مي ځرك د اميد هيڅ نه دی ليدلی

زه پوهېږم چي په زړه کي دي نفرت دی

ښه ګړی دي پر ما نه دی لورېدلی

لكه خوب داسي دي يووړل زما له لاسه

زما خواږه د ماشومتوب ساده كلونه

چي پلمې نوري د خلكو پاته نه سوې

راته بل دي د حسد كړله اورونه

هغه خاوره كي دي زما ريښې كړې ښخې

چي ټاټوبی و د پستو جاهلانو

ټول غرور و جهالت او حسادت و

هنر نه و د مكتب د ناپوهانو

په دې ښار كي بل د هيڅ شي قدر نسته

آوازې دي ترازو د كمالونو

آزادي له انسانانو څخه اخلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمنۍ دي له نېکۍ سره د زړونو

مګر دلته زموږ نصیب داسي راغلی

او په حکم د ازل داسي روان یو

هغه کېږي چي قسمت فیصله کړي

موږ پیدا د تقدیرونو غلامان یو

که زه ځان بولم جلا له نورو خلکو

په ښکاره یم پر غلطه لاره تللی

که تغیر مي فیصله د ازل غواړم

معجزې ته یم په تمه کښېنستلی

زه پوهېږم چي خالق رانصیب کړي

دا زورولی، بدمرغي او دا غمونه

دا په تریو تندي منم ورسره ځمه

په دروغو مي کرار نه کي دردونه

نه آرام په ګدايي درخخه غواړم

نه دي ګرځم په کوڅو کي سرګردانه

د زړه زور مي لکه دی هسي ساتمه

پر خپل کور باندي يې غواړمه آسمانه

Bin Jonson (1573 � 1637)

A Farewell to the World

FALSE world, good night! since thou hast brought

That hour upon my morn of age

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Henceforth I quit thee from my thought,

My part is ended in thy stage.

yes, threaten, do. Alas ! I fear

as little as I hope from thee:

I know thou canst not show nor bear

More hatred than thou hast to me.

My tender first and simple years

Thou didst abuse and then betray

Since stir�d�st up jealousies and fears

When all the cause were away.

Then in a soil hast planted me

Where breathe the basest of thy fools

Where envious arts professed be

And pride and ignorance the schools.

Where nothing is examined weigh�d

But as 'tis rumour'd, so believed;

Where every freedom is betray'd,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And every goodness tax'd or grieved.

But what we�re born for, we must bear
Our frail condition it is such
That what to all may happen here
If �t chance to me, I must not grutch.

Else I my state should much mistake
To harbour a divided thought
From all my kind � that for my sake,
There should a miracle be wrought.

No, I do know that I was born
To age, misfortune sickness grief;
But I will bear these with that scorn
As shall not need thy false relief.

Nor for my peace will I go far
As wanderers do, that still do roam;
But make my strengths such as they are
Here in my bosom and at home.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له نومه سترې

Arthur Davidson Fick

څوك مي تريخ څوك مي هوښيار بولي يارانو

زه له دواړو نومو سترې يم دوستانو

غواړم ولوېږي دا زغره نقابونه

سولولي زما د عمر يې کلونه

هلته ځم چي جزيرې پکښي بيدېږي

سهارونه له دريابه پورته کېږي

دا ترخه هوښياري ټوله پکښي کښېږدم

د يوې سندري عقل ته يې پرېږدم

يو جادو دی سور او تال کي د وليانو

په اټکل کي راتلای نه سي د پوهانو

په نړۍ کي د حيرت چي څه قوت دی

د اسرار په وزرو يې حرکت دی

په ښکاره له خاموشيه د عمرونو

د ګونګيو پخوانو تېرو کلونو

يو سندري ويښ له شوره ډك جهان کړ

يوې وړانګي ډك له نوره ټول آسمان کړ

بيهوده دي په دنيا کي چي پوهېږو

د همدغه بېهوده په نوم نازېږو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه بېځایه ځان قوي راته ښکارېږي

دا طاقت او علم ټوله تباه کېږي

چي يې نوم د هستۍ ابنبی دی فاني دی

د يوې سندري سور دی چي باقي دی

Arthur Davison Fick

I am Weary of Being Bitter

I AM weary of being bitter and weary of being wise,

And the armor and the mask of these fall from me, after a long.

I would go where the island sleep, or where the sea-dawns rise,

And lose my bitter wisdom in the wisdom of a song.

There are magics in melodies, unknown of the sages,

The power of purest wonder on secret wings go by.

Doubtless out of the silence of dumb preceding ages

Song woke the chaos-world � and light swept the sky.

All that we know is idle; idle is all we cherish

Idle the will that takes loads that proclaim it strong.

For the knowledge the strength the burden � all shall perish;

One thing only endures, one thing only � song.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هلته یو ځوک و

Dorothy Parker

پر ښایسته مادیانه سپور یو ښکلی ځوان و
ښکلې زغره یې په تن غره په ځان و
راته رایې کړ بنګړی ښایسته د زرو
ځلېدې پکښې دانې د جواهرو
چې اغزی مې سې د سترګو د پیغلانو
چې سرلوړې سم په ټول کې د سیالانو

⊠ ⊠ ⊠

بل زلمی پر لارې مست نشه روان و
ناخبره له دې مځکې له جهان و
اورولې یې خوږې خوږې سندرې
اورولې یې له خولې ځخه شکرې
راته رایې کړ یو سور ګل د ګلابو
چې په رنګ کې یې مستې وه د شرابو
زمزمه یې وه پر شونډو د نظمونو
په هر نظم کې ګېډۍ وې د پندونو
ویل چا ته چې ورځې غونچې د ګلو
نه محتاج دی د ډوډۍ نه د سرو ملو

⊠ ⊠ ⊠

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو پر ځان مين غوړ ژبي يو مغروره

پر يوه څنګ يې خنجر و پر بل توره

له غروره يې سيالي وه له اسمانه

زوړ بدرنګه بې خبره له جهانه

چي به ده ګوتي د توري پر قبضه کړې

له غضبه به يې نجوني سره لمبه کړې

   

پر ښايسته ماديانه سپور يو ښکلى ځوان و

مخ يې واړاوه پر بله خوا روان و

راښکاره يې هغه ښکلى سور وښى کړ

سمندر ته يې ګوزار هغه ګړى کړ

   

بل ځلمى و را روان په ورو ګامونو

زړه له غمه ستونى ډك له فريادونو

ورسره هغه ګلاب مګر خزان و

ژوند يې تللى و له پاڼو مرګ په ځان و

   

يو پر ځان مين غوړ ژبي يو مغروره

پر يوه څنګ يې خنجر و پر بل توره

چي له ما څخه په تاخته سو روان سو

لکه باد مخ يې پر لوري د بيابان سو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ښنګو يې ځړېدل تېره تېغونه

زما په زړه کې يې راښخ کړل خنجرونه

Dorothy Parker

There Was One

There was one a-riding grand

On a tall brown mare

And a fine gold band

He brought me there.

A little, gold hand

He held to me

That would shine on a hand

For the world to see.

There was one a � walking swift

To a little new song

And a rose was the gift

He carried along.

First of all the posies

Dewy and red

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



They that have roses

Never need bread.

There was one with swagger

And a soft, slow tongue

And a bright cold dagger

Where his left hand swung.

Craven and gilt

Old and bad

And his stroking of the hilt

Set a girl mad.

There was one a-riding grand

As he rode from me

And he raised his golden hand

And he threw it in the sea.

There was one a-walking slow

To a sad long sigh

And his rose dropped low

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And the flung it down to die.

There was one with the swagger

And a little sharp pride

And a bright cold dagger

Ever at his side.

At his side it stayed

When he ran to part.

What is this blade

Struck through my heart?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Richard Chenevix Trench

## که کوم ځای وای

که مو چیري په فضا کي داسي بل مکام لیدلای

چي مو سر پکښي خوندي وای چي یو وخت ورتښتېدلای

چي پناه مو اخیستلای په هغه مکان کي زړونو

نه تر تا رارسېدلای نه تر تا پوري راتللای

مورږ په ځېر د عقابانو لکه ټول چي بندیوان وي

د خلقت په پنجرو کي وهل سر او وزرونه

لټول مو داسي مځکه چي پرې ښخي کو منګولي

په تلاښ مو کړلي ستړي ټولي مځکي اسمانونه

ګرځېدلو سرګردانه ستړي ستړي له سفره

مورږ له مځکي تر اسمانه پی کوله جهانونه

خو چي پوه سولو چي ته یې هم په مځکه هم هوا کي

له وجود څخه دي ډك دي جنتونه دوږخونه

داسي ځای مو پیدا نه کړ چي له تا څخه پناه سو

ځکه بیرته تا ته راغلو در سپارلي مو ځانونه

Richard Chenevix Trench (1807 � 1886)

If there had anywhere

If there had anywhere appeared in space

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Another place of refuge, where to flee
Our hearts had taken refuge in that place
And not with Thee.

For we against creation�s bars beat
Like prisoned eagles, through great worlds had sought
Though but a foot of ground to plant our feet,
Where thou wert not.

And only when we found in earth and air
In heaven or hell, that such might nowhere be
That we could not flee from Thee anywhere,
We fled to Thee.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژرنده

Edwin Arlington Robinson

د ژرندګرۍ مېرمن ډېره انتظاره سوه

چاى سړې سوې اور سو مړ په تناره کې

خدايه مه کړه چې څه بده پېښه نه وې

د هغه وروستۍ خبر يې وه په زړه کې

دا وروستۍ خبر يې وکړه او روان سو

ويل نور به دلته نه وي ژرنده ګړى

وروسته دونه سو معطل په دروازه کې

ته وا تېره کړى ورځ کړله وګړى

له وسواس څخه يې زړه په درېدو سو

چې پر بخت به يې وي څه تيارې لوېدلې

ور څرګنده سوه له خپله توره بخته

هغه پېښ وه چې قسمت ورته ليکلې

پر آشنا ژرنده خپره توره تياره وه

د اوړو بوى د وختونو خاطره وه

ښکارېدل چې څه په ژرنده کې دننه

د ژرندګړې د وروستۍ کيسې تعبير و

نور يې نه سواى د دې ګام تعقيبولاى

هغه چا چې ځړېدلى په لوى تير و

او که دې په زړه کې لږ وېره لره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي به سيوری ورپسې سي په تياره کي

نو يوه له ډېرو لارو وه ورپاته

پټولې چي يې نښي په دې شپه کي

د تور ډنډ توري اوبه تر ستورو لاندي

لکه تور بخمل هوار وي ځلېدلې

که يو ځل به چا په زور ځپه ځپه کړې

وروسته بيرته په خپل شکل ښکارېدلې

Edwin Arlington Robinson (1869 � 1935)

The Mill

The miller�s wife had waited long

The tea was cold, the fire was dead

And there might yet be nothing wrong

In how he went and what he said:

�There are no millers anymore,�

Was all that she had heard him say;

And he had lingered at the door

So long that it seemed yesterday.

Sick with a feat that had no form

She knew that she was there at last

And in the mill there was a warm

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And mealy fragrance of the past.

What else there was would only seem

To say again what he had meant;

And what was hanging from a beam

Would not have heeded where she went.

And if she thought if followed her

She may have reasonable in the dark

That one way of the few there were

Would hide her and would leave no mark;

Black water, smooth above the weir

Like starry velvet in the night

Though ruffled once, would soon appear

The same as ever to the sight.

## د بشر چيغه

Alfred Lord Tennyson

ستا له نومه مقدس دي لويه خدايه

بې حسابه مذهبونه او فکرونه

بې سرحده کاینات لوی اسمانونه

دا بې شمېره انساني شخصيتونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا له نومه مقدس دي لويه خدايه

عظمت او پاکي ستا ده رهنمايه

زموږ احساس دی چي موږ نه يو موږ نېستي يو

ځکه هر څه ستا وجود هر څه په تا کي

زموږ احساس دی چي په خپل وجود پوهېږو

هغه هم ستا له وجوده راځي خوا کي

موږ پوهېږو چي پر هيڅ باندي حساب يو

مگر ته به مو موجود کړې په دنيا کي

ستا له نومه مقدس دي لويه خدايه

عظمت او پاکي ستا ده رهنمايه

Alfred Lord Tennyson (1809 � 1892)

The Human Cry

HALLOWED be thy name � Halleluiah!

Infinite Ideality!

Immeasurable Reality!

Infinite Personality!

Hallowed be the name � Halleluiah!

We feel we are nothing � for all is thou and in Thee;

We feel we are something � that also has come from Thee;

We know we are nothing � but Thou wilt help us to be.

Hallowed bi Try name -- Halleluiah!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلوت

Edward Dowden

ما په خپل زړه کي پيدا کړې لويه خدايه

لکه څوك په پټ زيارت کي تا پيدا کي

په تعظيم د هغه ږغ په انتظار سوم

په خوښي چي را په برخه وجود ستا کي

ببرېدم چي مي اغيار سينې ته راسي

په توبه او په زارۍ درته لگيا سوم

سر مي تا ته پر سجده کړ زما ربه

ستا کرم لره په ساندو په ژړا سوم

اوس تېر سوی هغه وخت هغه ساعت دی

زه خوشاله يم که څه هم چي زما نه يې

اوس په هيڅ زيارت کي ستا په تمه نه يم

پروا نه لرم که ما ته گويا نه يې

اوس مو ژوند ستا په وجود کي دی خالقه

هر نسيم چي له اسمانه راځي ستا دی

له ختيځه تر لوېديځه يې پرواز دی

او بې نيازه لوی ښبنتن په تلاش زما دی

Edward Dowden (1843 � 1913)

A New Hymn for Solitude

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I found Thee in my heart, O Lord
As in some secret shrine;
I knelt I waited for Thy word,
I joyed to name Thee mine.

I feared to give myself away
To that or this, beside
Thy altar on my face I lay
And in strong need I cried.

Those hours are past. Thou art not mine,
And therefore I rejoice,
I wait within no holy shrine
I faint not for the voice.

In Thee we live, and every wind
Of heaven is Thine, blown free
To west to east the God unshrined
Is still discovering me.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د میني خدای

Edward Dowden

چي مي شنه له مېوو ډك آباد كلونه

ملا را كږوېه د لېندۍ په شان كړه كي

ستا سندري د ستايلو مي پر ژبه

د خرمن پر موسم مسته ترانه كي

د موسكا او اوښكو جوړه رسۍ تاو سي

پېچاپېچ پر نرۍ ملا مي شنه تنه كي

هم خرګند هم ناخرګند يې له نظره

هم تاريك او هم روښانه سمندر يې

سرچينه چي مو د ژوند او خوځېدو ده

چي لاهو مي پكښې روح سي ته خبر يې

چي مي ژاړي كوم نامه ته روح او وينه

هغه ژوند دى هغه نور دى هغه مينه

Edward Dowden (1843 � 1913)

Love�s Lord

When weight of all the garner�d years

Bows me, and praise must find relief

In harvest-song, and smiles and tears

Twist in the band that binds my sheaf.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Thou know Unknown, dark, radiant sea

In whom we live, in whom we move,

My spirit lose itself in Thee,

Crying a name --- life, light, or love.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## راځه مچ کو سره بېل سو

Michael Drayton

بله نسته راځه مچ کو سره بېل سو

پر یوه لاره نور نه سو سره تللای

چي مي کړي ستا دپاره دي راضي یم

نور مي نه سمه ژوندون خاوري کولای

ښه دی ښه دی چي ته هم ناراضه نه يې

زه په سپین مخ چي آزاده یم بېلېږم

سره ور به کو لاسونه بیا به بېل سو

سره هېري به وعدې کو جلا کېږم

چي یو وخت سره ورځو داسي به ښیو

چي په ژوند کي مو هیڅ نه دي پېژندلي

هسي نه چي څوك را پوه سي چي مین و

یو د بل په یاد مو زړونه تپېدلي

اوس چي ګران مي د مرګي پر بستر پروت دی

او وروستی نفس يې ستوني ته راغلی

د بدن واك يې پردی ژبه ګونګۍ ده

عزراییل ورته حاضر ګونډه وهلی

هسي سترګي پټوي له دې نړیه

ته وا نه و کله دلته هستېدلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چي ټولي دنيا لاس ورنه اخيستی

اوس چي دوست او دښمن لاس ور نه پرېوللی

خدايه ته به جوړوې پرې کړې غاړې

ستا قدرت او ستا حکمت ته مي سپارلی

Michael Drayton

Since there�s no help, come let us kiss and part

Nay, I have done, you get no more of me.

And I am glad, yea glad with all my heart

That thus so cleanly I myself can free.

Shake hands forever, cancel all our vows,

And when we meet at any time again

Be it not seen in either of our brows

That we one jot of former love retain.

Now at the last gasp of love�s latest breath

When his pulse failing, Passion speechless lies,

When faith is kneeling by his bed of death

And innocence is closing up his eyes �

Now it thou wouldst, when all have given him over,

From death of life thou mightst him yet recover.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Walter Whiteman

## او زما سالاره

او سالاره زما سالاره يو ځل کښېنه

خطرناکه سفر پای ته رسېدلی

زموږ بېړۍ له توپانونو سوه بهره

د هدف صدف مو لاس ته دی راغلی

ساحل وينم زنګولې په شرنګېدو سوې

خلك چيغي د خوښۍ وهي موږ ستايي

خلك ګوري چي بېړۍ ورنيژدې کېږي

د مړاني ترانې مو راته وايي

او سالاره زما سالاره زما زړه وره

چي په سر وينو لت پت يې غځېدلی

زما سالاره د بېړۍ په منځ کي پروت يې

تارو نار يې سوړ بدن دي وچ زېښلی

او سالاره سر دي يو ځل که راپورته

يو ځل واوره زنګولې دي چي شرنګېږي

ستا په وياړ دي بيرغونه پورته سوي

موزيکونه ستا په نوم ږغول کېږي

ستا دپاره دا ساحل له خلکو ډك دی

ستا دپاره مډالونه دي راغلي

دا ستا نوم دی چي د خلکو پر خولو ګرځي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دپاره عالمونه راوتلي

او سالاره او سالاره زما پلاره

ستا تر سر لاندي مي لاس دی غځولی

دا بيده يم که په ويښو سترګو ګورم

چي ته مړ يې په ميدان کي غځېدلی

زما سالار مي جواب نه وايي د چيغو

سپېرې شونډې يې خاموشي دي زبېښلي

پلار مي پروت دی زما لاس نه سي حسولای

د وجود وينه يې وچه غړي تللي

بېړی واچاوه لنګر راغله سالمه

د خطر سفر يې پای ته رسېدلی

وېرونکي يې جګړې شاته پرې ايښې

پر دښمن باندي بری لاسته راغلی

افتخار کوه ساحله وياړه وياړه

زنګولو په لوړ آواز راته شرنګېږئ

هی افسوز چي زما سالار پر مځکه پروت دی

هغه مړ دی تاسي فتحي ته نڅېږئ

Walt Whitman (1819 � 1892)

O Captain! My Captain!

O Captain! my Captain! our fearful trip is done,

The ship has weather�d every rack, the prize we sought is won,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



The port is near the bells I hear, the people all exulting
While follow eyes the steady keel, the vessel grim and daring;
But O heart! heart! heart!
O the bleeding drops of red,
Where on the deck my Captain lies,
Fallen cold and dead.

O Captain! my Captain! rise up and hear the bells
Rise up � for you the flag is flung � for you the bugle trills,
For your bouquets and ribbon�d wreaths � for you the shores a-crowding,
For you the call, the swaying mass, their eager faces turning;
Here Captain! dear father!
This arm beneath your head!
It is some dream that on the deck!
You�ve fallen cold and dead.

My Captain does not answer, his lips are pale and still,
My father does not feel my arm, he has no pulse nor will,
The ship is anchor�d safe and sound, its voyage closed and done,
From fearful trip the victor ship comes in with object won;
Exult O shores, and ring O bells!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



But I with mournful tread,

Walk the deck my Captain lies,

Fallen cold and dead.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# که زه مړه سوم

Christina Rossetti

که زه مړه سوم تر جهان راباندي ګرانه

زما د غم سندري مه وایه جانانه

زما پر قبر باندي وني چي شنې نه کړې

راته جوړي د ګل بوټي سیوری نه کړې

د ګلاب وني رانه وړې هدیرې ته

نه مي قبر د ونو و سایې ته

پرېږده زما پر قبر شنه واښه راشنه سي

په شبنم او په باران باندي اوبه سي

که دي زړه وي ما په یاد کې سې ساتلای

او کنه ما له خیالونو سې ایستلای

زه سایې د ونو نه سمه لیدلای

او نه څاڅکي د باران سم حسولای

زه یې نه اورم سندري د بلبلو

د غمګینو مرغکیو نازولو

ښایي هېر کم یا په زړه مي وي یادونه

د ساکن او مرور غروب خیالونه

Christina Rossetti

When I am Dead

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



WHEN I am dead my dearest,

Sing no sad songs for me:

Plant thou no roses at my head

Nor shady cypress tree,

Be the green grass above me

With showers and dewdrops wet:

And if thou wilt, remember.

And if thou wilt, forget.

I shall not see the shadows,

I shall not feel the rain,

I shall not hear the nightingale

Sign on, as if in pain

And dreaming through the twilight

That doth not rise nor set

Haply I may remember,

And haply may forget.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مخ په پورته

Christina Rossetti

مخ پر غونډۍ لار تر پایه تللې

هو ! تر وروستي منزله نه ختمېږي

زه به دا ټوله ورځ پر لارې یمه

ورځ تر ماښامه په سفر تېرېږي

چې ورځ مې ټوله په سفر تېره سي

په پای کې ځای د اوسېدلو به وي

چې رڼا ختمه سي تیاره خپره سي

یو ځای د شپې د تېرولو به سي

په شپه کې ځای پیدا کولای سمه

تپه تیاره کې څه لیدلای سمه

هلته چې ورسې خونه نه ورکېږي

هغه له هره ځایه ښه ښکارېږي

تر ما دمخه به نور هم تللي وي

هلته یاران پیدا کولای سمه

د دروازې ځنځیر چې وشرنګوم

دننه څوك راخبرولای سمه

هلته دي څوك ایسارولای نه سي

په انتظار دي درولای نه سي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لاري سترې چي ستومانه ورسم

داسي ځوك سته چي مي پالنه وكړي

پر ما كمزوري د مزلونو رنځور

يو ځوك خواخوږى يو پوښتنه وكړي

هلته عوض د مزدورۍ دركوي

د كرۍ ورځي د خوارۍ دركوي

بستر به وي د هر سړي دپاره

هو ! د هر چا ده بستره تياره

Christina Rossetti

Up Hill

DOES the road wind up � hill all the way?

Yes to the very end.

Will the day�s journey take the whole long day?

From morn to night, my friend.

But is there for the night a resting�place?

A roof for when the slow dark hours begin.

May not the darkness hide it from my face?

You cannot miss that inn.

Shall I meet other wayfarers at night?

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Those who have gone before.

Then must knock, or call when just in sight?

They will not keep you standing at that door.

Shall I find comfort, travel-sort and weak?

Of labour you shall find the sum.

Will there be beds for me and all who seek?

Yea, beds for all who come.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په یاد مي لره

Christina Rossetti

ما په یاد لره چي هېره درنه نه سم

چي زه لیري یم خاموش جهان منلې

لاس په لاس به سره نه سو گرځېدلای

هره لاره به مو هدف ته نه وي تللې

نه به ته سې ما له تللو ستنولای

نه به زه سم درته مخ را اړولای

هره ورځ به لاس تر غاړه سره نه یو

د سبا نقشې به نه سې راشمېرلای

نه دعا نه خواخوږي به را رسېږي

ما په یاد لره زما گرانه زه به نه یم

خو که یو ځلي دي هېره بیا په یاد سم

لا دي بیرته په یادونو کي تازه یم

غم مي نسته چي خپه نه سې له مانه

چي دي یاده په ژوندون کي همېشه یم

که په ژوند مي وي آزار در رسولی

په خندا یې خاطرې که درنه هېرې

هسې نه چي تل دي یاد وي او خپه یې

در په زړه نه کې ترخې خبرې ډېرې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Christina Rossetti

Remember Me

REMEMBER me when I am gone away,

Gone for away into the silent land

When you can no more hold me by the hand,

Nor I half turn to go yet turning stay.

Remember me when no more day by day

You tell me of our future that you plann�d:

Only remember me; you understand

It will be late to counsel then or pray.

Yet if you should forget me for a while

And afterwards remember, do not grieve:

For if the darkness and corruption leave

A vestige of the thoughts that once I had,

Better by far you should forget and smile

Than that you should remember and be sad.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تر شهادت وروسته

Scharmel Iris

دوی ور وغورځول کاڼي تا هم وویشته ډبره

ما یې هم پر لوري وار کړه یوه تیره برابره

د تېرو کاڼو له زوره د ده غوښې څیرېدلې

نه یې آه له خولې را وایست نه یې وکړله خبره

هغه ورځ مي نه هېرېږي چي يې آخ له خولې ونه ايست

نن مي ځکه رایادېږي تر خوله باسم فریادونه

چي مي مخامخ ویشتلی د سنګسار په تېره کاڼي

اوس په زړه کي چلومه د هغه کاڼي بارونه

Scharmel Iris

After the Martyrdom

THEY threw a stone, you threw a stone

I threw a stone that day.

Although their sharpness bruised his flesh

He had no word to say.

But for the moan he did not make

To-day I make my moan;

And for the stone I threw at him

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


My heart must bear a stone.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه ساز چي ما واورېدی

Conrad Aiken

چي مي ستا سره كوم ساز دی اورېدلی

ساز يې مه بوله نغمه د بل جهان وه

چي مي ستا سره ګوله شريكه كړې

رالېږلې له اسمان څخه يزدان وه

اوس چي نه يې راسره پاته تنها يم

د بېلتون او تنهايي په اوښكو پايم

چي ښكلا به مي بلله هغه مړه سوه

د ژوندون روښانه شمع مي تياره سوه

د مرګي د شپو احوال به چاته وايم

كوم خواخوږي ته به خپله مينه ستايم

چي د كور له هر موجود سره اشنا وه

را يادېږي دي نازك ښكلي لاسونه

نازول به دي د سپينو زرو لوښي

ستا په ګوتو كي مي ياد سي ګيلاسونه

ګراني ته به د دې شيانو څه په ياد يې

پر دوی نه سي بېلېدلای ستا يادونه

خو د لاس او ګوتو نښي دي باقي دي

ښكولوي مي سپيني ورځي تور خوبونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په زړه کي دي ځالې وه راته ګراني

چي جونګړه کي مي کله ګرځېدلې

تبرك د خپل وجود دی باندي ایښی

د دې کور چي هر موجود یې ته لیدلې

زما په زړه کي دي ځالې ده تر قیامته

زما رګونه به دي پایي په خیالونو

که په کور کي د هر شي له یاده ووزې

زما وجود به دي ژوندی وي په یادونو

Conrad Aiken

Music I Heard

Music I heard with you was more than music

And bread I broke with you was more than bread;

Now that I am without you, all is desolate;

All that was once so beautiful is dead.

Your hands once touched this table and this silver,

And I have seen your fingers hold this glass.

These things do not remember you, beloved

And yet your touch upon them will not pass.

For it in my heart that you moved among them,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And blessed them with your hands and with your eyes;

And in my heart they will remember always,

They knew you once, O beautiful and wise.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شهزاده

Josephine Dodge Daskom

زما زړګی یوه پیاله وه د سرو زرو

ده پرې دواړي شونډي کېښودلې ډېري

سره شراب يې ترېنه تش کړله روان سو

او پياله يې چېرته واچوله ليري

زما زړګی یوه مرغۍ وه په هوا کې

ګرځېدله پر دښتونو پر باغونو

ده بندي کړه په قفس کي رانه ولاړی

ورنه ورکه يې کيلي سوه له لاسونو

زما زړګی يو ښایسته سپینکی ګلاب و

پر مات ښاخ باندي د وني غوړېدلی

يو ساعت يې پر سينه باندي ځای ورکړ

بل ساعت و هلته مړاوی زمولېدلی

Josephine Dodge Daskam

The Prince

My heart it was a cup of gold

That at his lip did long to lie,

But he hath drunk the red wine down,

And tossed the goblet by.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



My heart it was a floating bird

That through the world did wander free,

But he hath locked it in a cage,

And lost the silver key.

My heart it was a white, white rose,

That bloomed upon a broken bough,

He did but wear it for an hour,

And it is withered now.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نور نړۍ

Henry Vaughan

هغوی ټول د نور نړۍ ته ورغلي
زه یوازي دلته پاته یم دوی تللي
له روښانو خاطرو يې لا تر اوسه
زما غمګین غمګین خیالونه ځلېدلي
زما سینه د غم غبار ده لاندي کړې
د یارانو خاطرې پکښې ځلېږي
لکه ستوري د تیاره ځنګله پر ونو
یا پر وخت د لمر لوېدو شغلې ښکارېږي
ځلوي څوکي د هسکو هسکو غرونو
په سینه کي د غمګینو ماښامونو
زه يې وینم چي متین اخلي ګامونه
زما پر ورځو اوروي نوراني پلونه
زما د ژوند هغه بېخونده خړې ورځې
چي ماتېږي يې وراسته زاړه بندونه
زما مغروري تواضع او پاکو هيلو
هغي لوړي تواضع تر اسمانونو
ستا ګامونه دي هغوی ماته ښودلي
ځلوي چي مي تیارې د ماښامونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایسته مرګه چي زړه د عدالت يې

او يوازي ځلېدای سپ تورو شپو کي

څه اسرار دي د غبار شاته پراته دي

چي انسان يې لټوي په تور تمو کي

چي ځالۍ څوك د وړپ مرغۍ پیدا کي

ښايي پوه سي چي مرغۍ ده الوتلې

خو نه ځای به د سندرو ور معلوم سي

نه به پوه سي چي اوس کوم ځنګله ته تللې

فرشتې چي تر روښانو خيالو راسي

او راوينښ کړي ارواحونه له خوبونو

څه عجيب غوندي فکرونه سي برسېره

د انسان پر ورځنيو ارمانونو

دغه ځای دی چي ارواح له خوبه پاڅي

په ځير ځير ګوري نړۍ د عظمتونو

که يو ستوری وای بندي يوه لحد کي

سوځېدي يې زنداني لمبې په ګور کي

خو چي کله يې بندي کړ په فضا کي

اوس بلېږي د اسمان په عظیم کور کي

اې خالقه د حيات او عظمتونو

خپل قدرت دي له نقابه رابهر که

روح دي واخله له نړۍ د غلامۍ نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ریښتوني ازادۍ کور ته یې ور که

یا دي لیري دا غبار که زما له مخي

تیاره کړي چي یې زما د ژوندون لاري

یا ما هم د هغه غره څوکو ته بوزه

چي احتیاج رالره نه وي د هینداري

Henry Vaughan

THEY ARE ALL GONE INTO THE WORLD OF LIGHT

They are all gone into the world of light
And I alone sit ling'ring here
Their very memory is fair and bright
And my sad thoughts doth clear.

It glows and glitters in my cloudy breast
Like stars upon some gloomy grove
Or those faint beams in which this hill is dress�d
After the sun�s remove.

I see them walking in an air of glory
Whose light doth trample on my days
My days, which are at best but dull and hoary
Mere glimmering and decays.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



O holy Hope! and high Humility
High as the heavens above!
These are your walks, and you have show�d them me
To kindle my cold love.

dear, beauteous Death! the jewel of the just
shining nowhere but in the dark
what mysteries do lie beyond thy dust
could man outlook that mark!

He that hath found some fledg�d bird�s nest may know
At first sight, if the bird be flown
But what fair well or grove he sings in now
That is to him unknown.

And yet as angels in some brighter dreams
Call to the soul when man doth sleep
So some strange thoughts transcend our wonted themes
And into glory peep.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



If a star were confin�d into a tomb

Her captive flames must need burn there

But when the hand that lock�d her up gives room

She�ll shine through all the sphere.

O Father of eternal life and all

Created glories under thee!

Resume Thy spirit from this world of thrall

Into the liberty.

Either disperse these mists, which blot and fill

My perspective still as they pass

Or else remove me hence unto that hill

Where I shall need no glass.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مات قولونه

Helen Dudley

دا ځو ورځې دي له باد سره ملګري

ځي راځي او له زمان سره تېرېږي

زه او ګران به يو روان تر وني لاندې

کهربا به له ښاخلو څخه څڅېږي

بيا به واخلو په هوا لارې د ستورو

لټوو به مو خپل ستوري په اسمان کې

وي عجيبه شان خبره به وي پېښه

له جانان سره چې ډوب يم خپل جهان کې

ټول وګړي به لګيا وي په سندرو

يادوي به مات قولونه د دلبرو

Helen Dudley

Song

A FEW more windy days

Must come and go their ways

And we will walk

My love and I

Beneath the amber-dripping boughs.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Then on the stars we�ll tread

On purple stars and red

And wonder why

The while we talk

Men sign so much of broken vows.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه باد یم

Zoe Akins

ته لکه مځکه تر قیامته حادثو ته ټینګه

زه لکه باد هسي تېرېږم انتظار نه لرم

زه پر صحرا زه پر دښتونو زه د رېګو سره

لکه سایه هسي روان یمه قرار نه لرم

ته لکه ونه مستقیمه پر خپل ځای ولاړه

زه لکه پاڼه په ښاخلو کي دي ټالونه وهم

ته لکه ستوری داسي ټینګ يې د اسمان پر لمن

زه ناقراره سمندر یمه موجونه وهم

ته داسي نور يې تل تر تله چي فنا دي نسته

خو زه لمبه یمه بلېږم نن سبا به ځمه

ته د ژوري موسیقۍ په زړه کي موج خوځېږي

زه په یوه شېبه کي چیغه یم تنها درځمه

Zoe Akins

I Am the Wind

I AM the wind that Wavers,

You are the certain land

I am the shadow that passes

Over the sand.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I am the leaf that quivers

You the unshaken tree,

You are the stars that are steadfast

I am the sea.

You are the light eternal �

Like a torch I shall die:

You are the surge of deep music,

I but a cry!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چي په مرګ پوه سوی یم

Helen Hoyt

له هغه چي په مرګي یم پوهېدلی

چي یې بېري چي یې وهم یم وهلی

راته ګرانه د ژوندون هره شېبه ده

چي له نومه د مرګي یم بېرېدلی

په دنیا کي ډېر غمونه لږ دوستان دي

لږ وګړي غمشريك دي لږ خپلوان دي

څه یارانو کړلې سترګي رانه پټې

نازېدلې پرې سبزې د ګورستان دي

له هغه چي په مرګي یم پوهېدلی

چي مرګی مي دی پر څنګ باندي راغلی

نرۍ څونه ښایسته راته ښکارېږي

چي تور کومي د مرګي ځان راښودلی

مرغلري مي شپېې راته ښکارېږي

چي وروستۍ ورځي او شپې راڅرګندېږي

له هغه چي په مرګي یم پوهېدلی

چي د شپې په څېر تور مخ مي یې لیدلی

زما د زړه تیاره کونجونه یې روښان کړل

چي احساس مي د مرګي پر ځلېدلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما هغې تيارې بينا کړې دواړې سترګې

دا ژوندون ماته مرګي دی رابخښلی

Helen Hoyt

Since I Have Felt the Sense of Death

Since I have felt the sense of death

Since I have borne its dread, its fear

Oh, how my life has grown more dear

Since I have felt the sense of death

Sorrows are good and cares are small

Since I have known the loss of all.

Since I have felt the sense of death

And death forever at my side

Oh, how the world has opened wide

Since I have felt the sense of death

My hours are jewels that I spend

For I have seen the hours end.

Since I have felt the sense of death

Since I have looked on that black night �

My inmost brain is fierce with light

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Since I have felt the sense of death

O dark, that made my eyes to see!

O death, that gave my life to me!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملاقات په شپه کي

Robert Browning

سمندر کي د تياره ساحل پر غاړه

پر افق ژړه نيمی سپوږمۍ ولاړه

وارخطا واړه موجونه په خېزونو

پاڅېدلی په جوپو وي له خوبونو

په کښتۍ چي د اوبو څپي څيرمه

پر سرعت يې لانده رېگ پر شا وهمه

د تودو اوبو پر غاړه لار تېرېږي

يوه ليري کرونده را معلومېږي

په کراره د کړکۍ ښيښه وهمه

د ښيښې شاته نرۍ لمبه ښکارېږي

په کرار رږغ کي يې بېره او خوښي ده

وروسته دوه زړونه يو بل سره وصلېږي

ببلېدل په سهار کي:

د اوبو پر مخ سبا رڼا خپره سي

چي د غره پر څوکه مخ د لمر ښکاره سي

پر هغه لار چي راغلی و روان سي

د مېړه په څېر سي ستون په مخه ښه سي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Robert Browning

Meeting at Night

The gray sea and the long black land

And the yellow half-moon large and low

And the startled little waves that leap

In fiery ringlets from their sleep

As in gain the cove with pushing prow

And quench its speed i� the slushy sand.

Then a mile of warm sea-scented beach

Three fields to cross till a farm appears

A tap at the pane the quick sharp scratch

And blue spurt of a lighted match

And a voice less loud through its joys and fears

Than the two hearts beating each to each!

Parting at Morning

Round the cape of a sudden came the sea

And the sun looked over the mountain�s rim:

And straight was a path of gold of him

And the need of a world of men for me.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## که...

Rudyard Kipling

که تا خپل سر وي ساتلی او بايلي يې نور وګړي

او تا ټول ملامت بولي که ژوندي دي او که مړي

که پر خپل ځان دي باور وي او نور خلك بدګومان وي

او له خپله بد ګومانه لا منظور د ټول جهان وي

که په ژوند کې ستړی نه سې په هيڅ وخت له انتظاره

خلك تا ته دروغ وايي ته روان پر حقه لاره

خلك ستا څخه نفرت کړي ته نفرت له نورو نه کړې

نه ښېخي ډېر ښه معلوم سې نه ښېخي هوښياري وکړې

خوب ليدلای سې خو ګوره چې خوبونه بادار نه کړې

فکر وکه خو هدف دي چې يوازې افکار نه کړې

که په ژوند کې دي نصيب سي که بری که تباهي ده

تا ته يو شانې ښکاره سي ناکامي که کاميابي ده

که يې وزغمې خبرې چې تر خولې دي وي وتلې

وي جهالو او ارزالو ترې دامونه غوړولي

که د ژوند هستي دي ټوله سر پر سر درته ماتېږي

او ته ناست يې جوړوې يې زړه دي نه څني ماتېږي

که دي ټوله هستي بايلې په يوه داو د قمار کې

بيا يې جوړه کې له سره ځنډ دي رانه سي په کار کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دي زړه قوت او ویني ټول په زيار کي وي بايللي

لا ولاړ يې خپل نوبت ته چي پخوا وي ټوله تللي

په وجود کي دي شی نه وي درته پاته د ليدلو

اراده دي وي محکمه ړغ کوي د ټينګېدلو

که وينا کوي مخلوق ته مګر تېر له تقوا نه سي

د شاهانو سي ملګرى خو له خلکو جلا نه سي

که نه دوست او نه دښمن دي درته جوړ کي فسادونه

درسره حساب د ټولو چي ډېر نه سي حسابونه

که دي ژوند کي دقيقه وي پر شپېتو برخو وېشلې

او بيا هره ثانيه دي په عمل کي وي تللې

نو که مځکه که هستي ده هر څه ستا دي درته بويه

تر دي ټولو زياته دا ده چي مېړه به يې زما زويه

Rudyard Kipling

If�

If you can keep your head when all about you,

Are losing theirs and blaming it on you,

If you can trust yourself when all men doubt you,

But make allowance for their doubting too,

If you can wait and not be tired by waiting,

Or being lied about, don�t deal in lies,

Or being hated, don�t give way to hating,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And yet don�t look too good or talk too wise.

If you can dream and not make dreams your master;
If you can think and not make thoughts your aim;
If you can meet with Triumph and Disaster
And treat those two impostors just the same,
If you can bear the words you �ve spoken
Twisted by knaves to make a trap for fools
Or watch the things you gave your life to broken,
And stoop and build �em with worn-out tools:

If you can make one heap of all your winnings
And risk it on one turn of pitch-and-toss,
And lose, and start again at your beginnings
And never breath a word about your loss;
If you can force your heart and nerve and sinew
To serve your turn long after they are gone
And so hold on when there is nothing in you
Except the Will which says to them: �Hold on!�

If you can talk with crowds and keep your virtue,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Or walk with Kings � nor lose the common touch,

Of neither foes nor loving friends can hurt you

If all men count with you, but none too much;

If you can fill the unforgiving minute

With sixty seconds worth of distance run

Yours is the Earth and everything that�s in it,

And � which is more � you �ll be a man, my son!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شین کالیو نجونو

John Growe Ransom

په شنو کالیو کې پېچلو نجونو
چې په چمن کې په نازونو ګرځئ
د مدرسې د دېوالونو خوا کې
څه په نخرو په مکېزونو ګرځئ
ورځئ ښوونکو ته مو غوږ ونیسئ
هغه زړې او پخوانۍ ښوونکې
زړه ته یوه خبره مه اچوئ
واورئ ویناوې د بوډۍ ښوونکې
بیا نو سینګار کړئ خپلې ګنې خونې
هېر کړئ سبا چې سبا څه پېښېږي
د شنو مرغیو په څېر وخوځېږئ
چې شین اسمان درسره ومسېږي
په شنو کالیو کې پېچلو نجونو
ځواني تېرېږي سینګارونه وکړئ
زه به په واز کومې نارې وهمه
ښایستو پر زړونو ګوزارونه وکړئ
ډېرې لړزانې دا زلمې ورځې دي
د باد په شانې ګړندۍ ورځې دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه کیسه درته کومه ریشتیا

نه بل سړي نه جوړه کړې ده ما

یوه بدرنګه ښځه پېژنمه

د هغې ژبه د کټلو نه ده

سترګو یې هم د ژوندون رنګ بایللی

داسي بوډۍ ده د لیدلو نه ده

څو کاله مخکي وه د ښار منلې

تر تاسي ټولو په ځواني وه ښکلې

John Growe Ransom

Blue Girls

Twirling your blue skirts, travelling the sward

Under the towers of your seminary

Go listen to your teachers old and contrary

Without believing a word.

Tie the white fillets then about your hair

And think no more of what will come to pass

Than bluebirds that go walking on the grass

And chattering on the air.

Practice your beauty, blue girls, before it fail;

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And I will cry with my loud lips and publish

Beauty which all our power shall never establish

It is so frail.

For I could tell you a story which is true;

I know a woman with a terrible tongue,

Blear eyes fallen from blue,

All her perfections tarnished � yet it is not long

Since she was a lovelier than any of you.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تېر پسرلی

Edna St. Vincent Millay

ما د چا شونډي مچ کړې کله ولي

ما هېر کړي زما تر سر لاندي لاسونه

چي تر سر به مي وه لاندي تر سهاره

پرې کول به مي خواږه خواږه خوبونه

نن مي څاڅكي د باران پر كړكۍ اوري

ږغ يې ښكاري لكه ډك له ارواحونو

له فرياد سره مي موښلي پر هينداره

منتظر دي د كوربه د جوابونو

زما په زړه كي هم خاموش دردونه پاڅي

بيا مي ياد هغه زلمی سي هغه تللي

بيا شروع په نيمه شپه كي واويلا كم

رايادېږي هغه تللي هغه ښكلي

لكه ژمي كي ولاړه خړه ونه

چي مرغان چيري ورك سوي نه پوهېږي

دونه پوه ده چي ښاخلې يې دي خاموشي

د پخوا په څېر بلبل نه پرې چغېږي

خو زه نه سمه ويلای نه پوهېږم

څومره ميني دي راغلي څومره تللي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره پوه يم سپرلي غوږ کي راويلي

اوس هغه سندري نسته نازولي

Edna St. Vincent Millay

What lips my have kissed, and where, and why
I have forgotten and what arms have lain
Under my head till morning but the rain
Is full of ghosts tonight, that tap and sigh
Upon the glass and listen for reply
And in my heart there stirs a quiet pain
For unremembered lads that not again
Will turn to me at midnight with a cry.

Thus in the winter stands the lonely tree
Nor knows what birds have vanished one by one
Yet knows its boughs more silent than before.
I cannot say what loves have come and gone;
I only know that summer sang in me
A little while, that in me sings no more.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوه سندره

Richard Crashaw

خدایه کله چي مي زړه کي ستا د فیض فهم پیدا سي

روح مي الوزي له تنه د لیدو په تمنا سي

ستا د هیلو له رحمته داسي هیلي را په خوا سي

مرم د میني په سره اور کي په لمبه مي زړه جلیا سي

میني زه دي صدقه سم ځان مي تاته دی سپارلی

د رحمت نظر يې غواړم ما يې قدر پېژندلی

د رحمت لمره ځلېږه چي زه ستا نور ته پیدا یم

که هر څو له دنیا ځمه بیا به ستا په لمبه پایم

زه به مړ سم زه به ځمه خو بیا بیرته ژوندی کېږم

چي ژوندی سم بیا به بیرته قربانۍ ته هوسېږم

ما د روح په دې خیرات کي داسي ګټه ده لیدلې

چي د مرګ له شوقه مرمه له ژوندون څخه تېرېږم

لا مي اوس هم په وجود کي دا خوږه جګړه جاري ده

چي له ژونده مرګي زېږي او له مرګه زندګي ده

چي مي ته پخپله مینه قتلګاه کي قرباني کې

ځان ته مړ تا کي ژوندی سم پېژندلې مي هستي ده

Richard Crashaw (1613 � 1649)

A Song

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



LORD, when the sense of thy sweet grace
Sends up my soul to seek thy face
Thy blessed eyes breed such desire,
I dy in love�s delicious Fire.
O love, I am thy Sacrifice.
Be still triumphant, blessed eyes.
Still shine on me, fair suns! that I
Still may behold, though still I dy.

Though still I dy, I live again
Still longing so to be still slain
So gainfull is such losse of breath.
I dy even in desire of death
Still live in me this loving strife
Of living Death and dying Life.
For while thou sweetly slayest me
Dead to my selfe, l live in Thee.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې امیده کار

Samuel Taylor Coleridge

ټول جهان په کار لګیا دی کورګی پاته له حلزونه

مچمچۍ په هوا ګرځي مرغۍ خلاص کړل وزرونه

په درنو خوبو زنګېږي د اسمان په غېږ کي ژمی

پر څېره یې موسکا ښکاري د سپرلي ویني خوبونه

دا یوازي دلته زه یم چي بېغمه ورته پروت یم

نه عسل جوړوم ځانته نه سندري نه کورونه

مګر وینم د سیند غاړي چي ګلونه پري غوړېږي

په هغې چینې خبر یم چي عسل ورنه بهېږي

ځئ ګېدۍ ګېدۍ غوړېږئ د ژوندون پر بیده لاره

نه غوړېږئ زما دپاره نه بهېږئ زما دپاره

نه خوشاله نه خپه یم ځم قدم قدم روان یم

زما په روح کي څه منتر دی چي بیده په هر زمان یم

بې امیده زیار عسل دي ډکوه تري غلبېلونه

که امید وي بې هدفه لاس دي مینځه له ژوندونه

Samuel Taylor Coleridge (1772 � 1834)

Work without Hope

Lines Composed 21st February 1825

All Nature seems at work. Slugs leave their lair

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



The bees are stirring � birds are on the wing

And Winter slumbering in the open air,

Wears on his smiling face a dream o Spring

And I the while, the sole unbusy thing,

Nor honey make, nor pair, nor build, nor sing

Yet well I ken the banks where amaranths blow,

Have traced the fount whence streams of nectar flow.

bloom, O ye amaranths! bloom for whom ye may,

For me ye bloom not! Glide, rich streams, away!

With lips unbrightened wreathless brow, I stroll:

And would you learn the spells that drowse my soul?

Work without Hope draws nectar in a sieve,

And Hope without an object cannot live.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خپل ښکلي لمر لاره دي واخله

Thomas Campion

ځه بدبختي سايې لار د ښکلا اخله

که څه توره کرغېړنه لکه شپه يې

هغه جوړه ده د لمر له پلوشو نه

ته بدبخته ته بدرنګه ته سايه يې

ورپسې سه په قدم د هغې ښکلي

چي يې ته بې برخي کړې له رڼا يې

ستا له ژونده يې زېبېنلي ښايستې وړانګي

ته تورمخې له نظره د هر چا يې

هغه ژوند کوي د عرش په کنګرو کي

هغه اوسي د اسمان په کنارو کي

ته هم ورسې د هغې ښکلي ډولۍ ته

چي رڼا يې ده بخښلې و نړۍ ته

ورپسې يې سه پر لاس د نګه وړانګو

چي ښکلا يې ستا وجود دی سوځولی

ته يې توره کرغېړنه يې پرې ايښې

ستا وجود يې دی له نور څخه زېبېنلی

ورپسې سه په زرينو ښکليو څانګو

ګوندي تور مخ دي در پرې مينځې په وړانګو

ورپسې سه چي لار نور پکښې ځلېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي بدمرغه کرغېړنه شپه خپرېږي

چي له نور سره يې تېره کړې تر ستوني

د ازل د قلم توري ريشتيا کېږي

ورپسې سه چي نصيب درته ليکلي

ستا په برخه ګوره څه دي رسېدلي

لا له لمر سره به سيوري وي ملګرى

د ساېې له مخه وړانګي مرروي

لمر به تل وي تر قيامته نازولى

د سايو مخ به هم تور وي هم ناولى

Thomas Campion

Follow Thy Fair Sun

Follow thy fair sun, unhappy shadow;

Though thou be black as night,

And she made all of light

Yet follow thy fair sun, unhappy shadow.

Follow her, whose light thy light depriveth;

Though here thou liv�st disgraced

And she in heaven is placed

Yet follow her whose light the world reviveth.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Follow those pure beams, whose beauty burneth;
That so have scorched thee
As thou still black must be
Till her kind beams thy black to brightness turneth.

Follow her, while yet her glory shineth;
There comes a luckless night
That will dim all her light;
And this the black unhappy shade divineth.

Follow still, since so thy fates ordained;
The sun must have his shade,
Till both at once do fade,
The sun still proud, the shadow still disdained.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما بازاري مېرمني نه خوښېږي

Thomas Campion

د هغو ښکلو په تلاش کي نه یم

چي لوبېدلي د زلمو سره وي

زه کلیوالي ساده نجوني غواړم

چي نا اشنا له ویښو شپو سره وي

هغه له خپلي ښکلا ښکلي نجوني

هغه ساده هغه د کلي نجوني

چي کله زه ورنه خولګۍ وغواړم

وایي د خدای پار دی بدنامه دي کړم

چي کله زما سي زه یې غېږ کي نیسم

نه وایي دا چي نا ارامه دي کړم

هغه د کلي ساده دنګي نجوني

درته به ګل راوړي ګلونه غواړي

ښاري نجلۍ د خپلي میني بدل

د سرو طلاوو بارانونه غواړي

دا بازاري ښکلي مي نه دي په کار

چي د طلا په تاله زړونه پلوري

زه د هغو ښکلیو څېرو مین یم

چي نه نازونه نه ځانونه پلوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي زه ورنه خولګۍ وغواړم

وايي د خدای پار دی بدنامه دي کړم

چي کله زما سي زه يې غېږ کي نيسم

نه وايي دا چي نا ارامه دي کړم

پرېږده دا ښکلي بازاري مېرمني

د بېګانه پر بالښتونو ويدې

غواړم د ولو د ويالو ښکلي مي

په شنو وښو کي پر برګونو پرتې

هغه د کليو په مېوو لوی سوي

هغه په شاتو او شيدو لوی سوي

چي کله زه ورنه خولګۍ غواړمه

وايي د خدای پار دی بدنامه دي کړم

چي کله زما سي زه يې غېږ کي نيسم

نه وايي دا چي نا ارامه دي کړم

Thomas Campion

I care Not for These Ladies

I care not for these ladies

That must be wooed and prayed;

Give me kind Amaryllis,

The wanton country maid

Nature Art disdaineth;

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Her beauty is her own.

Her when we court and kiss

She cries, "Forsooth, let go!"

But when we come where comfort is,

She never will say no.

If I love Amaryllis,

She gives me fruit and flowers

But if we love these ladies

We must give golden showers.

Give them gold than sell love

Give me the nut-brown lass

Who when we court and kiss

She cries, "Forsooth, let go!"

But when we come where comfort is,

She never will say no.

These ladies must have pillows

And beds by strangers wrought;

Give me a bower of willows

Of moss and leaves unbought,

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



And fresh Amaryllis,

With milk and honey fed;

Her when we court and kiss

She cries, "Forsooth, let go!"

But when we come where comfort is,

She never will say no.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کليزه

John Donne

له هغې شپې چي مو لومړي ليدلي

میني مو يو د بل پر زړو کرلي

ټول پاچهان هغوی ته گران جنرالان

غښتان ، ښايسته او د وطن هوښياران

او خپله لمر چي جوړوي کلونه

يو کال زوړ سوی دی پر مخ د اسمان

له هغې ورځي بيا تر اوسه پوري

هر څه پر لور د تباهۍ دي تللي

يوازي زموږ مینه باقي پاته ده

حملې يې نه دي د قسمت منلي

نه سباوون او نه پرون پېژني

زموږ څخه نه ځي له زمان سره ځي

له لومړۍ ورځي بيا تر اوسه پوري

لکه روڼ ستوری له آسمان سره ځي

دا دوه غوږونه چي وعدې په اورو

د يوه بل د ناز گيلې په اورو

او دا دوې سترگي د مالگينو اوښکو

دا د روښانو بلورينو اوښکو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې جهانه بل جهان ته ور ورځو

دواړه د قبر و زندان ته وروړو

چې هديره کې پر بيديا پراته يو

د يوه بل څنګ ته تنها پراته يو

د قبر خاورې مو هډونه خوري

لا به په غېږ کې د بقا پراته يو

ارواح به تللې وي پر لور د اسمان

موږ به ژوندي ګرځو پر کور د اسمان

چې په قيامت مو سي ژوندي هډونه

په هغه ورځ به مو پيوند وي زړونه

لا به مو نوره هم زياتېږي مينه

لا به مو يو بل ته پسخېږي مينه

زه او ته دواړه يو په ژوند پاچهان

زموږ په څېر نسته په نړۍ کې شاهان

د هر چا له خپل رعيت وېره وي

د لوی واړه د خيانت وېره وي

موږ پاچاهانو سوګندونه کړي

د زړو د کور مو پيوندونه کړي

وېره د چا له خيانت نه لرو

د زړو په ژبه مو قولونه کړي

راځه چې پرېږدو مکرجنې وېرې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د ریشتیا هم دروغجني وېري

د زړه له کومي سره ګران سو دلته

د مرګ تر ورځې مینان سو دلته

راځه د زړونو پاچهي به کوو

ورك به حساب وي د هفتو کلونو

خپله دوهمه پاچهي به پیل کو

له نن نه وروسته په شپېتو کلونو

John Donne

The Anniversary

All kings, and all their favorites,

All glory of honours, beauties, wits,

The sun it self, which makes times, as they pass,

Is elder by a year now than it was

When thou and I first one another saw

All other things to their destruction draw,

Only our love hath no decay;

This no to-marrow hath nor yesterday

Running it never runs from us away

But truly keeps his first, last, everlasting day.

Two graves must hide thine and my crose

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



If one might death were no divorce
Alas ! as well as other princes, we
Who prince enough in one another be
Must leave at last in death these eyes and ears
Oft fed with true oaths, and with sweet salt tears
But souls where nothing dwells but love
All other thoughts being inmates � then shall prove
This or a love increased there above
When bodies to their graves, souls from their graves remove.

And then we shall be throughly blest;
But now no more than all the rest.
Here upon earth we�re kings, and none but we
Can be such kings nor of such subjects be.
Who is so safe as we? Where none can do
Treason to us, except one of us two
True and false fears let us refrain
Let us love nobly and live and add again
Years and years unto years, till we attain
To write threescore, this is the second of our reign.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ازانګه

Christina Rossetti

راځئ د شپې په خاموشي کې راسئ

راځئ له خوب سره مې وګړېږئ

سره اننګي د اوبو ډکي سترګي

راوړئ د خیال په تال کي وزنګېږئ

راځئ د لمر د پلوشو په رسم

پر مرغلینو اوبو وځلېږئ

راځئ له اوښکو سره ملو یادونو

تللیو د وصل پخوانو یادونو

یه زما خوږو خوبونو کله راځئ

چي ویښېده یې په جنت کي کېږي

چي زړونه راوړي پیمانې د میني

چي سترګي یو له بله نه مړېږي

ګورئ چي ورو ورو دروازه پرانیزئ

راځي پاتېږي بیرته نه ستنېږي

یو ځلي بیا مي تر خوبونو راسئ

چي د مرګي پر پوله ژوند وکمه

د میني کور ته تر خیالونو راسئ

چي په خپل ژوند درته سوګند وکمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته تازه کمه زاړه خیالونه

د اورنۍ میني پاخه یادونه

Christina Rossetti

Echo

Come to me in the silence of the night

Come in the speaking silence of a dream

Come with soft rounded cheeks and eyes as bright

As sunlight on a stream

Come back in tears

O memory, hope, love of finished years

Oh dream how sweet too sweet too bitter sweet

Whose wakening should have been in paradise

Where shouls brimfull of love abide and meet

Where thirsting longing eyes

Watch the slow door

That opening, letting in, lests out no more.

Yet come to me in dreams, that I may live

My every lift again through cold in death

Come back to me in dreams that I may give

Pulse for pulse, breath for breath:

Speak low lean low

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



As long ago, my love, how long ago!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستوري به لوېږي

A E Housman

ما ليدلي دي چي ستوري له اسمانه

يو په بل پسي رالوېږي او ورکېږي

خو سينه د شنه اسمان له ستورو ډکه

له ګرېوانه يې يو ستورى نه کمېږي

که هر څومره خلك يوسي زحمتونه

د زاړه زخم چاره نه سي کولاى

په سيندونو کي به اوري بارانونه

خو تروې اوبه يې نه سي خوږېدلاى

A. E. Housman

Stars

Stars, I have seen them fall

But when they drops and die

No stars is lost at all

From all the stars-sown sky.

The toil of all that be

Helps not the primal fault

It rains into the sea

And still the sea is salt.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژوندانه تغير

William Dunbar (1460 � 1513)

غواړم پوه سم چي دا څرنګه دنيا ده
څه عجيبه بې ثباته بې وفا ده
زړه مي غواړي چي يې پوه په افسانه سم
چي پر کوم لوري يې مخ پر کومه خوا ده
نه مي زور د عقل فکر په رسېږي
نه يې ژبه رامعلومه نه معنی ده
په ټول ژوند کي په يوه حقيقت پوه سوم
غولونکې دا نړۍ لار يې خطا ده
چي پرون مي څه ليدل ما به ويله
څه موسم دی هر څه ښکلي معلومېږي
لکه بڼه د طاووس هر څه رنګين دي
هم تازه هم يې رنګونه پورته کېږي
نن يې هر څه لکه زهر دي ترخه دي
پر وجود مي لکه نېښ هسي لګېږي
نه پوهېږم څه ژوندون دی څه يې راز دی
دوه رنګي يې په هر څه کي څرګندېږي
چي پرون به مي ليدې دستې د ګلو
نن يې جوړه قتلګاه ده په بوستان کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي سندري يې ويلې په ځنګلو کي

اوازونه يې وچ سوي دي په ځان کي

تر واورين برستن يې لاندي ځالګۍ دي

کور يې جوړ دی په تور تم په ګورستان کي

په هر اوړي پسي ژمی رارسېږي

د ګلونو قافلې دي خاوري کېږي

بيا موسم د پسرلي سي د ګلونو

بيا غونچې وي بيا به هر سهار غوړېږي

چي د نيمي شپې تياره پلو سي پورته

د آسمان له کنارو خوښي اورېږي

په خوښۍ پسي نوبت دی د غمونو

له غمونو سره لور د خوښۍ زېږي

له ازله چي جهان دی پيدا سوی

د رنګونو معمی ده چي چلېږي

William Dunbar (1460 � 1513)

Of the Change of Life

I seik about this warld unstabille

To find ane sentence convenabille

Bot I can nocht in all my wit

Sa trew ane sentence fynd of it

As say, it is dessaveabille.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



For yesterday I did declair
Quhow that the seasoun soft and fair
Com in als freche as pako fedder
This day it stangis lyk ane edder
Concluding all in my contrair.

Yisterday fair up sprang the flouris
This day thai ar all slane with schouris
And fowllis in forrest that sang cleir
Now walkis with a drery cheir
Full caild ar baith thair beddis and bouris.

So nixt to symmer wyntir bene,
Nixt efter confort, cairis kene
Nixt dirk mednycht the mirthfull morrow
Nixt efter joy aye cumis sorrow.
So is this warld and ay hes bene.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موږ اوس هم باور لرو

Alfred Lord Tennyson

موږ اوس هم په دې باور يو چې يو وخت به
دا د شر کړۍ د خير پر کور ختمېږي
دا د زور دا ګناهکاري ارادې به
لکه ويني پرېولل کېږي او هېرېږي
نه جهان کې سته ګامونه بې هدفه
نه د چا ژوندون بې هيڅه تباه کېږي
چې خالق هر څه تکميل دي پيدا کړي
له هستيه به څوک څرنګه نېستېږي
يو چينجی به څوک مړ نه کي بې اجله
نه بې ځايه پروانه په اور سوځېږي
او که سوځي حقيقت موږ ته معلوم دی
چې عوض به د لمبو ورته رسېږي
په دنيا کې بل په هيڅ شي خبر نه يو
دومره پوه يو چې د شر نوبت تېرېږي
پروا نسته که هر څو لاره اوږده ده
ژمی تل په زرغونه سپرلي بدلېږي
زه تل وينم دا خوبونه خو زه څوک يم؟
يو ماشوم يم نيمه شپه کې چې ژړېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ماشوم یم د رڼا دپاره ژاړم

نه په ژبه نه آرزو مي څوك پوهېږي

Alfred Lord Tennyson

Oh Yet We Trust

Oh yet we trust that somehow good
Will be the final goal of ill
To pangs of nature sins of will
Defects of doubts and taints of blood.

That nothing walks with aimless feet
That not one life shall be destroyed
Or cast as rubbish to the void
When God hath made the pile complete.

That not a worm is cloven in vain
That not a moth with vain desire
Is shriveled in a fruitless fire
Or but subserves another�s gain.

Behold we know not anything
I can but trust that good shall fall

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



At last-far off-at last to all

And every winter change to spring.

As runs my dream, but what am I?

An infant crying in the night:

An infant crying for the light:

And with no language but a cry.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تش لاسونه

Sir Walter Scott

سترګي نه کې ورته خلاصي چي د ښکليو جوپې راسي

ښور نه وخورې له خپل ځايه چي شاهان لښکري باسي

چي جامونه درته راوړي او سره مې پکښې ځليږي

ته يو ګوټ پر ځان حرام که چي هر څه پيالې تشېږي

که څه غوږ وي عالمونه ته به نه کوې خبري

پرېږده ښکلي سندرغاړي چي يې وانه وري سندري

سرې طلاوي دي انبار وي ته به نه ور وړې لاسونه

تش د زړه، د لاس، د سترګو همېشه لره کورونه

په آرامه دي ژوند تېر که په کراره څه خپل کور ته

چي خالي لاسونه راغلي ځه خالي لاسونه کور ته

Sir Walter Scott

Show lines

Look not thou no beauty�s charming

Sit thou still when kings are arming

Taste not when the wine � cup glistens

Speak not when the people listens

Stop thine ear against the singer

From the red gold keep thy finger

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Vacant heart and hand and eye

Easy live and quiet die.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښېمانه

Edna St Vincent Millay

لږ په زړه ومه غمګینه چي وړه ګناه مي کړې
تیاره خونه مي پیدا کړه سر تر پایه نم وهلې
ځان مي بند کړ په کوټه کي له غمونو په ژړا سوم
ما وې خدایه ژر مي مړه که توبه ګاره له ګناه سوم
پرېوتم پر وچه مځکه تودې اوښکي مي راتوی کړې
خدایه لیري مي له برخي د ګناه او خطا بوی کړې
خو پرهېز مي سو نیمګړی او توبه مي کړه ژر ماته
له تیارې کوټې مي ځان کړ د څراغ تتي رڼا ته
غم له اوښکو سره ولاړی زما وړه ګناه ویده سوه
شیطاني مغز کي بیرته د ګناه لمبه تازه سوه
راولاړه سوم رڼا ته ځان مي جوړ شونډې مي سرې کړې
توري زلفي مي کړې جوړې پر تندي مي راخورې کړې
چي يې زړه په منګول کش کړم چي ځوانان لاندي تېرېږي
خو په دې تیاره کوڅه کي لاروي نه معلومېږي
ما وې څه په زړه ناپاکه ژوندون څه بده نجلۍ کړم
خو که نه یمه پښېمانه شرنګ به پورته د خوښۍ کړم

Edna St Vincent Millay (1892 � 1950)

The Penitent

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



I had a little sorrow

Born of a little sin

I found a room all damp with gloom

And shut us all within

And �little Sorrow, weep,� said I,

�And, Little Sin, pray God to die,

and I upon the floor will lie

and think how bad I�ve been!�

also for pious planning

it mattered not a whit!

As far as gloom went in that room

The lamp might have been it!

My Little Sorrow would not weep

My Little Sin would go to sleep

To save my soul I could not keep

My graceless mind on it!

So up I got in anger

And took a book I had

And put a ribbon on my hair

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



To please a passing lad.

And �One thing there�s no getting by

I�ve been a wicked girl,� said I,

�But if I can�t be sorry, why,

I might as well be glad!�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Alfred Lord Tennyson

## د شپې سفر

چي لمر پټ د غرو تر شا سي

د ماښام ستوري ښکاره سي

زما نوبت سي زما نوم ياد سي

زما په نوم پورته ناره سي

نه به څوك راپسي ژاړي

نه به څوك تويوي اوښكي

چي زه وزم سمندر ته

په توپان كي چي مي شپه سي

موج راځي له سمندره

خوله يې ډكه له ځګونو

پر توپان يې اثر نه سي

د جهان د آوازونو

د ماښام سترګه ښكاره سوه

اوس پلو د شپې خپرېږي

چي روان سم له دې كوره

د چا زړه به نه شين كېږي

ما به يوسي توپانونه

د خوني سمندر خولې ته

ما به كش كي لوی موجونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د توپان تیاره سینې ته

خو چې زړه د سمندر ته

لاس ترلی ور وتلای

کښتۍ وان مو کشکي خدایه

یو ځل مخامخ لیدلای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دې انګورو شراب

Edna St Vincent Millay

زه شراب له دې انګورو جوړومه

شپه او ورځ به مې تر مرګه دغه کار وي

په انګورو به لړلې ګور ته ځمه

تر مرګې به مې دا ژوند او دغه لار وي

که دې زړه وي چې خواله راسره وکې

راسه راسه د انګورو په موسم کې

ما به وینې چې شراب ترې جوړومه

نه د ژوند او نه د مرګ به یم په غم کې

پر وجود مې نښتېځلي انګور کښېږده

ما تر مرګه په همدغه حال کې پرېږده

راته راوله درې ښځې د پرېوللو

خو چې پاك نه کې انګور زما په پرېوللو

چې ما پاکه د انګور له اوبو نه کې

تور عاشق ته زما وجود ور حواله کې

چې په لاس مې د مرګې د منګول ورکې

او هغه مې لځوي په خپل بستر کې

نو به پوه سې چې یو بل څوك دی راغلی

له ده مخکې تر بستره رسېدلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پاڅه سبا سو

Albert Edward Housman

هله پاڅه چي راپورته سپین سبا سو

له ساحله د تیارې لمن ټولېږي

د لمر سترګه راختلې په آسمان کي

له ختیځه څخه وړانګي راښکارېږي

د تیارې جامې څیري زریني وړانګي

مخ د مځکي د طلا په شان ځلېږي

پر آسمان د وړانګو تخت دی غوړېدلی

پاڅه وګوره خېمه د شپې څیرېږي

سترګي رونې که چي وخت د پاڅېدو دی

نغارې د سهار واوره چي ږغېږي

لویې لارې د کاروان په انتظار دي

وایي څوك د غرونو شاته ور تېرېږي

د سیالۍ میدان ته ووتل ښارونه

د آسمان پر لور یې پورته سول ږغونه

ځوانه پورته سه بری به د هغو وي

د رڼا سره چي ویښ وساتي زړونه

ځوانه پورته سه وخت نه دی د خوبونو

وړانګي نه دي د آرام د بالښتونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك چي ځانته نارينه او ژوندی وايي

ورځي نه بېګاه کوي پر بسترونو

د ختېين دېوال په برخه درېدل دي

د ژونديو ګرځېدل نفس ايستل دي

چي دي ختم سي دا سترړي سفرونه

د آرام دپاره پاته دي قرنونه

Download from: ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library